حرمين
رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# هغه څه چې مسلمان ترې باید ناخبره پاتې نه شي

مَا لَا يَسَعُ المُسْلِمَ جَهْلُهُ

بشتو

پښتو

مسجد حرام اور مسجد نبوی میں دینی امور کی صدارت کے ما تحت علمی کمیٹی

مَا لَا يَسَعُ المُسْلِمَ جَهْلُهُ

# هغه څه چې مسلمان ترې باید ناخبره پاتې نه شي

اللَّجْنَةُ العِلْمِيَّةُ

بِرِئَاسَةِ الشُّؤُونِ الدِّينِيَّةِ بِالمَسْجِدِ الحَرَامِ وَالمَسْجِدِ النَّبَوِيِّ

مسجد حرام اور مسجد نبوی میں دینی امور کی صدارت کے ما تحت علمی کمیٹی

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

# هغه څه چې مسلمان ترې باید ناخبره پاتې نه شي

## مقدمه

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على المبعوث رحمة للعالمين، وعلى آله وصحبه ومن استنَّ بسنته، واهتدى بهديه إلى يوم الدين، أما بعد:

دا لنډ پيغام دی چې د مسلمان لپاره د عقيدې، عبادتونو او معاملاتو اړوند تر ټولو ضروري مسايل پکې بيان شوي دي، موږ دا د حرمينو شريفينو زيارت کوونکو ته راټول کړي، تر څو د خپل دين په اړه پوهه او بصيرت ولري، له کريم او منان ذات څخه هيله لرو چې دغه پيغام ګټور او د خپلې رضا لامل وګرځوي، بېشکه هغه تر ټولو غوره هغه ذات دی چې غوښتنه ترې کيږي او تر ټولو سخي ذات دی چې هيله ترې کيږي.

د مسجد الحرام او مسجد النبوي د ديني چارو رياست، علمي څانګه

***

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

# لومړی څپرکی

## د عقيدې په اړه

**لومړی مبحث: د اسلام معنا او رکنونه يې:**

اسلام: په توحيد سره الله ته تسليميدل، او د اطاعت له لارې هغه ته غاړه ايښودل، او د شرک او د هغه له اهل څخه بې زاري ده.

اسلام پنځه رکنونه لري:

لومړی: ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته او محمد د الله رسول دی.

دويم: لمونځ کول.

دريم: زکات ورکول.

څلورم: د رمضان د مياشتې روژه نيول.

پنځم: د بيت الله الحرام حج ترسره کول د هغه چا لپاره چې توان يې ولري.

**د توحيد اهميت:**

پوه شه چې الله تعالى انسانان د دې لپاره پيدا کړي چې د هغه عبادت وکړي او هېڅ شی ورسره شريک نه کړي، الله تعالى فرمايلي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ۝٥٦﴾

(او ما پيريان او انسانان نه دي پيدا کړي مګر د دې لپاره

چې دوی زما عبادت وکړي). [الذاريات: ۵۶]، او په دې عبادت باندې پوهیدل یوازې د علم په واسطه کیدی شي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿فَٱعْلَمْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ وَٱسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَىٰكُمْ ١٩﴾

(نو ته پوه شه چې بېشکه شان دا دی چې د عبادت هېڅ لایق نشته مګر الله دی او د خپلې ګناه مغفرت وغواړه او د مومنو سړیو او مومنو ښځو لپاره هم، او الله ستاسو په ګرځېدنځی او اوسېدنځی عالِم دی) [محمد: ۱۹]، نو هغه د وینا او عمل دمخه پر پوهې باندې پیل وکړ، د یو مسلمان لپاره تر ټولو مهم شی چې باید زده یې کړي هغه د الله تعالی توحید دی؛ ځکه چې دا د دین اصل او بنسټ دی، ځکه چې دین نه قایمیږي مګر پر توحید باندې، او دا لومړی او اخري واجب څیز دی پر مسلمان باندې، او توحید د اسلام له رکنونو څخه لومړی رکن دی چې هر مسلمان باید پرې پوه شي او عمل پرې وکړي، او هغه پنځه رکنونه دي، لکه څنګه چې د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په حدیث کې راغلي دي، هغه فرمایلي: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې ویل یې:

«بُنِيَ الإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَحَجِّ البَيْتِ، وصَوْمِ رَمَضَانَ».

"اسلام په پنځو شیانو ولاړ دی: ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی، لمونځ قایمول، زکات ورکول، حج کول، او د رمضان د میاشتې روژه نیول".[1]

مسلمان لپاره د توحید معنی زده کول واجب دي، کوم چې د الله تعالی لپاره د عبادت خاص ګڼل دي، نو د هغه په عبادت کې هېڅوک نه شریکوي، نه نږدې ملایک او نه کوم رالیږل شوی پیغمبر.

## د " شهادة أن لا إله إلا الله، ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته" معنا:

هغه دا چې بنده په کلکه عقیده ولري چې پرته د الله عزوجل هېڅ بل حقیقي معبود نشته، نو هغه یوازې د الله عبادت کوي، او هغه تعالی د ټولو عبادتونو لپاره ځانګړی کوي؛ که هغه دعا، وېره، هیله، توکل او داسې نورو وي.

ګواهي ورکول نه محقق کیږي مګر په دوو رکنونو باندې:

لومړی: د الله څخه ما سوا د الوهیت او عبادت نفي کول، له ټولو شریکانو، معبودانو او طاغوتیانو څخه.

دویم: یوازې الله تعالی لره د الوهیت او حقیقي عبادت اثباتول، الله تعالی فرمایي:

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ...﴾

---

[1] بخاري په شمېره (۸) کې نقل کړی دی.

(او يقينًا يقينًا مونږ په هر يو امت کې يو رسول لیږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ). [النحل: ۳۶].

**او د (لا إله إلا الله) شرطونه دادي:**

لومړی: هغه علم چې جهل نفي کوي.

دویم: هغه یقین چې شک نفي کوي.

دریم: هغه اخلاص چې شرک نفي کوي.

څلورم: هغه ریښتونولي چې درواغ نفي کوي.

پنځم: هغه مینه چې کرکه نفي کوي.

شپږم: هغه تابعداري چې پرېښودل نفي کوي.

اووم: هغه قبولي چې رد کول نفي کوي.

اتم: پر هغه څه کفر کول چې له الله تعالی پرته یې عبادت کیږي.

او پر دې شرطونو باید عمل وشي، او دا شرطونه په لاندې دوو بیتونو کې راټول شوي دي:

علم، یقین، اخلاص او ستا رېښتینولي، سره له *** مینې، تسلیمېدو او منلو سره

او اتمه یې ستا کافرېدل پر *** هغو شیانو دي چې پرته له الله یې عبادت کیږي

د ګواهۍ محقق کېدل یوازې د الله تعالی په عبادت سره کیږي کوم چې هیڅ شریک نلري، او په اخلاص سره یوازې د الله لپاره په اخلاص سره عبادت کول دي، له الله پرته بل

ځوک نه را بلي، له الله پرته پر بل چا توکل نه کوي، له الله پرته له هیچا څخه هیله نکوي، له الله پرته بل چا ته لمونځ نه کوي، او له الله تعالی پرته بل چا ته قرباني او ذبحه نه کوي.

هغه څه چې ځینې خلک یې ترسره کوي لکه قبرونو باندې طواف، او د قبرونو له اوسیدنکو څخه مرسته غوښتل، او له الله پرته له هغوی څخه څه دعا او غوښتنه کول؛ دا ټول په عبادت کې شرک کول دي، نو د دې مواردو په هکله باید محتاط واوسو او خبرداری ورکړو؛ ځکه چې دا هغه څه دي چې مشرکین یې د الله تعالی پرته د بتانو، ډبرو او ونو عبادت کوي. او دا هغه شرک دی چې کتابونه پرې نازل شوي او رسولان یې د خبرداري او ترې د منع کولو لپاره رالیږل شوي دي.

**ددې ګواهۍ معنا چې محمد د الله رسول دی:**

د هغه اطاعت کول په هغه څه چې هغه یې امر کړی او پر هغه څه چې خبر ورکوي تصدیق کول، او له هغه څه څخه یې چې منع او خبرداری ورکړی ډډه کول، او د الله عبادت نه کول پرته له هغې طریقې چې هغه حکم کړی وي. نو مسلمان دا اقرار کوي چې محمد بن عبدالله القرشي الهاشمي: د ټولو مخلوقاتو (پیریانو او انسانانو) لپاره د الله رسول دی، لکه ځنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿قُلۡ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا...﴾

(ووایه: اې خلکو! زه تاسو ټولو ته د هغه الله رسول یم ...) [الأعراف: ۱۵۸].

او دا چې الله د دې لپاره رالېږلی چې د هغه دين ورسوي او خلکو ته لارښوونه وکړي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةٗ لِّلنَّاسِ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٢٨﴾

(او ته نه يې لېږلی مونږ مګر د ټولو خلقو (انسانانو) لپاره زېرى ورکوونکی او وېروونکی او لېکن اکثره خلق نه پوهېږي). [سبأ: ٢٨]. او لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٠٧﴾

(او مونږ ته نه يې لېږلې مګر د عالمونو لپاره رحمت). [الأنبياء: ١٠٧].

د دې ګواهۍ تقاضا دا داه چې: داسې عقيده درلودل چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د ربوبيت حقدار نه دی او نه په کايناتو کې تصرف لري او نه د عبادت حقدار دی، بلکې هغه ﷺ هغه بنده دی چې عبادت يې نه کيږي، او هغه رسول دی چې درواغ نه ګڼل کيږي، هغه د ځان او نورو لپاره د ګټې او ضرر هيڅ واک نه لري مګر هغه څه چې الله يې وغواړي. لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ إِنِّي مَلَكٌۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۚ...﴾

(ته ووايه، زه تاسو ته نه وايم چې ما سره د الله خزانې دي

او نه زه عالم الغيب يم او نه زه تاسو ته دا وايم چې ښځه زه ملايک يم، زه پَيروي نه کوم مګر د هغه شي چې ما ته وحي کولی شي). [الأنعام: ٥٠].

## دويم مبحث: د ايمان معنا او رکنونه يې:

ايمان: په زړه اقرار، په ژبه وينا، په زړه او اندامونو سره عمل کول، په اطاعت سره زياتيږي او په نافرمانۍ سره کميږي.

ايمان د عباداتو د صحت او قبليدو شرط دی، او څرنګه چې شرک او کفر ټول عبادات لمنځه وړي، لکه څرنګه چې الله تعالی پرته له اودس څخه لمونځ نه قبلوي، همدا ډول له ايمان پرته عبادت هم نه قبليږي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ نَقِيرٗا ١٢٤﴾

(او چې چا هم د نېکيو عمل وکړ، نر وي يا که ښځه، خو چې مومن وي، نو دغه خلق به جنت ته داخليږي او پر دوی به د کجورې د زړي د داغ هومره ظلم هم نه کيږي). [النساء: ١٢٤].

دا يې بيان کړل چې شرک عمل لمنځه وړي، څرنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ

لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَـٰسِرِينَ ﴿٦٥﴾

(او يقينًا يقينًا تا ته وحي كړى شوې ده او هغو كسانو ته چې له تا نه مخكې وو (داسې چې) قسم دى كه تا شرك وكړ (نو) ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي او ته به خامخا لازمًا له تاوانيانو څينې شې). [الزمر: ۶۵].

د ايمان شپږ ركنونه دي: پر الله، د هغه پر ملائكو، د هغه پر كتابونو، د هغه پر رسولانو، د آخرت په ورځ او تقدير په خير او شر ايمان لرل دي.

## ۱) په الله -تعالى- ايمان درلودل، او دا درې كارونه ته شامليږي:

### ۱- د الله په ربوبيت ايمان لرل:

او هغه د الله تعالى يووالى دى، د هغه په افعالو كې؛ لكه پيدا كول، روزي وركول، ژوندي كول او مړكول، نو له الله پرته بل هيڅ خالق او روزي وركوونكى نشته، پرته له الله ژوندى كوونكى او مړ كوونكى نشته، او په كايناتو كې له هغه سبحانه و تعالى پرته بل څوک تصرف نشي كولى.

هيڅ كوم مخلوق د الله تعالى د ربوبيت څخه انكار نه دى كړى، پرته له دې چې هغه تكبر كړى وي او په هغه څه چې وايي عقيده ونلري، لكه څرنګه چې د فرعون په اړه پيښ شول، كله يې چې وويل:

﴿...أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَى﴾

(زه ستاسو رب يم، تر ټولو اوچت (رب)). [النازعات:

٢٤]، مګر دا خبره د هغه د عقيدې پر بنياد نه وه، لکه څنګه چې الله تعالی د موسی علیه السلام په اړه فرمايلي دي:

﴿قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّى لَأَظُنُّكَ يَٰفِرْعَوْنُ مَثْبُورًا ١٠٢﴾

(ويې ويل: يقينًا يقينًا ته پوهېږې (په زړه کې) چې دا (نهه معجزې) نه دي نازلې کړې مګر د اسمانونو او ځمکې رب، په داسې حال کې چې دليلونه دي، او بېشکه زه خامخا هرومرو په تا باندې ای فرعونه! د هلاك شوي يقين کوم). [الإسراء: ١٠٢]، او الله - تعالی - فرمايلي دي:

﴿وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا... ﴾

(او دوی له دغو (معجزو) نه انکار وکړ، د ظلم او سرکشۍ په وجه، حال دا چې د دوی نفسونو په دغو يقين کړی و) [النمل: ١٤].

نو دغه مخلوق بايد يو خالق ولري، ځکه مخلوق په خپله خپل ځان نه شي پيدا کولی؛ ځکه چې شی پخپله نه جوړيږي، او هيڅ امکان نه لري چې ناڅاپه پيدا شي؛ ځکه چې هر پيدا شوی بايد پيدا کوونکی ولري، او دا ځکه چې د دې مخلوق موجوديت په زړه پورې سيستم، تنسيق او همغږي ددې خبرې مخه نيسي چې دا به يو تصادفي کار وي، نو دا د دې خبرې پخلی کوي چې دا بايد يو خالق ولري، چې هغه رب العالمين الله تعالی دی، الله تعالی فرمايي:

﴿أَمْ خُلِقُوا۟ مِنْ غَيْرِ شَىْءٍ أَمْ هُمُ ٱلْخَٰلِقُونَ ٣٥ أَمْ خَلَقُوا۟

ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾

(ایا دوی بې له څه شي پیدا کړی شوي دي، یا هم دوی، پخپله پیدا کوونکي دي؟

ایا دوی اسمانونه او ځمکه پیدا کړي دي؟ بلکې دوی یقین نه کوي). [الطور: ٣٥-٣٦].

مشرکانو به د الله تعالی په ربوبیت اعتراف کاوه، په داسې حال کې چې دوی د الله سره په الوهیت کې شرک کاوه، نو هغوي پدې کار سره و نه توانیدل چې په اسلام کې داخل شي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغوی سره جګړه وکړه، او د هغوی وینه او مال یې حلال وګرځاوه؛ ځکه چې هغوی په عبادت کې شرک کړي و، نو هغوی له الله تعالی پرته د مخلوق عبادت کاوه، لکه بتان، ډبرې، پرښتې او داسې نور.

**2- د الله پر الوهیت ایمان لرل:**

د هغه په الوهیت ایمان لرل، یعنې: هغه یوازې او یو ریښتینی الله دی چې هیڅ شریک نلري.، او (إله) د (مألوه) په معنا ده، یعني (معبود او د عبادت وړ) د مینې، تعظیم او عاجزۍ له مخې.

الله تعالی فرمایي:

﴿وَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦٣﴾﴾

(او ستاسو حق معبود یو معبود دی، هېڅ لایق د عبادت نشته مګر یواځې هغه دی چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی). [البقرة: ١٦٣].

او هر هغه څوک چې له الله تعالی سره بل څوک په عبادت کې شریکوي نو د هغه الوهیت باطل دی، الله تعالی فرمایي:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلْبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْعَلِيُّ ٱلْكَبِيرُ ۝٦٢﴾

(دغه په دې سبب چې بېشکه الله، هم دی حق دی او دا چې بېشکه هغه چې دوی یې له هغه (الله) نه غیر بولي، همغه باطل دی او دا چې بېشکه الله، هم دی ډېر اوچت، ډېر لوی دی). [الحج: ٦٢].

له همدې امله د نوح څخه تر محمد صلی الله علیه وسلم پورې رسولانو خپل قوم ته د الله تعالی د وحدانیت او یووالي بلنه ورکوله چې یوازې د هغه تعالی عبادت وکړي، او الله تعالی د مشرکینو هغه معبودان چې د الله تعالی سره یې د هغوی عبادت کولو او له هغوی څخه یې مرسته او امداد غوښته په دوو عقلي دلیلونو سره باطل کړل:

لومړی: په دې معبودانو کې چې هغوی د ځان لپاره غوره کړي وو داسې څه نشته چې د الوهیت ځانګړنې ولري، هغوی پیدا مخلوق دي، خلقت نشي کولی، او خپلو عبادت کوونکو ته کومه ګټه نه رسوي، او نه د هغوی څخه د ضرر مخنیوی کولی شي، او د ژوند، مرګ او بیا راژوندي کولو واک نه لري، څرنګه چې الله تعالی فرمایي:

﴿وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً لَّا يَخْلُقُونَ شَيْـًٔا وَهُمْ يُخْلَقُونَ وَلَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا وَلَا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَلَا حَيَوٰةً وَلَا

نُشُورًا ﴿٣﴾

(او دوی (کفارو) له هغه نه غیر نور داسې معبودان نیولي دي چې هېڅ شی نشي پیدا کولی، په داسې حال کې چې دوی پیدا کړی شوي دي او دوی د خپلو ځانونو لپاره نه د ضرر مالکان دي او نه د نفعې او نه د مرګ اختیار لري او نه د ژوند او نه د بیا ژوندي کولو). [الفرقان: ۳].

دویم: دا چې دغو مشرکانو دا اقرار کاوه چې الله تعالی یوازنی خالق او تدبیر کوونکی دی، له هغه پرته بل څوک نشته، او دغه عقیده ددې غوښتنه کوي چې هغوی الله په وحدانیت سره وپیژني څرنګه یې چې په ربوبیت سره پیژندلی دی، څرنګه چې الله تعالی فرمایي:

﴿قُل لِّمَنِ ٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٨٤﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٨٥﴾ قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبۡعِ وَرَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٨٧﴾ قُلۡ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٨٨﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ فَأَنَّىٰ تُسۡحَرُونَ ﴿٨٩﴾﴾

((ته (دوی ته) ووایه: دا ځمکه او څوك چې په دې کې دي، د چا دي؟ که چېرې تاسو پوهېږئ.

دوی به یقینًا ووایي: خاص د الله لپاره دي، (نو ورته) ووایه: ایا نو تاسو پند نه اخلئ!

ته (دوی ته) ووایه: د اوو اسمانونو او د ډېر لوی عرش

رب ځوك دى.

دوى به ضرور ووايي: د الله لپاره دي، ته (ورته) ووايه: ايا نو تاسو نه وېرېږئ!

ته (دوى ته) ووايه: ځوك دى هغه ذات چې د هغه په لاس كې د هر شي پاچاهي ده او هغه پناه وركوي او د هغه په خلاف پناه نشي وركول كېدى كه چېرې تاسو پوهېږئ.

خامخا به دوى ووايي: خاص د الله لپاره دي. ته (ورته) ووايه: نو څنګه په تاسو جادو كولى شي؟ [المؤمنون: ۸۴-۸۹] كه دوى توحيد ربوبيت باندې اقرار وكړي؛ نو دوى ته لازمه ده چې يوازې د هغه تعالى عبادت وكړي او په عبادت كې له هغه سره بل ځوک شريک نه كړي.

**۳- په اسماو او صفاتو باندې ايمان لرل:**

يعنې هغه څه ثابتول چې الله تعالى په خپل كتاب كې د ځان لپاره ثابت كړي دي، او يا رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل سنت كې دا خبره تاييده كړې وي؛ له نومونو او صفتونو څخه، په داسې شكل چې د الله تعالى سره ښايي، پرته له تحريف، تعطيل، تكييف، او يا مثال وركولو څخه، الله تعالى فرمايي:

﴿وَلِلَّهِ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ فَٱدْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا۟ ٱلَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِىٓ أَسْمَـٰٓئِهِۦ ۚ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ۝١٨٠﴾

(او خاص د الله لپاره تر ټولو ښكلي نومونه دي، نو تاسو الله په دغو (نومونو) سره بلئ او هغه كسان پرېږدئ چې د هغهٔ په نومونو كې الحاد (كوږوالى) كوي، ژر به هغوى ته د

هغو عملونو بدله (سزا) ورکړی شي چې هغوی به کول).
[الأعراف: ۱۸۰]، الله تعالی فرمايي:

﴿...لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾

(د هغه په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی). [الشوری: ۱۱].

د شرک درې ډولونه دي:

۱- لوی شرک.

۲- کوچنی شرک.

۳- پټ شرک.

۱- لوی شرک:

د هغه څرنګوالی دا دی چې: له الله پرته نور د الله سره په هغه څه کې چې د الله له ځانګړتياوو څخه دي برابر کړي.
څرنګه چې الله تعالی فرمايي:

﴿إِذۡ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٩٨﴾

(کله چې مونږ تاسو له رب العالمين سره برابرولئ).
[الشعراء: ۹۸].

او هغه دا چې: له الله تعالی پرته د بل څيز عبادت وشي، او يا دا چې ځيني عبادتونه له الله تعالی پرته نورو ته وشي، لکه دعا، مرسته غوښتل، نذر، قرباني او داسې نور د عبادت ډولونه.

او يا دا چې په هغه کې: حلالول د هغه څه چې الله تعالی حرام کړي وي شامل کړي، يا د هغه څه حرامول چې الله

حلال کړي وي، یا د هغه څه پریښودل چې الله تعالی واجب ګرځولی وي، لکه د هغه څه اجازه ورکول چې په دین کې په کلکه د هغه تحریم راغلی وي؛ لکه د زنا، شراب، د مور او پلار نافرماني، سود او داسې نورو شیانو حلال ګرځول.

او یا د هغو نعمتونو حراموول چې الله حلال ګرځولی وي؛ او د هغه څه پریښودل چې الله واجب ګرځولی وي؛ لکه داسې عقیده لرل چې ګواکې لمونځ فرض ندی، یا روژه فرض نده، یا دا چې زکات فرض ندی.

او لوی شرک د عمل د باطلیدو سبب ګرځي او که څوک پر هغه باندې مړ شي په اور کې به تل پاتې وي. الله تعالی فرمایي:

﴿...وَلَوۡ أَشۡرَكُواْ لَحَبِطَ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾

(او که چېرې هغوی شرک کړی وَی (، نو) له هغوی نه به خامخا ضایع شوي وو هغه عملونه چې دوی به کول). [الأنعام: ۸۸].

او دا چې څوک په دې باندې مړ شي، الله تعالی به هغه نه بخښي او جنت ورباندې حرام دی الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ...﴾

(بېشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوك) شریک کړی شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرک) نه کمه وي د چا لپاره چې وغواړي ...). [النساء: ٤٨] الله تعالی

فرمايي:

﴿إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُ...﴾

(بې شکه څوک چې الله سره شريک نيسي نو يقيناً الله جنت ورباندي حرام کړی، او استوګنځی به يې اور وي) [المائدة: ۷۲].

۲- کوچنی شرک:

هغه دا چې په نصوصو باندې ثابته شوې وي چې دا شرک دی، خو د لوی شرک درجې ته نه وي رسېدلی، نو لدې کبله دې ته کوچنی شرک وايي. لکه د الله تعالی پرته په بل چا قسم خوړل؛ لکه په کعبې، انبياوو، امانت، او د فلان ژوند او داسې نورو باندې قسم خوړل. لکه څنګه چې هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

«مَنْ حَلَفَ بِغَيرِ اللهِ فَقَدْ كَفَرَ أَو أَشرَكَ».

"څوک چې له الله پرته په بل چا قسم وخوري هغه کفر او يا شرک وکړ".[۱]

او ممکن چې هغه لوی شرک وي، د هغه څه له مخې چې د مالک په زړه کې وي، نو که په نبي او فلاني شيخ باندې د قسم خوړونکي په زړه کې داسې وي چې هغوی د الله په څير دي، يا د الله پر ځای بلل کيدلی شي، او يا دا چې هغوي پر

[۱] احمد په خپل مسند کې، شمېره (۶۰۷۲)، او ترمذي شمېره (۱۵۳۵) کې نقل کړي دي، او وايي: حديث حسن دی.

کائناتو تصرف کولی شي؛ نو دلته هغه لوی شرک ترسره کړی، خو که څوک له الله پرته په بل څه قسم وکړي او داسې قصد و نلري، بلکې له دې نیت پرته یې په ژبه باندې پېښ شوی وي، ځکه چې هغه ورسره عادت شوی دی؛ نو پدې حالت کې یې کوچنی شرک ترسره کړی، دا کار په ځینو سیمو کې ډېر پیښیږي، نو د توحید د ساتنې او حمایت لپاره ورته مسایلو ته توجه کول او له هغو څخه خلکو ته خبرتیا ورکول واجب دي.

٣- خفي (پټ) شرک:

دا هر هغه څه دي چې په زړونو کې کومه ریا وي؛ لکه څوک چې لمونځ کوي او یا (قران) لولي تر څو یې خلک ووینې، او یا تسبیح وایي (ذکر کوي) او یا صدقه ورکوي ترڅو یې خلک ستاینه وکړي، او دغه شرک هغه عمل لمنځه وړي چې په هغه کې ریا ترسره شوی وي، پرته له نورو عملونو څخه چې هغه یې خاص الله ته ترسره کړی وي.

هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«الشِّرْكُ فِي هَذِهِ الْأُمَّةِ أَخْفَى مِنْ دَبِيبِ النَّمْلَةِ السَّودَاءِ عَلَى الصَّفَاةِ السَّودَاءِ فِي ظُلْمَةِ اللَّيْلِ، وَكَفَّارَتُهُ أَنْ يَقُولَ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أُشْرِكَ بِكَ شَيْئًا وَأَنَا أَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ مِنَ الذَّنْبِ الَّذِي لَا أَعْلَمُ».

"په دې امت کې شرک داسې دی لکه د شپې په تیاره کې د تور میګي ګرځیدا په توره ډبره باندې، او کفاره یې دا ده

چې ووايي: يا الله زه تا ته پناه وړم له هغه څه څخه چې تاسره څه شريک کړم په داسي حال کې چې زه پوهيږم، او زه له تا څخه د هغه ګناه بخښنه غواړم چې زه نه پوهيږم".[1]

د کفر ډولونه:

لومړی ډول: لوی کفر:

دا په دوزخ کې د تل پاتې کيدو لامل دی، او په پنځه ډوله دی:

۱- د تکذيب کفر:

دا هغه عقيده ده چې پيغمبران درواغ ګڼي، او دا په کافرانو کې لږ دی؛ ځکه چې الله تعالی د خپلو پيغمبرانو ملاتړ په ښکاره دليلونو سره کړی، مګر د دغو منکرانو حالت داسې دی لکه څنګه چې الله تعالی بيان کړی دی:

﴿وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا...﴾

(او دوی له دغو (معجزو) نه انکار وکړ، د ظلم او سرکشۍ په وجه، حال دا چې د دوی نفسونو په دغو يقين کړی و). [النحل: ۱٤].

۲- د انکار او تکبر کفر:

دا د ابليس د کفر په څېر دی، ځکه چې هغه د الله له امر څخه انکار نه و کړی، بلکې په غرور او تکبر سره يې ځواب ورکړ، الله تعالی فرمايي:

---

[1] بخاري په الأدب المفرد شمېره (۷۱۶)، او احمد په المسند شمېره (۱۹۶۰۶)، او ضياء المقدسي په الأحاديث المختارة (۱/ ۱۵۰) کې نقل کړي دي، او الباني په صحيح الجامع الصغير شمېره (۳۷۳۱) کې صحيح بللی دی.

﴿وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰ وَٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٣٤﴾

(او کله چه مونږ ملایکو ته وویل: ادم ته سجده وکړئ، نو هغوی سجده وکړه خو ابلیس نه، هغه انکار وکړ او تکبر يې وکړ، او هغه و له کافرانو څخه). [البقرة: ٣٤].

٣- د مخ گرځولو کفر :

داسې چې هغه د حق له پیروی څخه خپل غوږ او زړه بلې خوا ته وگرځوي، هېڅ ورته پام و نکړي، او ارزښت ورنکړي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ ثُمَّ أَعۡرَضَ عَنۡهَآۚ إِنَّا مِنَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ٢٢﴾

(او څوک دی لوی ظالم له هغه چا نه چې هغه ته د خپل رب په ایتونو سره پند ورکړی شي، بیا هغه له دغو (ایتونو) نه مخ وگرځوي، بېشکه مونږ له مجرمانو نه انتقام اخیستونکي یو). [السجدة: ٢٢].

هر چې جزوي مخ گرځول دي؛ دا کفر ندی بلکې فسق دی، لکه څوک چې د دین د ځینو واجباتو له زده کړې څخه مخ وگرځوي؛ د روژې او حج او داسې نورو احکامو څخه.

٤- د شک کفر:

دا پر حق باندې تردد او زړه نا زړه اوسیدل دي، بلکې په حق باندې شک کوي، لکه څنگه چې د هغه تعالی په دې وینا کې راغلي دي:

﴿وَدَخَلَ جَنَّتَهُ وَهُوَ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ قَالَ مَا أَظُنُّ أَنْ تَبِيدَ هَذِهِ أَبَدًا ﴿٣٥﴾ وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً وَلَئِنْ رُدِدْتُ إِلَى رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِنْهَا مُنْقَلَبًا ﴿٣٦﴾﴾

(او دی خپل باغ ته داخل شو، په داسې حال کې چې پر خپل ځان ظلم کوونکی و، ويې ويل: زه ګمان نه کوم چې دا (باغ) به کله هم هلاك (او خراب) شي).

(او زه ګمان نه کوم چې قيامت قايمېدونکی دی او قسم دی که (بالفرض) زه خپل رب ته بوتلی شوم، نو خامخا هرومرو به زه له دې (باغ) نه غوره د بېرته ورتلو ځای ومومم. [الكهف: ٣٥-٣٦].

٥- د نفاق کفر:

دا هغه دی چې په ژبه ايمان ښکاره کوي او په زړه کې د هغه تکذيب پټوي، الله تعالی فرمايي:

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَمَا هُم بِمُؤۡمِنِينَ ﴿٨﴾﴾

(او په خلقو کې ځينې هغه څوک دي چې وايي: مونږ پر الله او د اخرت پر ورځ ايمان راوړی دی، حال دا چې دوی له سره مومنان نه دي). [البقرة: ٨].

دا د لوی کفر ډولونه دي چې انسان له دين څخه خارجوي.

دوهم ډول: کوچنی کفر:

دا ډول په دوزخ کې د تل پاتې کيدو لامل نه ګرځي، دا هغه

څه دي چې په قرآن او سنتو کې ورته کفر ویل شوي چې په الف او لام باندې معرف شوی نه وي، بلکې په نکرې ډول ذکر شوی وي، پدې اړه ډېر مثالونه شتون لري، له هغې جملې څخه: د ابوهریره رضي الله عنه حدیث دی چې فرمايې، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«اثْنَتَانِ فِي النَّاسِ هُمَا بِهِمْ كُفْرٌ: الطَّعْنُ فِي النَّسَبِ، وَالنِّيَاحَةُ عَلَى المَيِّتِ».

«په خلکو کې د کفر دوه خویونه دي چې یو یې د خلکو د نسب پسې سپکې سپورې ویل او بل یې په مړو فریاد کول دي».[١]

### 2) پر ملايكو ايمان :

او دا غیبي نړۍ ده، الله تعالی هغوی له رڼا څخه پیدا کړي دي، او هغوی د الله تعالی عبادت کوونکي دي، او هغوی لره د ربوبیت او الوهیت له ځانګړتیاو څخه هیڅ څه نشته، دوی د هغه څخه سرغړونه نه کوي چې الله ورته امر کړی وي. او هغه کړنې ترسره کوي چې امر ورته کړی شوی دی، هغوی یو لوی شمېر دی چې یوازې الله تعالی هغوی شمېرلی شي.

په ملائکو باندې ایمان لرل څلورو شیانو ته شاملیږي:

١- د هغوی په وجود ایمان لرل.

٢- په هغو نومونو باندې ایمان لرل چې موږ ته ښوول

---

[١] مسلم په شمېره (١٢١)، او احمد په المسند شمېره (١٠٤٣٤) کې نقل کړی دی.

شوي دي، لکه: جبرائيل، اسرافيل، ميکائيل او نور. او د هغو ملايکو چې موږ ته يې نومونه ندي ښوول شوي، په عمومي توګه په هغو باندې ايمان لرو.

۳- پر هغو صفاتو يې ايمان لرل کوم چې په قرآن او سنت کې ذکر شوي دي؛ لکه د جبريل صفت، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې هغه؛ هغه په داسې شکل کې وليد چې الله تعالى پيدا کړی و، شپږ سوه وزرونه يې درلودل او افق يې پوښلی و.

۴- د هغوی کوم عملونه چې موږ ته ښوول شوي ايمان پرې لرو: لکه د الله سبحانه وتعالى تسبيح بيانول، شپه او ورځ پرته له ستړيا او سستۍ څخه د هغه عبادت کول.

د مثال په توګه: جبرائيل: د وحی امانتدار.

او اسرافيل: د شپېلي (صور) د پو کولو مسوول.

او ملک الموت: د مرګ په رارسيدو سره د روحونو اخيستلو مسوول.

مالک: د اور ساتونکی. رضوان: د جنت ساتونکی، او داسې نور.

### 3) پر کتابونو ايمان:

له کتابونو څخه څه مراد: هغه آسماني کتابونه دي چې الله تعالى په خپلو رسولانو نازل کړي دي. د بشريت لپاره هدايت او د هغوی لپاره رحمت دي، ترڅو هغوی د دواړو جهانونو خوښيو ته ورسيږي.

په کتابونو باندې ايمان لرل څلورو شيانو ته شامليږي:

۱- په دې ایمان لرل چې واقعا هغه د الله له لوري نازلې شوي دي.

۲- په هغو نومونو ایمان لرل چې موږ ته لدې څخه ښوول شوي دي: لکه قرآن چې پر محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی، او تورات چې پر موسی علیه السلام نازل شوی دی، او انجیل چې پر عیسی علیه السلام نازل شوی دی، او زبور چې داود علیه السلام ته ورکړ شوی و.

او هغه کتابونه چې موږ ته یې نومونه ندي ښوول شوي، په عمومي توګه په هغو باندې ایمان لرو.

۳- د هغو د خبرو تصدیق کول؛ لکه د قرآن خبرې، او د هغو مخکنیو کتابونو خبرې چې تحریف شوي نه وي.

۴- په هغو احکامو عمل کول چې منسوخ شوي نه وي، او د هغو احکامو منل او قبلول، که د هغو په حکمت پوهیږو او یا نه پوهیږو. او ټول پخواني کتابونه د قرآن عظیم الشان په ذریعه منسوخ شوي دي. د پخوانیو کتابونو په هېڅ حکم باندې عمل کول جواز نلري پرته له هغه څه چې صحت ولري، او د قرآن کریم لخوا منظور شوی وي.

### 4) پر پېغمبرانو علیهم السلام ایمان :

پېغمبران د پېغمبر جمع ده او دا: هغه بشر دی چې پر هغه باندې شریعت نازل شوی او د هغه د رسولو امر ورته شوی وی. لومړنی یې نوح علیه السلام دی او وروستنی یې محمد صلی الله علیه وسلم دی. او هغوی پیدا کړل شوي انسانان دي، هغوی د ربوبیت او الوهیت هیڅ ځانګړنې نلري.

په کتابونو باندې ایمان لرل لاندې شیانو ته شاملیږي:

١- پر دې ایمان لرل چې د هغوی پیغام حق او د الله لخوا دی، او څوک چې له هغوی څخه د یو پر رسالت کفر وکړي هغه په ټولو باندې کفر کړی دی.

٢- پر هغو ایمان چې موږ ته یې نوم ښوول شوی دی، لکه: محمد، ابراهیم، موسی، عیسی او نوح علیهم السلام. او دوی د اولو العزم رسولانو څخه دي.

او هغه چې موږ ته یې نومونه ندي ښوول شوي، په عمومي توګه په هغو باندې ایمان لرو. الله تعالی فرمایي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ مِنۡهُم مَّن قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ وَمِنۡهُم مَّن لَّمۡ نَقۡصُصۡ عَلَيۡكَ...﴾

(او بېشکه موږ له تا مخکې هم رسولان لیږلي چې موږ یې تا ته د ځینو (حالات) بیان کړي او د ځینو مو نه دی درته بیان کړي...) [غافر: ٧٨].

٣- د هغه څه تصدیق کول چې له دوی څخه په مستند ډول - د هغوی علیهم السلام – له احوال څخه خبر ورکول شوی وي.

٤- د هغو کسانو په شریعت باندې عمل کول چې له هغوی څخه موږ ته رالیږل شوي دي، او هغه د هغوی وروستی محمد صلی الله علیه وسلم دی.

## 5) د آخرت په ورځ ایمان :

او هغه د قیامت ورځ ده چې خلک به د حساب او بدلې

لپاره راپورته کیږي، او - دا ورځ- په - آخرت - سره څکه یاده شوې ده چې: له هغې وروسته بله ورځ نشته؛ چې جنتیان به خپلو کورونو کې میشت شي او د دوزخ خلک به خپلو کورونو کې.

د آخرت په ورځ ایمان دریو شیانو ته شاملیږي:

**الف- پس له مرګه ژوندي کیدلو باندې ایمان لرل:**

هغه د مړو بیرته را ژوندي کیدل دي کله چې دویمه شپیلۍ کې پوکی وکړی شي، بیا به خلک د رب العالمین په وړاندې ودریږي، لوڅې پښې به وي، او په ځان کې به یې جامې نه وي، ختنه او سنت شوي به نه وي. الله تعالی فرمایي:

﴿كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ ١٠٤﴾

(لکه څرنګه چې مونږ د اول پیدایښت ابتدا کړې ده، مونږ هغه بیا اعاده کوو، دا زمونږ په ذمه وعده ده بیشکه مونږ کوونکي يو دې لره). [الأنبياء: ١٠٤].

**ب- په حساب او بدلې ایمان لرل:**

چیرته چې بنده سره د هغه د عمل محاسبه کیږي، او د هغه بدله ورکول کیږي، الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ إِلَيْنَآ إِيَابَهُمْ ٢٥ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ٢٦﴾

(بېشکه خاص مونږ ته د دوی بېرته راتګ دی. بیا یقینًا د دوی حساب زمونږ په غاړه دی). [الغاشية: ٢٥-٢٦].

**ج- په جنت او دوزخ ایمان لرل:**

او دا د مخلوق ابدي ځای دی: جنت د نعمتونو کور دی چې

الله تعالی د پرهيزګارانو او د هغه چا لپاره چمتو کړی چې د الله او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم اطاعت يې کړی وي، په هغې کې هغه څه دي چې نه سترګو ليدلي، نه غوږونو اوريدلي، او نه د انسان په زړه کې د هغې تصور شوی دی.

او اور چې دی؛ هغه د عذاب کور دی، کوم چې الله تعالی د کافرانو لپاره چمتو کړی، کوم چې له الله څخه منکر وي او د هغه د رسولانو نافرماني يې کړي وي. په هغې کې به د عذاب ډير ډولونه وي، کوم چې د هيچا په ذهن کې نه راځي.

### 6) د تقدير په خير او شر باندې ايمان :

او له تقدير څخه مراد: د الله تعالی تقدير او اندازه لګول د هغو شيانو چې په راتلونکي کې به پيښيږي د هغه څه مطابق چې هغه دمخه پوهيده او د هغه حکمت يې تقاضا کوله.

په تقدير باندې ايمان څلور شيان له ځانه سره لري:

١- پوهه: او هغه د الله تعالی په پوهې باندې ايمان لرل دي، چې هغه په دې پوهېده چې څه شويدي او څه به کيږي او څنګه به کيږي، په بشپړ ډول او تفصيل سره له ازله تر ابده پورې. او هغه سبحانه و تعالی په هر څه پوهيږي پر هغه څه چې ندي شوي که چيرته شوي وای نو هغه به څنګه وی؟ لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَلَوْ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنْهُ ...﴾

(او که چېرې دوی (دنيا ته) واپس کړی شي (، نو) دوی به هغه شي ته خامخا بيا وروګرځي، له څه نه چې دوی منع کړی شوي وو). [الأنعام: ٢٨].

٢- لیکنه: دا چې الله تعالی د قیامت تر ورځې پورې د هر څه اندازه لیکلې ده، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۗ إِنَّ ذَٰلِكَ فِى كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾﴾

(آیا ته نه پوهېږې چې یقینا الله تعالی پوه دی په هغه څه چې په اسمان کې دي او په زمکه کې دي، بېشکه دا ټول په کتاب (لوح محفوظ) کې دي، بېشکه دا په الله تعالی باندې آسان دي). [الحج: ٧٠].

٣- اراده: داسې عقیده لرل چې په کائناتو کې هیڅ شی نه پیښیږي پرته لدې چې الله تعالی یې وغواړي. الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ...﴾

(او ستا رب چې څه غواړي هغه پیدا کوي او غوره کوي یې...) [القصص: ٦٨]. د انسان اراده د الله له ارادې څخه انحراف نه کوي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایي:

﴿وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٩﴾﴾

(او تاسو د (د سمې لارې) اراده نشئ کولی مګر دا چې الله رب العلمین یې اراده وکړي). [التکویر: ٢٩].

٤- خلقت: داسې ایمان لرل چې الله تعالی مخلوق او د هغوی خیر او شر عملونه او کړنې پیدا کړي دي. الله تعالی فرمایي:

﴿ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ٦٢﴾
(الله د هر شي پيدا كوونكی دی او هغه په هر شي باندې نګران دی). [الزمر: ٦٢].

دغه مراتب په دې شعر كې راټول شوي دي:

زموږ د رب ليكنه، پوهه، او د هغه اراده *** او د هغه پيداكول چې جوړښت او پيداېښت دی

### دريم مبحث: احسان:

احسان: يو ركن دی؛ هغه دا چې د الله عبادت داسې وكړې لكه ته چې هغه وينې، او كه ته هغه نه وينې، هغه تاويني.

يعني: انسان د الله تعالی په عبادت كولو كې داسې څه وكړي لكه د الله په حضور كې چې ولاړ وي، او دا كار د هغه سبحانه و تعالی په وړاندې بشپړې ويرې او توبې ته اړتيا لري. او همدارنګه د رسول الله صلی الله عليه وسلم له سنتو سره سم عبادت كولو ته اړتيا لري.

احسان دوه درجې لري، او احسان كوونكي په احسان كې دوه ډوله دي:

لومړۍ درجه: او دا لوړه درجه ده، د مشاهدې درجه، هغه داسې چې كله بنده كوم كار ترسره كوي ګواكې هغه به خپل زړه كې الله عزوجل ويني، نو زړه يې د ايمان سره روښانه كيږي، تر هغه چې غيبي شيان ورته د ښكارو په څير شي.

دويمه درجه: د اخلاص او مراقبت درجه، هغه دا چې بنده په خپل عمل كې داسې فكر وكړي چې ما ګوري او زما په كړنې باندې باخبر دی، نو كله چې دا تفكر رامنځته شي دغه

کس الله تعالی ته مخلص دی.

## څلورم مبحث: د اهل سنت والجماعت د اصولو لنډه پیژندنه:

لومړی: د هغه څه متابعت چې په کتاب او سنت کې راغلي دي، په ظاهري او باطني لحاظ سره، او د هېڅ چا خبرې ته د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) په خبرو ترجیح نه ورکول.

دویم: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو په اړه د خپلو زړونو او ژبو ساتنه، او پدې نظر دي چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته خلیفه: ابوبکر، بیا عمر، بیا عثمان، بیا علي رضی الله عنهم اجمعین دي.

دریم: د رسول الله صلی الله علیه وسلم له کورنۍ سره مینه او همپالنه، او د هغه صلی الله علیه وسلم کورنۍ: په خاصه توګه نېکان په دوی کې.

څلورم: د امامانو او حاکمانو پر ضد قیام نه کول، که څه هم ظالمان هم وي، او هغوی ته د اصلاح او سلامتیا دعا کیدلی شي، او هغوی ته بنېرا و نه شي. او د هغوی اطاعت د الله د اطاعت څخه دی، او فرض دی، تر هغه چې دوی په ګناه امر نه وي کړی، او که هغوی د ګناه امر وکړي؛ نو په دې کې یې بیا اطاعت نشي کېدلی، او د هغوی اطاعت یوازې په ښو کارونو کې ترسره کیږي.

پنځم: د اولیاوو د کراماتو تصدیق کول: او دا: هغه څه دي چې الله تعالی د دوی په ذریعه خارق العاده کارونه ترسره

کوي.

شپږم: د اهل قبلې کسان په مطلقو نافرمانیو او لویو ګناهونو باندې نه کافرانوي، لکه څنګه چې خوارج یې ترسره کوي، بلکې ایماني ورورولي له ګناهونو سربیره هم پاتې کیږي. د ګناهکار په اړه وایي چې: هغه په خپل ایمان سره مؤمن دی، مګر د لوی ګناه له امله ګناهکار دی.

## دویم څپرکی: هغه څه چې عبادتونو سره تړاو لري

### *لومړی مبحث: طهارت -پاکوالی-:*

پاکوالی په لغت کې: نظافت او پاکي له حسي او معنوي پلیتیو څخه.

په اصطلاح کې: د بې اودسۍ لمنځه وړل او د ناپاکۍ لرې کول پاکوالی د لمانځه کیلي ده، نو له همدې کبله د پاکوالي زده کړه د دیني چارو له سترو کارونو څخه ده چې هر مسلمان یې باید زده کړي او ورته پاملرنه وکړي.

### لومړی: د اوبو ډولونه:

۱- پاکې (اوبه)؛ هغې سره پاکوالی کیږي، که هغه په خپل خلقت سره پاتې شوې وي؛ لکه د باران، سیندونو او سمندرونو اوبه، او یا ځانګړې پاکوونکې ماده ورسره مخلوط شوې وي چې په اوبو باندې غالبه نه وي او نه یې د اوبو نوم ورڅخه اخیستلی وي.

۲- ناپاکې (اوبه)؛ د هغې استعمال جواز نلري، بې اودسي لمنځه نه وړي، او نجاست نه لرې کوي او دا هغه (اوبه دي) چې د ناپاکۍ له امله یې رنګ، بوی یا خوند بدل شوی نه وي.

**دویم: نجاست:**

نجاست: دا مخصوص کثافت او پلیتي ده، ددې جنس د لمانځه مانع ګرځي؛ لکه تشې میتیازې، غټې میتیازې، وینه او داسې نور، او هغه په بدن، ځای او جامو کې وي.

اصل په ځیزونو کې: اباحت او پاکوالی دی. څوک چې د یو معین شي د نجاست ادعا کوي هغه باید دلیل راوړي. او دا ځیزونه نجس ندي لکه: بلغم، د انسان خوله، او د خره خوله، بلکې د اځیزونه پاک دي، که څه هم ګنده دي. او هر نجس ځیز پلېت دی خو هر پلېت شی نجس نه دی.

او نجاست درې درجې دی:

لومړی: لوی نجاست؛

لکه: د هغه څه نجاست چې سپي څټلی وي. او د هغه د پاکولو طریقه: د هغه اوه ځله مینځل دي، پداسې شکل چې لومړی په خاورو سره ومینځل شي.

دویم: خفیف (سپک) نجاست:

لکه: د تي رودونکي ماشوم میتیازې کله چې جامو ته ورسیږي او داسې نور. د پاکولو طریقه یې دا ده چې: تر هغه وخته پورې پرې اوبه وپاشل شي تر څو په اوبو کې پټ شي، ګرولو او مخښلو ته اړتیا نه لري.

دریم: متوسط نجاست:

لکه: د انسان ادرار او غټې میتیازې، او اکثره نجاستونه چې کله په ځمکه، کالېو او نورو باندې پرېوځي. او د پاکولو طریقه یې دا ده: که نجاست فزیکي شتون ولري نو باید چې له منځه یوړل شي او یا ناپاک شوي ځای په اوبو او یا د پاکیزګۍ

په نورو وسايلو سره پاک شي.
او د نجاست دليل يې دا دی:
۱- د انسان تشې او غټې ميتيازې.
۲- مذي او ودي.[1]
۳- د هغه (حيوان) خوشايي چې غوښه يې نه خوړل کيږي.
۴- د حيض او نفاس وينه.
۵- د سپي لياړې.
۶- مرداره، او له مردارې څخه لاندې شيان مستثنا دي:
الف- انسان چې کله مړ شي.
ب- مړه کبان او ملخان.
ج- هغه مړ شی چې وينه يې نه بهيږي؛ لکه مچان، ميږيان، مچۍ او داسې نور.
د- د مردارې هډوکي لکه: ښکر، نوکان، وېښتان او بڼکې.
د نجاست د پاکولو طريقه:
۱- په اوبو سره، او دا د نجاست د پاکولو اساس دی، نو بل څه ته ترې اوړېدل نه کيږي.

[1] (مذي): نرۍ او بې رنګه اوبه دی چې د مستۍ کولو، جماع رايادولو، او يا د جماع ارادې کولو او يا کتلو او يا نورو شيانو په ذريعه د څاڅکو په بڼه راوځي او کله کله يې راوتل هم نه حس کيږي.
ودي: هغه ټينګې او سپينې اوبه دي چې د تشو ميتيازو کولو او يا درانه شي د پورته کولو په وخت کې راوځي.

۲- هغه څه چې په شریعت کې د نجس او نجس کوونکي څیزونو د پاکوالي په اړه راغلي دي:

الف- د مړ شوي پوستکي د مخصوصو موادو په ذریعه پاکیږي.

ب- د لوښي پاکول که چیرې سپي څټلی وي؛ اووه ځلې باید ومینځل شي، لومړی په خاورو سره.

ج- د جامو پاکول کله چې د حیض وینه ورته ورسیږي؛ په مږلو، بیا لندولو او بیا زبېښلو سره او که لدې وروسته پرې د وینې کوم اثر پاتې وي باک نه لري.

د- د ښځې د جامو د لاندنۍ برخې پاکول؛ د ځمکې او یا پاکې خاورې په ذریعه.

هـ- د تي رودونکي ماشوم د تشو میتیازو څخه د جامو پاکول د اوبو په پاشلو سره کیږي ؛ او که ماشوم نجلۍ وي نو بیا وینځل کیږي.

و- د مذي څخه د جامو پاکول؛ په هماغه ځای باندې د اوبو پاشل.

ز- د بوټانو او څپلیو پاکول؛ پر پاکې ځمکې باندې د هغې موښل.

ح- ځمکه له نجاست څخه پاکول؛ د نجاست پر ځای باندې د اوبو یو سطل واړول شي او یا پرېښودل شي چې لمر یا باد یې وچ کړي، نو هر کله چې د نجاست اثر او داغ له منځه لاړ شي د نجاست ځای پاکیږي.

**دريم: هغه څه چې په بې اودس کس باندې حرام دي:**

هغه څیزونه چې د وړې بې اودسي لرونکي او یا لویې بې اودسۍ لرونکي باندې حرامیږي:

۱- فرضي او نفلي لمونځ: له هغه وجې چې له ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«لَا يَقْبَلُ اللهُ صَلَاةً بِغَيْرِ طُهُورٍ».

"الله تعالی له پاکوالي پرته لمونځ نه قبلوي".[1]

۲- د قرآن کریم لمس کول، لکه څنګه چې په هغه لیک کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم عمرو بن حزم ته لیکلی و، او په هغه کې یې داسې فرمایلي:

«لَا يَمَسُّ الْقُرْآنَ إِلَّا طَاهِرٌ».

"قرآن به نه لمس کوي مګر پاک کس".[2]

۳- د کعبې طواف، د هغه صلی الله علیه وسلم په دې وینا سره:

«الطَّوَافُ بِالْبَيْتِ صَلَاةٌ، إِلَّا أَنَّ اللهَ أَبَاحَ فِيهِ الْكَلَامَ».

"د کور (کعبې) طواف کول لمونځ دی، مګر دا چې الله

---

[1] مسلم، په شمېره (۲۲۴) کې نقل کړی.

[2] مالك په الموطأ شمېره (۶۸۰او ۲۱۹)، او دارمي په شمېره (۳۱۲) او عبدالرزاق په خپل مصنف په شمېره (۱۳۲۸) کې نقل کړي دي، او الباني په إرواء الغليل شمېره (۱۲۲) کې صحيح بللی دی.

په دې کې د خبرو اجازه ورکړې ده".[1] رسول الله صلى الله عليه وسلم د طواف لپاره اودس هم کړی دی، او له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په صحيح حديث کې راغلي دي چې هغه يوه حيض لرونکې ښځه د کور (کعبې) له طواف څخه منعه کړې وه تر څو چې هغه پاکه شي.

د هغه چا لپاره چې په ځانګړې توګه لوی نجاست ولري دغه څيزونه هغه باندې حرام دي:

۱- د قرآن تلاوت د علي رضى الله عنه د دې حديث له مخې: (هيڅ شی هغه نه منع کوي – يعنی رسول الله صلى الله عليه وسلم – د قرآن له تلاوت څخه، مګر جنابت).[2]

۲- پرته له اودسه په جومات کې پاتې کېدل؛ الله تعالى فرمايي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقْرَبُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمْ سُكَـٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعْلَمُواْ مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِى سَبِيلٍ حَتَّىٰ تَغْتَسِلُواْ...﴾

(ای مومنانو په داسې حال کې لمانځه ته مه نږدې کيږئ چې تاسو نيشه (يا مست) ياست، تر هغه پورې چې پوه شئ پر هغه څه چې تاسو يې وايئ، او (همداراز) نه په جنابت کې مګر دا چې لاروي ياست تر هغو چې غسل وکړئ...) [النساء: ٤٣].

---

[1] نسائي په شمېره (١٢٨٠٨)، او احمد په شمېره (١٥٤٢٣) کې نقل کړي دي، او الباني په إرواء الغليل په شمېره (١٢١) کې صحيح بللی دی.
[2] ابن ماجه په شمېره (٥٩٤)، او ابن حبان په شمېره (٧٩٩) کې نقل کړي دي، او الباني په سنن الترمذي په شمېره (١٤٦) ضعيف بللی دی.

نو کوم کس باندې چې لویه بې اودسي وي او اودس وکړي، د هغه لپاره په جومات کې پاتې کېدل جواز لري، او د هغه چا لپاره هم روا دي چې لویه بې اودسي ولري چې له جومات څخه تېر شي، پرته له دې چې په کې کېني.

**څلورم: د قضای حاجت آداب:**

د قضای حاجت په وخت کې مستحب دي:

١- له خلکو څخه لرې اوسېدل او ځان پټ ساتل.

٢- د ننوتلو پر مهال د مسنون ذکر ویل، او هغه دا دی:

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبْثِ وَالْخَبَائِثِ».

«اې الله زه تاته د نر او ښځینه شیطانانو له شر څخه پناه دروړم».[1]

او د قضای حاجت په وخت کې دغه څیزونه واجب دي:

١- له تشو میتیازو څخه پاکي.

٢- د عورت پټول.

د قضای حاجت په وخت کې دغه کارونه جواز نلري:

١- قبلې ته مخ یا شا اړول.

٢- د خلکو په لارو او عامه ځایونو کې قضای حاجت کول.

٣- په ولاړو اوبو کې میتیازې کول.

د قضای حاجت په وخت کې دغه څیزونه مکروه دي:

١- د قضای حاجت په وخت کې په ښي لاس د تناسلي آلې

---

[1] بخاري په شمېره (١٤٢)، او مسلم په شمېره (١٢٢) کې نقل کړی دی.

لمسول.

۲- په ښي لاس سره استنجا کول او اودس وچول.

۳- خبرې کول مکروه دي، په ځانګړې توګه د قضاء حاجت په وخت کې د الله تعالی ذکر او يادول.

**پنځم: د استنجا او اودس ماتي احکام:**

استنجا: د اوبو په ذريعه له دوو لارو د راوتلو څيزونو د اثر لرې کول.

او استجمار: له اوبو پرته له دوو لارو د بهر راوتونکو څيزونو د اثر لرې کول؛ لکه تيږې او کاغذي دسمال.

د اودس ماتي د څيزونو شرطونه:

۱- بايد (کارول) يې مباح وي.

۲- چې بايد پاک وي.

۳- بايد پاکوونکی وي.

۴- هغه بايد هډوکي او خوشايي نه وي.

۵- هغه بايد د احترام وړ څيز نه وي؛ لکه هغه کاغذونه چې د الله تعالی نوم پکې وي.

په استجمار په دوو شرطونو سره بسنه کيږي:

۱- بهر شوی څيز بايد د معمول ځای څخه تجاوز ونکړي.

۲- اودس ماتی بايد په دريو يا ډېرو پاکو تيږو ترسره شي.

**شپږم: د اودس احکام:**

اودس د دريو عبادتونو لپاره اړين دی:

۱- لمونځ؛ فرض وي که نفل وي.

۲- قرآن راخېستل.

۳- طواف.

د اودس شرطونه:

۱- اسلام.

۲- عقل.

۳- تمييز.

۴- نيت: چې ځای يې زړه، دی او ويل يې بدعت دی. او څوک چې غواړي اودس وکړي نو نيت يې کړی. ليکن د اودس د اندامونو مينځل د يخنی يا پاکوالي په نيت؛ اودس نه دی.

۵- د حکم استصحاب يا ملتيا: تر هغه وخته دې يې د ماتولو نيت نه کوي تر څو يې چې طهارت بشپړ شوی نه وي.

۶- د اودس د واجبوونکي قطع کيدل (لرې کېدل)، له هغو څخه مستثنا دي: څوک چې سلس البول، او يا مستحاضه وي.

۷- له هغه څخه مخکې استنجا يا استجمار د هغه چا لپاره چې تشې ميتيازې او غټې ميتيازې ورڅخه خارج شي.

۸- د اوبو پاکوالی او اباحت يې.

۹- د هغه څه لرې کول چې پوستکي ته د اوبو رسولو مخه نيسي.

۱۰- د لمانځه وخت داخلېدل د هغه چا لپاره چې دايمي بې اودسي ولري.

د اودس فرضونه:

۱- د مخ مينځل، په شمول د: مضمضې (خولې ته اوبه

اچول) او استنشاق (پوزې ته اوبه اچول).
۲- د لاسونو مينځل سره له څنګلو.
۳- د غوږونو په ګډون د ټول سر مسح کول.
۴- د پښو مينځل سره له ښنګرو.
۵- د اودس د اندامونو ترتيب.
۶- موالات (پرلپسې والی): د غړو تر منځ اوږده فاصله بايد نه وي.

د اودس طريقه:

۱- تسميه: بسم الله ويل.
۲- د لاسونو مينځل درې ځله.
۳- درې ځلې د مخ مينځل، په شمول د: مضمضې (خولې ته اوبه اچول) او استنشاق (پوزې ته اوبه اچول).
۴- تر څنګلو پورې د لاسونو مينځل درې ځلې، له ښي لاس څخه يې پيلوي او بيا چپ لاس مينځي.
۵- د غوږونو په شمول د سر مسح کول.
۶- د پښو مينځل له ښنګرو سره، درې وارې، له ښۍ پښې څخه يې پيلوي او بيا چپه پښه مينځي.

د اودس ماتونکي:

۱- هغه څه چې له دوو لارو څخه راوځي لکه: تشې ميتيازې باد او غټې ميتيازې.
۲- له بدن څخه په ډيره پيمانه ناپاک څيز راوتل.
۳- د خوب يا بل څه په ذريعه د عقل زوال کيدل.

۴- لاس سره د شرمګاه لمس کول - مخکنۍ یا وروستنۍ - پرته له پردې څخه.

۵- د اوښ غوښه خوړل.

۶- له اسلام څخه وتل - الله دې موږ او مسلمانان له دې څخه وساتي -

**اووم: په ماسیو او جرابو د مسحې کولو احکام:**

۱- ماسۍ: هغه څه چې د چرم او داسې نورو څیزونو څخه جوړیږي او په پښو کیږي.

۲- جورابې: هغه څه چې د وړۍ او پنبې څخه وي او په پښو کې اغوستل کیږي.

پرې د مسحې کولو شرطونه:

۱- له پوره پاکوالي وروسته دې واغوستل شي.

۲- چې دواړه پښې تر ښنګرو پورې وپوښي.

۳- چې دواړه پاکې وي.

۴- مسح باید د ټاکل شوي مودې لپاره وي.

۵- مسح کول باید د اودس په وخت کې وي نه د غسل په وخت کې.

۶- دا چې موزې او داسې نور څیز مباح وي، او که غصب شوی یا وریښم وي د نارینه و لپاره نو هغې باندې مسح کول روا نه دي، ځکه چې په حرامو شیانو باندې رخصت جواز نه لري.

د مسحې موده:

د مقیم لپاره: یوه ورځ او یوه شپه، او د مسافر لپاره: درې

ورځې او شپې.

د مسحې طريقه:

لاس بايد په اوبو سره لوند شي، او د جرابې يا ماسيو پورتنۍ برخه د پښو د ګوتو څخه تر ساق پورې يو ځل مسحه شي.

د مسحې باطلوونکې:

۱- د مسحې د مودې پای ته رسېدل.

۲- د يوې يا دواړو جرابو ايستل.

۳- د غټې بې اودسۍ پېښيدل.

په ماسيو باندې د مسحې کولو حکم:

دا يو رخصت دی، او دا کار ترسره کول د ماسيو د ويستلو او بيا د پښو مينځلو څخه غوره دی؛ د الله تعالی رخصت اخيستل، او د رسول الله صلی الله عليه وسلم پيروي کول، او د بدعت مخالفت ګڼل کيږي.

په پټيو، بنداژونو او پلسترونو مسح کول:

سپلنټونه (پټۍ او بنداژ): کوم چې پر ماتو شوو ځايونو تړل کيږي؛ د پلستر يا سيخونو او داسې نورو په څير.

او بنداژونه: کوم چې پر زخم، پرې شوي، يا سوځېدلي ځای باندې تړل کيږي؛ ټوکر او داسې نور.

او پلسترونه: کوم چې د درملنې لپاره په زخمونو يا پنډونو (دانو) باندې نښلول کيږي.

هغو باندې د مسح کولو حکم:

جواز لري: ترڅو چې ورته اړتيا وي، په دې شرط چې د ضرورت له ځای څخه تجاوز ونکړي.

او جواز نلري: کله چې هغو ته اړتیا نه وي، او د هغو په وېستلو کې ستونزه او ضرر نه وي.

هغو باندې د مسحې طريقه:

د هغې شاوخوا باید و مینځل شي، او له ټولو خواو څخه وربانديې مسح وشي، او د اودس له ځای څخه پرته نور ځایونه نه مسح کیږي.

**اتم: د تیمم احکام:**

تیمم: په خاصه طریقه د پاکوالي په نیت په خاورو سره د مخ او لاسونو مسح کول.

حکم یې:

د اودس او غسل پر ځای باید تیمم وشي، کله چې اوبه نه وي، او یا یې استعمالول ستونزمن وي.

د مشروعیت حکمت یې:

تیمم د محمد صلی الله علیه وسلم د امت له ځانګړنو څخه دی. او په تیرو امتونو کې دا معموله نه وه، دا د الله له خوا دې امت ته د پراخۍ له وجې څخه ده، او د هغه له خوا احسان دی پر دې امت باندې.

هغه حالتونه چې تیمم په کې جواز لري:

۱ـ کله چې اوبه نه وي، که په کور کې اوبه نه وي او یا په سفر کې، او کوشش وکړي چې پیدا یې کړي خو تر لاسه یې نه کړي.

۲ـ که له ځان سره اوبه ولري چې د څښاک او پخلي لپاره ورته اړتیا وي، نو که له هغه څخه د ځان پاکولو لپاره ګټه واخلي، د هغه ضرورت ته زیان رسوي، لکه د خپل ځان، یا

د نورو انسانانو او يا پاکو ځارويو له تندې وېره ورسره وي.

۳- که چيرې د ناروغۍ يا په رغيدو کې د ځنډ له امله د اوبو په استعمال سره بدن ته د ضرر ويره وي.

۴- کله چې د يوې داسې ناروغۍ له وجې اوبه نشي استعمالولی چې حرکت پکې نشي کولی، او د اودس ورکولو لپاره څوک و نه لري، او وېره ولري چې وخت به ترې تېر شي.

۵- که د يخنۍ له وجې د اوبو د استعمال څخه ويره ولري، او د تودېدو لپاره څه پيدا نه کړي، تيمم دې وکړي او لمونځ دې وکړي.

د تيمم طريقه:

خپلو لاسونو سره دې خاوره ووهي په داسې حال کې چې ګوتې يې خلاصې وي، بيا دې د خپلو ګوتو په ورغوو سره خپل مخ مسح کړي، او د لاسونو مخ دې په خپلو لاسونو مسح کړي، او ټول مخ او لاسونه دې مسح کړي.

د تيمم باطلونکي:

۱- د اوبو شتون که چيرته تيمم د هغې د نه شتون له امله ترسره شوی وي. او يا د هغې د استعمال توان پيدا شي کله چې تيمم د هغې د نه استعمالولو لامل ناتواني وي.

۲- په هغه څه باطليږي چې اودس پرې فاسديږي، او يا پر هغه څه چې غسل پرې واجبيږي، لکه جنابت، حيض او نفاس.

د هغه کس حکم چې د اوبو د استعمال او تيمم کولو توان نلري:

که څوک اوبه يا خاوره و نلري او يا داسې حالت ته رسيدلی وي چې پوستکی يې د اوبو يا خاورو د لمس کولو

توان ونلري، نو پدې حالت کې دې خپل وضعیت ته په کتو سره لمونځ وکړي، پرته له اودس او تیمم څخه، ځکه چې الله تعالی پر نفس د هغه له وسه ډېر ندی مکلف کړی. او که له دې وروسته اوبه یا خاوره وموندل شوه او یا یې د کارولو توان درلود؛ نو هغه دې ادا شوی لمونځ بیا نه تکراروي؛ ځکه چې هغه څه یې کړي چې امر پرې شوی و، د الله تعالی ددې قول مطابق:

﴿...فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ...﴾

(نو څومره چې کولای شئ له الله ووېرېږئ). [التغابن: ١٦]، او د هغه ﷺ په قول چې فرمايي:

«إِذَا أَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ».

(کله مې چې په یو کار درته امر وکړ، نو څومره چې ترې کولی شئ ویې کړئ).[1]

فایده: کله چې یو څوک د جنابت څخه تیمم وکړي او بیا اوبه ومومي، هغه باید غسل وکړي.

**نهم: د حیض او نفاس احکام:**

لومړی: حیض:

دا طبیعي او عادي وینه ده چې په معلوم وخت کې د رحم له لاندې برخې څخه بهر راځي. ډېری وختونه، هره میاشت شپږ یا اوه ورځې راځي، او ممکن چې له دې څخه ډېر او یا لږ وي. د ښځې میاشتنی عذر اوږدېږي او لنډېږي؛ څرنګه الله

---

[1] بخاري په شمېره (٧٢٨٨)، او مسلم په شمېره (٦٠٦٦) کې نقل کړی دی.

تعالی د هغې جوړښت ترکیب کړی وي.

د حایضې احکام:

۱- حایضه ښځه د حیض په حالت کې لمونځ نه کوي او روژه نه نیسي، او نه ترېنه صحیح کیږي.

۲- حیض لرونکې ښځه که له حیض څخه پاکه شي نو د روژې قضا به د لمانځه پرته راوړي.

۳- هغې لپاره د کعبې طواف جواز نلري، قرآن نه لولي. جومات کې دې نه کېني. ۴- د خاوند لپاره تر هغه وخته پورې په فرج کې له هغې سره جماع کول حرام دي تر څو چې حیض یې ودریږي او غسل وکړي.

۵- د حایضې ښځې خاوند ته روا ده چې له فرج پرته له هغې څخه خوند واخلي، لکه ښکلول، لمس کول او داسې نور.

۶- د حیض په حالت کې د خاوند لپاره دا روا نه ده چې هغې ته طلاق ورکړي.

طهر او پاکوالی: هغه د وینې بندېدل دي، نو کله چې وینه ودریږي نو هغه پاکه شوه او د حیض موده یې ختمه شوه، نو هغه باید غسل وکړي. بیا ټول هغه څیزونه چې د حیض له امله منع شوي و ترسره کولی شي.

او که له حیض وروسته یې نسواري یا زیړ رنګ ولید، نو هغې ته دې هیڅ پام نه کوي.

دویم: نفاس:

او دا هغه وینه ده چې رحم یې د زیږون پر مهال او وروسته له زیږون څخه خارجوي، او دا هغه پاتې وینه ده چې

د امیندوارۍ په جریان کې بنده وي.

او نفاس د حیض په څیر دی: په هغه څه کې چې جواز لري لکه خوند اخیستل، پرته له فرج څخه.

او هغه څه چې حرام دي: لکه په فرج کې جماع، د روژې نیول، لمونځ، طلاق، طواف، د قرآن تلاوت او په جومات کې پاتې کېدل منع دي، او د غسل کولو واجبیدل کله چې د هغې وینه بنده شي لکه د حائضې ښځې.

او هغه دې د روژې قضایي راوړي پرته له لمانځه څخه، نو د حایضې ښځې په څېر دې د لمونځ قضایي نه راوړي.

ډیره موده یې څلویښت ورځې دي، که د نفاسه ښځې څخه وینه د څلوېښتو ورځو څخه مخکې بنده شي، نو د نفاس دوره یې ختمه شوه، نو باید غسل وکړي، لمونځ وکړي او ټول هغه څه وکړي چې د نفاس له امله ترې منع شوې وه.

## دویم مبحث: لمونځ:

### لومړی: د اذان او اقامت احکام:

اذان د پیغمبر (صلى الله عليه وسلم) د هجرت په لومړي کال روا شو، او د اذان د مشروعیت دلیل: دا و چې کله د هغوی لپاره د وخت پیژندل ستونزمن شول، دوی مشوره وکړه چې د هغې لپاره علامه او نخښه وټاکي، عبدالله بن زید رضي الله عنه دا اذان په خوب کې ولید، او وحی د هغه تصدیق وکړ.

او اذان: د لمانځه د وخت د داخلېدو اعلان دی. او اقامت: د لمانځه د قائمولو خبرتیا ده.

اذان او اقامت كفايي فرض دی د نارينه و د جماعت لپاره د فرض كړ شوي لمونځونو لپاره. او دا دواړه د اسلام له ظاهري عباداتو څخه دي، چې معطلول يې جواز نلري.

د اذان شرطونه:

۱- مؤذن بايد نارينه وي.

۲- اذان بايد په ترتيب سره وي.

۳- اذان بايد پرله پسې ترسره شي.

۴- اذان بايد د وخت له داخليدو وروسته وشي. د سهار او جمعې لومړی اذان لدې څخه مستثنا دي.

د اذان سنتونه:

۱- چې خپلې ګوتې په غوږونو كې كيږدي.

۲- په لومړي وخت كې اذان كول.

۳- د حي الصلاة او حي على الفلاح پر مهال ښي او چپ لوري ته مخ ګرځول.

۴- بايد ښه غږ ولري.

۵- د اذان په الفاظو كې بايد معتدل اوسي، نه يې ډير ژر ژر ووايي او نه دې ډير اوږد كړي.

۶- د اذان په هره جمله كې بايد وقفه وكړي.

۷- د اذان پر مهال قبلې ته مخ ګرځول.

۸- اذان پنځلس جملې دی لكه څرنګه به چې بلال رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حضور كې اذان ويل.

د اذان الفاظ:

(الله أكبر): الله لوی دی، څلور ځلې.

(أشهد أن لا إله إلا الله): زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته، دوه ځلې.

(أشهد أن محمداً رسول الله): زه شاهدي ورکوم چې محمد د الله رسول دی، دوه ځلې.

(حي على الصلاة): لمانځه ته راشئ، دوه ځلې.

(حي على الفلاح): د کامیابۍ په لور راشئ، دوه ځلې.

بیا وايي: (الله أكبر): الله لوی دی، دوه ځلې.

بیا د (لا إله إلا الله)، له الله پرته بل معبود نشته، په یو ځل ویلو باندې(اذان)ختموي.

او د سهار په وخت کې د حي الفلاح څخه وروسته به (الصلاة خير من النوم) ورزیاتوي ، یعنې لمونځ له خوبه غوره دی، دوه ځلې؛ ځکه چې دا هغه وخت دی چې ډیری خلک پدې وخت کې ویده وي.

او اقامت یوولس جملې دی، چې باید په هغې کې حدر وشي، یعنې په سرعت سره وویل شي؛ ځکه چې دا حاضرو کسانو ته خبر ورکول دي، او استرسال یا اوږدولو ته یې اړتیا نشته.

صیغه یې په لاندې ډول ده:

(الله أكبر): الله لوی دی، دوه ځلې.

(أشهد أن لا إله إلا الله): زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته، یو ځل.

(أشهد أن محمداً رسول الله): زه شاهدي ورکوم چې محمد د الله رسول دی، یو ځل.

(حي على الصلاة): د لمونځ په لور راشئ، یو ځل.

(حي على الفلاح): د کامیابۍ په لور راشئ، یو ځل.

(قد قامت الصلاة): لمونځ قایم شو، دوه ځله.

(الله أكبر): الله لوی دی، دوه ځلې.

(لا إله إلا الله): له الله پرته بل معبود نشته، یو ځل.

د هغه چا لپاره چې اذان واوري مستحب دي چې هغه څه ووایې چې مؤذن یې وایي، پرته له (حي على الصلاة)، او(حي على الفلاح) څخه، پدې وخت کې باید: (لا حول ولا قوة إلا بالله) ووایي، یعنې نشته زور او ځواک پرته له الله څخه، بیا پر رسول الله صلى الله علیه وسلم درود وایي. بیا له هغه وروسته وایي:

«اللهمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلَاةِ القَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ، إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ».

"اې الله، اې د دې بشپړ دعوت څښتنه، محمد ته وسیله او فضیلت ورکړه، او هغه د ستاینې مقام ته ورسوه، هغه چې تا ورسره وعده کړې وه، بیشکه چې ته وعده خلافي نه کوې".[1]

[1] شیخ عبدالعزیز بن باز رحمه الله په خپل مجمع الفتاوی (۲۹/ ۱۴۱) کې فرمایلي دي: (بیهقي د جابر رضی الله عنه په روایت کې په جید سند سره

او وايي:

«رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ ﷺ نَبِيًّا».

«راضي يم چې الله تعالی مې پالونکی (رب) دی، اسلام مې دین دی، او محمد صلی الله علیه وسلم مې پیغمبر دی.[1]

له اذان څخه وروسته پرته له عذر او د راستنېدو په نیت له جومات څخه وتل روا ندي.

او کله چې دوه لمونځونه یوځای شي، یو اذان بسنه کوي او هر لمونځ لپاره جلا جلا اقامت وییل کیږي.

**دویم: د لمانځه حیثیت او فضیلت:**

لمونځ د ایمان له دوو شهادتونو وروسته د اسلام تر ټولو موکد رکن دی، او ځانګړی ځای لري، کوم چې الله تعالی په خپل رسول صلی الله علیه وسلم باندې د معراج په شپه په اسمان کې فرض کړ. دا د لمونځ د عظمت څرګندونه کوي، او د الله تعالی په نیز د لمونځ فرضیت او مکانت باندې دلالت کوي.

په ډېرو احادیثو کې پر خلکو باندې د لمونځ فضیلت او فرضیت نقل شوي دي. او د هغه فرضیت په اسلام کې له ضروریاتو څخه دی.

او هغه څه چې د هغه په فرضیت او تاکید باندې دلالت کوي: د قرآن او سنتو ډیر نصوص دي، له هغې جملې څخه:

---

«إنك لا تخلف الميعاد» اضافه کړې دی وروسته له هغه ددې قول څخه: «الذي وعدته»).

[1] ترمذي په شمېره (۲۶۳۵) کې روایت کړی دی.

١ـ الله تعالی فرمايي:

﴿...إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا﴾

(بېشکه لمونځ له شروع نه په مومنانو باندې په (معلومو وختونو کې فرض کړی شوی دی). [النِّساء: ١٠٣]. يعني: فرض کړل شوی دی په کومو وختونو کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له خوا بيان شوي دي.

٢ـ الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ...﴾

(حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دين (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي (او) حنيفان (له باطله حق ته راګرځېدونکي) وي، او (د دې چې) دوی دې لمونځ قايموي). [البينة: ٥].

٣ـ الله تعالی فرمايي:

﴿فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ...﴾

(نو که دوی توبه وباسي او لمونځ قايم کړي او زکات ادا کړي، نو بيا ستاسو ورونه دي په دين کې). [التوبة: ١١].

٤ـ له جابر رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

«إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ».

«د انسان، شرک او کفر تر منځه توپیر: د لمانځه پرېښودل دي».[1]

۵- له بریده رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«العَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ، فَمَن تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ».

ژباړه: «هغه لوظ چې زموږ او د دوی تر منځه دی لمونځ دی، نو چا چې پرېښود یقینا چې کفر یې کړی دی».[2]

د هغه چا په کفر باندې د علماوو اجماع ده چې له فرضیت څخه یې انکار کوي. لېکن چا چې د سستۍ او غفلت له وجې پرېښوده، نو صحیح خبره داده چې دا هم کافر کیږي، د مخکني صحیح حدیث په استناد سره، او په دې اړه د صحابه و د اجماع له مخې.

**دریم: د لمانځه شرطونه:**

۱- د وخت داخلیدل:

د الله تعالی ددې قول پر بنیاد:

﴿...إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا﴾

(بېشکه لمونځ له شروع نه په مومنانو باندې په (معلومو وختونو کې فرض کړی شوی دی). [النِّساء: ۱۰۳]. یعنې: په ټاکل شوي وخت کې فرض کړل شوي دي.

[1] مسلم په شمېره (۸۲) کې نقل کړی.
[2] ترمذي په شمېره (۲۶۵) کې نقل کړی، او ویلي یې دي: حسن صحیح غریب، او الباني په صحیح الترغیب والترهیب کې صحیح ګڼلی.

د تاکل شوي لمونځونو وختونه په لاندې ډول دي:

الف- سهار: له سهار څخه تر لمر لوېدو پورې.

ب- ماسپښین: د لمر له زوال څخه تر هغه وخته پورې چې د څیزونو سیوري په اوږدوالي کې یو شان شي.

ج- مازدیگر: د ماسپښین د وخت له پای څخه تر لمر د زېړیدو پورې او د ضرورت وخت یې تر لمر لوېدو پورې دی.

د-ماښام: له لمر لوېدو څخه تر دې چې سور شفق (د اسمان د غاړو سوروالی) غیب شي.

ماخوستن: د ماښام د پای وخت څخه تر نیمې شپې پورې.

۲- د عورت پټول:

دا هغه څه دي چې باید وپوښل شي، او ښکاره کیدل یې بد وي او له هغه څخه شرم کیدلی شي. د سړي عورت د نوم له غوټۍ څخه تر زنگون پورې دی، او ښځه د لمانځه پر مهال له مخ پرته ټول عورت دی. او که د پردیو نارینه و په حضور کې وي نو مخ دې پټ کړي، یعنې: هغوی د هغې محرم نه وي.

۳- له نجاست څخه ځان ساتل:

او نجاست: دا یوه مخصوصه پلیتي ده، چې د هغه جنس د لمانځه مانع گرځي؛ لکه تشې میتیازې، غټې میتیازې، وینه او داسې نور، او هغه په بدن، داغ او جامو کې وي.

۴- قبلې ته مخامخ کېدل:

قبله، کعبه شریفه ده، ځکه په دې نوم نومول شوې ده چې د خلکو تگ راتگ ورته کیږي،

قبلې ته له مخامخ کېدو پرته لمونځ نه کېږي. د الله تعالی ددې قول پر بنياد:

﴿...وَحَيۡثُ مَا كُنتُمۡ فَوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ شَطۡرَهُۥ...﴾

(او تاسو چې په هر ځای کې يئ، نو خپل مخونه د هغهٔ په طرف وګرځوئ ...) [البقرة: ١٤٤].

٥- نيت:

دا په لغت کې: اراده، او په اصطلاح کې: الله تعالی ته د نږدې کيدو لپاره د عبادت کولو عمل ترسره کولو اراده کول دي. او ځای يې زړه دی، نو ضرور نده چې تلفظ يې وشي، بلکې دا کار بدعت دی.

**څلورم: د لمانځه ارکان:**

او هغه څوارلس رکنونه دي:

لومړی رکن: د توان په صورت کې ولاړېدل:

د الله تعالی پدې قول سره:

﴿...وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ﴾

(... او الله تعالی ته په عاجزی سره ودرېږئ). [البقرة: ٢٣٨]، او د عمران رضي الله عنه څخه مرفوع حديث چې:

«صَلِّ قَائِمًا، فَإِن لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا، فَإِن لَمْ تَسْتَطِعْ فعَلَى جَنْبٍ».

"په ولاړه لمونځ وکړه، که دې نشو کولای نو په ناسته يې

وکړه، او که دې نشو کولای نو په څنګ یې وکړه". [1]

که د ناروغۍ له وجې په ولاړه لمونځ نشي کولی؛ د خپل حالت سره سم دې لمونځ وکړي، په ناست یا په څنګ سره. او د ناروغ په څېر: ویرېدونکی، بربنډ، او هغه څوک چې د درملنې لپاره ناست یا پرېوتلو ته اړتیا لري چې ولاړېدلی نشي، همدا ډول له ولاړیدو څخه معذور دی څوک چې د امام تر شا لمونځ کوي او امام یې په ناسته لمونځ کوي، نو که امام په ناسته لمونځ وکړي د هغه شاته کسان دې هم د امام د متابعت له وجې په ناسته لمونځ وکړي. په ناسته باندې د نفل لمونځ کول روا دي، که څه هم د ولاړ پاتې کېدلو توان هم وي، لیکن ثواب به یې د ولاړ کس په څېر نه وي.

دویم رکن: په پیل کې تکبیر تحریمه ویل:

د هغه ﷺ د دې وینا په وجه چې فرمایي:

«ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ، وَكَبِّرْ».

«بیا قبلې ته مخامخ شه او تکبیر ووایه». [2]

او صیغه یې دا ده چې ووایي: الله أكبر (الله لوی دی) او ددې صیغې پرته بل څه باندې نه صحیح کیږي.

دریم رکن: د فاتحې لوستل:

د هغه ﷺ د دې وینا په وجه چې فرمایي:

«لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ».

---

[1] بخاري په شمېره (۱۱۱۷) کې نقل کړی.

[2] بخاري په شمېره (۶۲۵۱)، او مسلم په شمېره (۸۸۴) کې نقل کړی دی.

«د هغه چا لمونځ صحيح ندی چې فاتحة الكتاب (الحمد لله... ) يې نه وي لوستلي».[1]

څلورم رکن: په هر رکعت کې رکوع:

د الله تعالی پدې قول سره:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا...﴾

(اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو رکوع کوئ او سجده کوئ). [الحج: ٧٧].

پنځم او شپږم رکنونه:

له رکوع څخه راپاڅېدل، نيغ ولاړېدل، لکه څنګه چې له رکوع څخه مخکې وو، ځکه چې هغه ﷺ دې کار ته دوام ورکړی.

او هغه ﷺ هغه کس ته چې لمونځ يې سم نه ادا کاوه وويل:

«ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِمًا».

"بيا پاڅېږه تر څو چې نيغ ودرېږې".[2]

اووم رکن: په اوو اندامونو سجده کول:

او هغه تندی او ورسره پزه، دواړه لاسونه، زنګونونه او د پښو څوکې دي، د هغه ﷺ په قول:

«أُمِرْنَا أَنْ نَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ: الجَبْهَةِ، وَأَشَارَ بِيدِهِ عَلَى أَنْفِهِ، وَالكَفَّيْنِ، وَالرُّكْبَتَيْنِ، وَأَطْرَافِ القَدَمَيْنِ».

---

[1] بخاري په شمېره (٧٥٦)، او مسلم په شمېره (٨٧٢) کې نقل کړی دی.

[2] بخاري په شمېره (٧٩٣)، او مسلم په شمېره (٣٩٨) کې نقل کړی دی.

"هغه موږ ته په اوو اندامونو سره د سجدې کولو امر کړی: تندی، او په خپل لاس سره يې پوزې ته اشاره وکړه، دواړه لاسونه، زنګونونه او د پښو څوکې".[1]

اتم رکن: له سجدې څخه پاڅېدل او د دوو سجدو تر منځ کېناستل:

د عائشې رضی الله عنها په حدیث کې راغلي دي:

«كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ، لَمْ يَسْجُدْ حَتَّى يَسْتَوِيَ جَالِسًا».

"نبي کريم ﷺ به چې کله له ـ لومړۍ ـ سجدې نه سر مبارک راپورته کړ، نو ـ دويمه ـ سجده به يې تر هغې نه کوله چې برابر به کېنېناست".[2]

نهم رکن: په ټولو رکنونو کې ډاډ (سکون) پيدا کول:

او هغه سکون او ډاډ ده که څه هم لږ وي، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه چا ته چې لمونځ يې سم نه ادا کاوه وويل:

«حَتَّى تَطْمَئِنَّ».

"تر څو چې ډاډ پيدا کړې".[3]

دوه رکنونه: لسم او يوولسم:

اخري تشهد او ناسته يې : د ابن مسعود رضي الله عنه د مرفوع حديث له مخې:

---

[1] بخاري په شمېره (۸۱۲)، او مسلم په شمېره (۴۹۰) کې نقل کړی دی.

[2] مسلم (۴۹۸) کې نقل کړی.

[3] بخاري په شمېره (۷۲۴)، او مسلم په شمېره (۳۹۸) کې نقل کړی دی.

«إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ: التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ».

«کله چې له تاسو څخه یو څوک لمونځ وکړي، نو هغه دې ووايي: (التحيات لله والصلوات و الطيبات، السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين، أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله).

ژباړه: ټول ژبني، بدني، او مالي عبادتونه الله جل جلاله لره دي، سلام او د الله رحمتونه او برکتونه دې وي پر تا ای پيغمبره، سلام دې وي پر مونږ او د الله پر نيکو بنده ګانو، ګواهي ورکوم چې له الله تعالى پرته بل هيڅوک د عبادت وړ نشته او ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله بنده او رسول دی».[1]

دولسم رکن: په وروستي تشهد کې پر رسول الله ﷺ باندې درود ويل:

دا چې ووايي:

«اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ».

"اې الله پر محمد صلى الله عليه وسلم ثنا او درود ووايه"[2]

[1] بخاري (۷۹۷)، او مسلم (۴۰۲) روايت کړی دی.
[2] ترمذي، په شمېره (۸۳۹) کې نقل کړی.

او له دې نه زیات هغه سنت دی.

دیارلسم رکن: د ستنو تر منځ ترتیب:

ځکه چې رسول الله ﷺ به دا کار په ترتیب سره کاوه، او ویې ویل:

«صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي».

«تاسو داسې لمونځ وکړئ لکه ما چې ګورئ او زه لمونځ کوم».[1] او کوم کس چې لمونځ یې سم نه ادا کاوه هغه ته یې د لمونځ ترتیب په "بیا" ویلو سره وښود.

څوارلسم رکن: سلام ګرځول:

د هغه ﷺ پدې وینا سره:

«وَخِتَامُهَا التَّسْلِيمُ».

«او په پای کې د سلام ګرځول دي»، او د هغه دا قول:

«وَتَحْلِيلُهَا التَّسْلِيمُ».

«او ترې خلاصېدل سلام ګرځول دي».[2]

**پنځم: د لمانځه واجبات:**

او هغه اته دي:

۱- د پیل تکبیر څخه پرته نور ټول تکبیرونه.

۲- په رکوع کې یو ځل «سبحان ربي العظيم» ویل، او زیات ویل یې تر دریو پورې سنت دي، او دا ټیټه درجه د

[1] بخاري په شمېره (۶۰۰۸) کې نقل کړی.
[2] بخاري په شمېره (۱۱۱۰) کې نقل کړی.

کمال ده، او تر لسو پورې چې هغه یې لوړه اندازه ده.

۳ـ له رکوع څخه د پاڅیدو په وخت کې «سمع الله لمن حمده» ویيل، د امام او منفرد لپاره.

۴ـ له رکوع څخه د نیغ ودرېدلو په وخت کې: «ربنا ولك الحمد» ویل.

۵ـ د سجدې په وخت کې یو ځل «سبحان ربي الأعلى» ویل. او تر درې ځلې ویل یې سنت دي.

۶ـ د دوو سجدو په منځ کې یو ځل «ربي اغفر لي» ویل، او تر درې ځلې ویل یې سنت دي.

۷ـ لومړی تشهد: هغه داسې چې ووایی:

«التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ، وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ».

«ټول ژبني، بدني، او مالي عبادتونه الله جل جلاله لره دي، سلام او د الله رحمتونه او برکتونه دې وي پر تا ای پیغمبره، سلام دې وي پر مونږ او د الله پر نیکو بنده ګانو، ګواهي ورکوم چې له الله تعالی پرته بل هېڅوک د عبادت وړ نشته او ګواهي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دی».[1]

۸ـ د لومړي تشهد لپاره ناسته.

[1] بخاري، په شمېره (۸۳۵) کې نقل کړی.

**شپږم: د لمانځه سنتونه:**

د لمانځه د سنتو په پرېښودلو سره لمونځ نه فاسدېږي. دا دوه ډوله دي: لفظي سنتونه او فعلي سنتونه.

لومړی: لفظي سنتونه:

۱- د استفتاح (د لمانځه د پیل) دعاء، او هغه څو صیغې لري، د هغې له جملې څخه:

«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالى جَدُّكَ، وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ».

(اې الله! پاکي او ستاینې یوازې تالره دي او نوم دي مبارک دی، شان دې لوړ دی او له تا پرته بل معبود نشته).[۱]

۲- د فاتحې نه مخکې أعوذ بالله ویل، دا چې ووایي: (أعوذ بالله من الشیطان الرجیم).

(زه له رټل شوي شیطان نه په الله تعالی پورې پناه نیسم).

۳- د قرائت نه مخکې بسمله (بسم الله) ویل: دا چې ووایي: (بسم الله الرحمن الرحیم)، د الله په نوم پیل کوم چې ډیر مهربان او بښونکی دی.

۴- په رکوع او سجدو کې د تسبیح له یو ځل څخه ډیر ویل.

۵- له یو ځل څخه دغه قول ډیر وویل شي:

«رَبِّ اغْفِرْ لِي».

(ای الله ! ما ته بښنه وکړې). د دوو سجدو ترمنځ.

---

[۱] بخاري، په شمېره (۷۴۳)، او مسلم، په شمېره (۳۹۹) کې نقل کړی دی.

۶- دغه قول:

«مَلْءَ السَّمَاوَاتِ، وَمَلْءَ الْأَرْضِ، وَمَلْءَ مَا بَيْنَهُمَا، وَمَلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ».

«د آسمانونو او ځمکې او د هغو تر منځ د مخلوقاتو د ډکوالي په اندازه، او په اندازه د ډکوالي د هغو شيانو چې تا وروسته غوښتي دي»، وروسته له دې قول ښخه:

«رَبَّنَا ولَكَ الحَمْدُ».

(ای زمونږ ربه ! تالره حمد او ثنا ده).[1]

۷- د فاتحې سورت نه وروسته قراءت کول.

۸- ددې وينا وييل:

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ».

«ای الله زه پر تا پناه نيسم د جهنم له عذابه، د قبر له عذابه، د ژوند او مرګ له فتنې او د مسيح دجال له فتنې ښخه».[2] او په اخري تشهد کې له دې دعا ښخه علاوه نورې دعاګانې ويل.

دويم: فعلي سنتونه:

۱- په څلورو ځايونو کې د اوږو او غوږونو په برابرۍ د لاسونو پورته کول:

---

[1] ترمذي، په شمېره (۲۶۶) کې نقل کړی.

[2] مسلم، په شمېره (۵۸۸) کې نقل کړی.

الف- د تکبير تحريمه پر مهال.

ب- د رکوع پر مهال.

ج- کله چې له رکوع څخه ولاړيږي.

د- کله چې دريم رکعت ته ولاړيږي.

۲- د رکوع نه مخکي او وروسته، ښي لاس پر چپ لاس په سينه کيښودل.

۳- د سجدې ځای ته کتل.

۴- د سجدې پر مهال لاسونه له اړخونو څخه لرې ساتل.

۵- د دوو سجدو په وخت کې خېټه له ورنونو څخه ليرې ساتل.

۶- د لمانځه په ټولو جلسو کې افتراش (کينه (چپه) پښه هوارل او ښی پښه درول)، پرته له وروستي تشهد څخه په درې او څلور رکعتي لمونځونو کې.

۷- په اخرى تشهد کې تورک (ښی پښه «قدم» به ودروي او چپه پښه به د ښی پښې څخه لاندې وباسي او پر ځمکه به کښېني) کول کله چې لمونځ درې يا څلور رکعتي وي.

**اووم: د لمانځه طريقه:**

۱- رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله د لمانځه لپاره ودريده نو قبلې ته به مخامخ ودريده، لاسونه به يې پورته کړل، او د ګوتو د باطني خوا باندې به يې قبلې ته مخ کړ او ويل به يې:

«اللَّهُ أَكبَرُ». "الله لوی دی".

۲- بیا يې چپ لاس په ښي لاس باندې نیوه او په سینه به يې کېښودل.

۳- بیا يې د استفتاح دعا ویله، لیکن پر یو استفتاح باندې يې مداومت ندی کړی، تولې د استفتاح دعاګانې چې له هغه صلی الله علیه وسلم څخه ثابتې دي، هغې باندې لمونځ پیلول جواز لري، له جملې څخه يې:

«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالى جَدُّكَ، وَلا إِلٰهَ غَيْرُكَ».

(اې الله! پاکي او ستاینې یواځې تالره دي او نوم دي مبارک دی، شان دې لوړ دی او له تا پرته بل معبود نشته).

٤- بیا به وايي:

«أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ».

(زه الله ته پناه وړم له رټل شوي شیطان څخه، د الله په نامه پیل کوم چې لورونکی او مهربان دی).

۵- بیا به سورت فاتحه ووايي او کله يې چې پای ته ورسوله (آمین) دې ووايي.

۶- بیا د توان په اندازه له قرآن څخه لولي، د سهار، ماښام او ماخوستن په لومړیو دوو رکعتونو کې به په جهر قراءت لولي، او له دې پرته نورو لمونځونو کې په خفیه ډول قراءت لولي. او د هر لمانځه لومړی رکعت به له دویم رکعت څخه اوږد وي.

۷- بیا لاسونه پورته کوي لکه څنګه يې چې يې په استفتاح

کې پورته کړي و. بیا به ووایي: " الله اکبر" الله لوی دی، بیا به رکوع وکړي، خپل لاسونه به په خپلو زنګونونو د ګوتو له پراخولو سره ږدي، او خپله شا دې وغځوي، او خپل سر دې له ملا سره برابر کړي؛ نه دې ډیر پورته کوي او نه دې ډیر ښکته کوي، بیا دې ووایي:

«سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ».

"پاکي ده زما لوی رب لره" ، یو ځل، تر ټولو کم پوره عدد: درې ځله دی، لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه.

٨ ـ بیا به خپل سر پورته کړي او وبه وایي:

«سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ».

(الله د ثنا ویونکي ستاینه واورېده)، او خپل لاسونه دې پورته کړي لکه څنګه چې یې د رکوع کولو په وخت کې پورته کړي وو.

٩ـ او کله چې ولاړ شو نو وبه وایي:

«اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ، مَلْءَ السَّمَاءِ، وَمَلْءَ الْأَرْضِ، وَمَلْءَ مَا بَيْنَهُمَا، وَمَلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ، أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ، أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ، وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ، لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ».

«ای الله! ته زمونږ پروردګار یې، تالره پوره ستاینه ده، د آسمانونو او زمکي او د هغو تر منځ د مخلوقاتو د ډکوالي په

اندازه، او په اندازه د ډکوالي د هغو شيانو چې تا وروسته غوښتي دي، اې دستاينې او لويې خاونده! ته چې چاته څه ورکړې، د هغه (څوک) بندوونکی نشته، او ته چې (له چانه) څه بند کړې، د هغه (څوک) ورکوونکی نشته، او فائده نه کوي مالدار ته د هغه مال، ستا د عذاب لرې کولو کې».[1] او دغه اعتدال (برابروالی) به یې اوږدوو.

۱۰- بيا تكبير وايي او سجده كوي، او لاسونه دې نه پورته کوي، په تندي، پوزې، دواړه لاسونو، زنګونونو او د پښو په سرونو باندې به سجده وکړي، او د لاسونو او پښو ګوتې به يې قبلې ته مخامخ وي، او په سجده کې به اعتدال کوي، او خپل تندی او پوزه به په ځمکه باندې لګوي، او په خپلو لاسونو باندې به تکيه کوي، خپلې څنګلې به پورته نيسي، او خپل لاسونه به د خپلو اړخونو څخه لرې ساتي، خپل خيټه به د خپلو ورنونو څخه پورته کوي، او ورنونه له پښو څخه، او په خپله سجده کې به يې ويل:

«سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى».

(زما رب لره پاکي ده چې لوي ذات دی) يو ځلې، او د کمال لړه درجه درې ده، لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه. بيا به دعا وکړي هغه څه سره چې وارد شوي دي.

۱۱- بيا به یې سر پورته کړي او وبه وايي: الله اكبر ( الله لوی دی) بيا به هغه خپله کينه (چپه) پښه هواره کړي او ښۍ پښه به ودروي، او خپل لاسونه به په خپلو ورنونو باندې

[1] ابو داود په شمېره (۵۱۶۸) کې نقل کړی دی.

کېږدي او بیا به ووایي:

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاجْبُرْنِي، وَاهْدِنِي، وَارْزُقْنِي».

«ای الله، ما ته بخښنه وکړه، په ما رحم وکړه، ما جبران کړه، ما ته هدایت وکړه، ما ته روزي راکړه».[1]

۱۲- بیا تکبیر وایي او سجده کوي او په دویم رکعت کې هم همداسې کوي لکه په لومړي کې یې چې کړي و.

۱۳- بیا به په الله اکبر ویلو سره خپل سر پورته کړي، او د پښو په تلو سره به ولاړ شي، پداسې حال کې چې په زنګونونو او ورنونو یې تکیه کړي وي.

۱۴- که ولاړ شو؛ نو قرائت دې پیل کړي، دویم رکعت دې هم د لومړي رکعت په څېر ادا کړي.

۱۵- بیا به د لومړي تشهد لپاره خپور کښیني لکه څرنګه چې د دوو سجدو تر منځه ناست و، ښي لاس به په ښي ورون او چپ لاس به په چپ ورون (پتون) باندې کېږدي، او د خپل ښي لاس غټه ګوته دې منځنۍ ګوتې باندې کېږدي لکه د حلقې په څېر، او د شهادت (مسواک ګوته) ګوتې سره به اشاره وکړي او هغې ته به ګوري. او بیا به ووایي:

«التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ

[1] ترمذي، په شمېره (۲۸۴) کې نقل کړی.

أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ»

«ټول ژبني، بدني، او مالي عبادتونه الله جل جلاله لره دي، سلام او د الله تعالى رحمتونه او برکتونه دې وي پر تا ای پيغمبره، سلام دې وي پر مونږ او د الله تعالى پر نيکو بنده ګانو، ګواهي ورکوم چې له الله تعالى نه پرته بل هيڅوک د عبادت وړ نشته او ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله بنده او رسول دی». او هغه به دغه جلسه لنډه کوله.

۱۶- بيا پاڅيږي، تکبير به ووايي او دريم او څلورم رکعت به اداء کړي، او له لومړيو دوو څخه به يې لنډ ادا کوي. او په هغو کې به سورت فاتحه لولي.

۱۷- بيا د تورک په ډول په اخري تشهد کې کښيني، د تورک مطلب دا دی: چې ښی پښه «قدم» به ودروي او چپه پښه به د ښی پښې څخه لاندې وباسي او پر ځمکه به کښيني.

۱۸- بيا به وروستی تشهد وايي کوم چې د لومړي تشهد په څېر دی. او ورسره دا اضافه کوي:

«اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».

«اې الله! پر محمد - صلى الله عليه وسلم - او د هغه پرکورنۍ رحمت ووروه، لکه پر ابراهيم -عليه السلام- او د

هغه پرکورنۍ دې چې ورولی وو، بېشکه ته ستایل شوی او لوی یې. او پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ برکتونه ووروه، لکه پر ابراهیم - علیه السلام - او د هغه پرکورنۍ دې چې ورولي وو، بېشکه ته ستایل شوی او لوی یې».

۱۹- د دوزخ له عذابه، د قبر له عذابه، د ژوند او مرګ له فتنو او د دجال له فتنو څخه الله جل جلاله ته پناه وړي. او په هغه دعاګانو دعا کوي چې په کتاب او سنتو کې ذکر شوي دي.

۲۰- ښیا ښي لور ته سلام اړوي نو وايي:

«السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ».

ښیا چپ لور ته همدا رنګه، قبلې ته به مخامخ په سلام پیل کوي او په پوره مخ ګرځولو سره به یې پای ته رسوي.

**اتم: د لمانځه مکروهات:**

۱- پرته له اړتیا څخه کتل.

۲- اسمان ته سترګې پورته کول.

۳- پرته له اړتیا د سترګو پټول.

۴- د سجدې په وخت کې د لاسونو غځول.

۵- پرته له اړتیا څخه د خولې او پوزې پټول.

۶- د تشو میتیازو او غټو میتیازو له فشار سره، او یا د ډوډۍ په شتون کې لمونځ کول.

۷- له سجدې نه وروسته د تندې او پوزې څخه د ښتو

شیانو لرې کول، او د لمانځه له ختمیدو وروسته په پاکولو کې کوم حرج نشته.

۸- د ولاړید پر مهال له اړتیا پرته دیوال او یا ورته څیز ته تکیه کول .

**نهم: د لمونځ فاسدونکي:**

۱- خوراک او څښاک.

۲- د لمانځه له الفاظو پرته نور څه ویيل.

۳- خندا او قهقهه کول.

۴- په قصدي توګه د لمانځه د یو رکن او یا واجب پرېښودل.

۵- په قصدي توګه د یو رکن یا رکعت زیاتول.

۶- د امام څخه مخکې په قصدي توګه سلام ګرځول.

۷- د لمانځه له حرکاتو پرته له ضرورت نه بغیر پرلپسې حرکتونه ترسره کول.

۸- هغه څه کول چې د لمانځه د شرطونو سره مخالف وي؛ لکه د اودس ماتېدل، په قصدي ډول د عورت ښکاره کول، د بدن ډیره برخه له قبلې څخه بې له ضرورت څخه منحرف کول، د نیت قطع کول.

**لسم: د سهوې سجده:**

سهوه: هېرولو ته وایي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په لمانځه کې سهوه شوی و؛ ځکه هېرول د انسان له فطرت څخه دي، او د هغه سهوه د هغه امت لپاره د الله د نعمت او د

هغوی ددین د کمال ځخه دي، ترڅو هغه پسې اقتدا وکړي په هغه څه کې چې د هغوی لپاره یې د سهوې پر مهال مقرر کړي دي.

هغه اسباب چې له امله یې د سهوې سجده روا شوې ده:

۱- لومړی حالت:

په لمانځه کې زیاتوالی، یا په عمل کې زیاتوالی او یا په قول کې زیاتوالی وي:

الف- د عمل زیاتوالی: که د لمانځه په جنس کې زیاتوالی وي: لکه د ناستې پر ځای ولاړېدل، او یا ولاړېدل د ناستې پر ځای، یا رکوع او سجدې کې زیاتوالی، او که په سهوې سره یې وکړي؛ هغه باید د سهوې سجده وکړي.

ب- د اقوالو زیاتوالی: لکه په رکوع او سجده کې تلاوت کول،

که داسې وشي؛ مستحب ده چې دسهوې سجده وکړي.

۲- دویم حالت:

په سهوې سره په لمانځه کې کموالی، او د دوو شیانو څخه په یو سره کیږي:

الف- د رکن پرېښودل: که دا رکن تکبیر تحریمه وي، لمونځ یې ندی شوی، او د سهوې سجده هیڅ ګټه نکوي. او که له تکبیر تحریمه پرته بل رکن وي لکه رکوع یا سجده، او د بل رکعت د ترسره کولو څخه مخکې ورته یاد شو؛ واجب دی چې وروګرځي او ترسره یې کړي او څه چې له هغه وروسته راځي.

او که د بل رکعت له ترسره کولو وروسته ورته یاد شو، نو هغه رکعت چې یو رکن ورڅخه پاتې شوی و باطل دی، او له هغه څخه وروسته رکعت د هغه ځای نیسي.

ب- د واجب پرېښودل: لکه: اول تشهد، یا په رکوع کې د تسبیح هېرول. په دې حالت کې: د سهوې سجده کیږي.

۳- دریم حالت : شک :

مثال: که شک وکړي چې د ماسپښین په لمانځه کې یې درې رکعته لمونځ کړی که څلور رکعته، په دې صورت کې:

الف- نو هغه څه دې وکړي چې هغه ته ترجیح ورکوي؛ او د سهوې سجده کوي.

ب- دا چې د هغه لپاره هیڅ شی ترجیح ونلري؛ نو په یقین باندې دې عمل وشي، او د سهوې سجده دې وشي.

که شک له لمانځه څخه وروسته وي، او یا ډېر شکي انسان وي؛ دې شک ته باید پام و نشي.

فایده: د سهوې سجده باید له سلام څخه مخکې وشي: که د شک یا نقص له امله وي او د هغه په نیز ترجیح شتون ونلري، او له سلام څخه وروسته به وي: که د زیاتوالي یا شک له امله وي چې په ترجیح یې عمل کړی وي، په دې اړه موضوع پراخه ده، ان شاء الله تعالی.

## یوولسم: د لمونځ ممنوعه وختونه:

اصل دا دی چې هر وخت لمونځ کول روا دي، خو شریعت په ځینو وختونو کې له لمانځه منعه کړې چې په لاندې ډول دي:

۱- د سهار له لمانځه وروسته تر لمر ختلو پورې، او کله چې د سترګو په لید د لمر لوړوالی له ځمکې څخه د يو غشي په اندازه وي.

۲- کله چې لمر د اسمان په وسط کې کوي، تر هغه وخته چې زوال ته ورسيږي، او د نهيې تر ټولو لنډه موده ده.

۳- د مازديګر له لمانځه څخه تر لمر لوېدو پورې، او دا د نهيې تر ټولو اوږده موده ده.

هغه لمونځونه چې د نهيې په وخت کې جواز لري:

۱- د فرض لمونځ د قضا ادا کول.

۲- سبب لرونکي لمونځ، لکه : تحية المسجد، د طواف دوه رکعته، د کسوف لمونځ او د جنازې لمونځ .

۳- د سهار له لمانځه وروسته د سهار د سنتو ادا کول.

**دولسم: د جماعت لمونځ:**

دا د اسلام ستره نښه ده، يعنې په جوماتونو کې په جماعت سره لمونځ کول، مسلمانان په دې متفق دي چې په جوماتونو کې د پنځه وخته لمونځونو ادا کول يو له تاکيد شوي عبادتونو څخه دي او ستر عبادت دی، په حقيقت کې دا د اسلام ترټولو لوی عبادت دی.

۱- د جماعت د لمانځه حکم:

پنځه وخته لمونځونه په جماعت سره په جومات کې توان لرونکو نارينه و باندې واجب دي. په اقامت او سفر کې، د امن او وېرې په حالت کې په عيني ډول واجب دی.

د جماعت پر وجوب قرآن او سنت دلالت کوي، او له پيړيو

پېړیو راهیسې پر هغې مسلمانانو عمل کړی دی، وروستیو له مخکنیو څخه را نقل کړي دي .

له قرآن کریم څخه: الله تعالی فرمايي:

﴿وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ...﴾

(او کله چې ته په دوی کې موجود یې، بیا ته دوی ته لمونځ ودروې، نوله دوی نه دې یوه ډله له تا سره ودرېږي). [النساء: ۱۰۲]. آیت دې ته اشاره کوي چې د جماعت لمونځ واجب دی، نو مسلمانانو ته د وېرې په حالت کې هم د پرېښودلو اجازه نه ده ورکړل شوې، که واجب نه وی نو د وېرې په حالت کې به په طریقهء اولی ساقط شوی وی. د جماعت لمونځ پرېښودل او په هغه کې تساهل کول د منافقانو له مشهورو صفتونو څخه دي.

او د سنتو څخه: ډېر حدیثونه دي، د هغې له جملې څخه لاندې ډول دي:

کوم چې په صحیح مسلم کې راغلي دي

أَنَّ رَجُلًا أَعْمَى قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، لَيْسَ لِي قَائِدٌ يَقُودُنِي إِلَى الْمَسْجِدِ، فَسَأَلَهُ أَنْ يُرَخِّصَ لَهُ أَنْ يُصَلِّيَ فِي بَيْتِهِ، فَرَخَّصَ لَهُ، فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ فَقَالَ: «هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَأَجِبْ».

چې یو ړوند سړي وویل: اې د الله رسوله زه داسې لارښود نه لرم چې ما جومات ته بوځي، نو له هغه څخه یې

وغوښتل چې اجازه ورکړي چې په خپل کور کې لمونځ وکړي، هغه ته يې اجازه ورکړه، کله چې هغه ولاړ، نو ورغږ يې کړ، ورته يې وويل: ايا ته اذان اورې؟ هغه وويل: هو، ويې ويل: «نو د اذان اجابت وکړه».[1]

نو رسول الله ﷺ هغه ته امر وکړ چې د جماعت د لمانځه لپاره جومات ته ورشي او د اذان اجابت وکړي، که څه هم هغه ړوند و او له سختيو سره مخ و. دا د جماعت د لمانځه په واجبوالي باندې دلالت کوي.

۲- هغه څه چې جماعت پرې لاندې کيږي:

جماعت له امام سره د يو رکعت لمونځ په را ګيرولو سره لاندې کيږي، د هغه ﷺددې قول پر بنياد:

«مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصَّلَاةِ فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ».

"چا چې د لمونځ يو رکعت راګير کړو، نو هغه لمونځ راګير کړو".[2]

۳- هغه څه چې رکعت پرې لاندې کيږي:

رکعت د رکوع په راګيرولو سره لاندې کيږي، که ناوخته راغلي کس خپل امام د رکوع پر مهال لاندې کړ: نو هغه دې په ولاړه تکبير تحريمه ووايي، او بيا دې تکبير ووايي د رکوع لپاره. او که د قيام په وخت کې د تکبير تحريمې په ويلو باندې بسنه وکړي دا د رکوع تکبير پر ځای مجرا کيږي.

۴- هغه عذرونه چې انسان ته د جماعت د لمانځه د پرېښودو اجازه ورکوي:

---

[1] مسلم په شمېره (۱۴۸۴) کې نقل کړی.

[2] بخاري په شمېره (۶۰۹)، او مسلم په شمېره (۶۰۲) کې نقل کړی دی.

۱- ناروغي چې د جمعې او جماعت لمونځ ته راتګ ستونزمن وي.

۲- د تشو او غټو میتیازو فشار؛ ځکه چې په لمانځه کې د خشوع مخه نیسي، او دا چې بدن ته ضرر رسوي.

۳- په هغه وخت کې چې انسان وږی وي او یا نفس یې د خوراک په لټه کې وي، په دې شرط چې هدف یې دوکه نه وي او یا د جماعت د لمانځه څخه د تخلف عادت جوړ نشي.

۴- د ځان، مال یا بل څه په اړه د محققې وېرې احساس کول.

**دیارلسم: د وېرې لمونځ:**

د وېرې لمونځ په هر جائز جنګ کې فرض دی، لکه د کفارو، باغیانو او جنګیالیو (فسادیانو) سره، د الله تعالی د دې ارشاد له مخې:

﴿...إِنْ خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ...﴾

(... که وېرېدلئ چې کافران به مو وځوروي...) [النساء: ۱۰۱]، او په دې باندې د هغه چا قیاس وکړه چې هغه سره د جنګ جواز لري.

او د خوف لمونځ په دوو شرطونو سره روا دی:

۱) دښمن هغه څوک وي چې جنګ ورسره روا وي.

۲) د لمانځه پر مهال پر مسلمانانو د هغوی د برید وېره.

**د خوف د لمانځه طریقه:**

د ویرې لمونځ ګڼ شمېر طریقې لري چې ترټولو مشهوره

يې د سهل رضي الله عنه په حديث کې راغلې ده:

أَنَّ طَائِفَةً صَفَّتْ مَعَ النَّبِي ﷺ، وَطَائِفَةً وِجَاهَ العَدُوِّ، فَصَلَّى بِالَّتِي مَعَهُ رَكْعَةً، ثُمَّ ثَبَتَ قَائِمًا، وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ، ثُمَّ انْصَرَفُوا، وَصَفُّوا وِجَاهَ العَدُوِّ، وَجَاءَتِ الطَّائِفَةُ الأُخْرَى، فَصَلَّى بِهِمُ الرَّكْعَةَ الَّتِي بَقِيَتْ مِنْ صَلَاتِهِ، ثُمَّ ثَبَتَ جَالِسًا، وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ، ثُمَّ سَلَّمَ بِهِمْ.

دا چې يوه ډله د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ودرېدله، او بلې ډلې دښمن ته مخه کړه، نو کومه ډله چې ورسره وه يو رکعت لمونځ يې پرې وکړ، بيا ولاړ پاتې شو، او هغوی خپل لمونځ بشپړ کړ، بيا لاړل، او دښمن ته يې مخه کړه، بيا بله ډله راغله، نو هغه د خپل د لمانځه په پاتې رکعت کې د هغوی امامت وکړ، بيا ناست پاتې شو، هغوی خپل لمونځ بشپړ کړ، بيا يې پرې سلام وګرځاوه.[١]

د خوف د لمانځه څخه دغه ګټې اخلو:

١- په اسلام کې د لمانځه اهميت، او د جماعت د لمانځه اهميت، د جماعت لمونځ حتا په سختو حالاتو کې هم ساقط شوی نه دی.

٢- د دې امت څخه حرج او سختي لرې شوې ده، او د شريعت آسانتيا او تطبيق يې په هر زمان او مکان کې.

---

[١] بخاري په شمېره (٤١٣٠)، او مسلم په شمېره (٨٤٢) کې نقل کړي.

۳- د اسلامي شريعت بشپړتيا، او دا چې د هر حالت لپاره يې مناسب وضعيت وضع کړی دی.

**څوارلسم: د جُمعې لمونځ:**

لومړی: حکم يې:

د جمعې لمونځ په هر عاقل بالغ مسلمان چې عذر نه لري فرض عين دی.

الله تعالی فرمايي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِىَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوْمِ ٱلْجُمُعَةِ فَٱسْعَوْاْ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلْبَيْعَ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ۝٩﴾

(ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! کله چې د جمعې د ورځې د لمانځه لپاره اذان وويلی شي، نو تاسو د الله د ذکر (لمونځ) اهتمام وکړئ او اخيستل خرخول پريږدئ، دا ستاسو لپاره ډېر غوره دي که تاسو پوهېږئ). [الجمعة: ۹].

او د هغه ﷺ په قول سره چې فرمايي:

«لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ، أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ، ثُمَّ لَيَكُونُنَّ مِنَ الْغَافِلِينَ».

"هغه خلک دې له خپل کار څخه لاس په سر شي چې د جمعې لمانځه ته نه حاضريږي، کنه الله به د دوی پر زړونو

مهر ولګوي، بیا به دوی له غافلانو څخه شي".[1]

دوهم: د جمعې د لمانځه د صحت شرطونه:

۱- وخت، او وخت یې د ماسپښین د لمانځه په شان دی. له وخت نه مخکې نه صحیح کیږي او نه دا چې وخت یې تېر شي.

۲- یوه ډله باید پکې حضور ولري، او د صحیح قول له مخې لږ تر لږه جماعت درې کسان دي. له یو نفر او دوو څخه نه صحیح کیږي.

۳- دا چې لمونځ کوونکي باید په ودانو کورونو کې میشت وي لکه څرنګه چې د عادت له مخې جوړیږي. که هغه د تقویه شوي کانکریټ، ډبرې، ختې او داسې نورو څیزونو څخه وي. نو په دې اساس د صحرا اوسیدونکو، د خیمو او کیږدیو خاوندانو څخه چې ثابت ځای نلری نه صحیح کیږي، بلکې د خپلو ځارویو لپاره د وښو د لټولو لپاره له یو ځای څخه بل ځای ته کډه کوي.

۴- له هغې څخه مخکې باید دوه خطبې شتون ولري، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغو باندې مواظبت او مداومت کړی دی.

دریم: د جمعې د دوو خطبو رکنونه:

۱- د الله تعالی حمد او دوه شهادتونه.

۲- پر رسول الله ﷺ درود ویل.

۳- د الله تعالی څخه د وېرې امر.

[1] مسلم په شمېره (۸۶۵) کې نقل کړی.

۴- د قرانکریم څخه یو څه لوستل.

۵- وعظ او نصیحت.

څلورم: د جمعې د دوو خطبو مستحبات:

۱- په منبر خطبه ویل.

۲- د دوو خطبو د جلا کولو لپاره لنډه ناسته. ۳- د مسلمانانو او د هغوی د واکمنانو لپاره دعا کول.

۴- د دوو خطبو لنډوالی.

۵- خطیب منبر ته د پورته کېدو وروسته خلکو ته سلام اچوي.

**پنځم: د جمعې د ورځې مستحبات:**

۱- مسواک وهل.

۲- عطر لګول، که شتون ولري.

۳- د جمعې لمانځه ته وختي وتل.

۴- جوماټ ته په پښو تلل او سوارلۍ سره نه تلل.

۵- امام ته نږدې کېدل.

۶- دعا.

۷- د سورت الکهف لوستل.

۸- په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ویل.

شپږم: هغه څه چې د جمعې لمونځ کوونکي باندې منع دي:

۱- د رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې خبرې پر بنیاد د جمعې په ورځ د امام د خطبې پر مهال خبرې کول حرام دي:

«إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ: أَنصِتْ، وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، فَقَدْ لَغُوتَ».

«کله چې تا د جمعې په ورځ خپل ملګري ته وويل: چپ شه، په داسې حال کې چې امام خطبه وايي، نو لغوه دې وکړه».[1] يعني: تا (لغو) بې ځايه خبره وکړه، او لغو: ګناه ده.

٢- د خلکو له اوږو تېريدل، مګر دا چې هغه امام وي، او يا داسې تش ځای ته ځان ورسوي او بله چاره نه وي مګر همدا يوه چاره.

**د جمعې لاندې کول:**

چا چې د جمعې د لمانځه په دويم رکعت کې له امام سره رکوع لاندې کړه؛ هغه د جمعې لمونځ لاندې کړی دی؛ او دوه رکعته خپل لمونځ پوره کوي. او که په دويم رکعت کې رکوع لاندې نه کړي؛ نو د جمعې لمونځ له هغه څخه تير شوی، هغه دې د ماسپښين د لمانځه په څير څلور رکعتونه پوره کړي. همدارنګه له چا څخه چې د خوب او يا بل څه له امله د جمعې لمونځ قضا شي، هغه دې د ماسپښين د لمانځه په څير ادا کړي.

**پنځلسم: د عذر لرونکو خلکو لمونځ:**

لومړی: د ناروغ لمونځ:

لومړی: ناروغ بايد د خپل توان سره سم لمونځ ادا کړي. د هغه لپاره جواز نلري چې لمونځ وځنډوي تر هغه وخته پورې چې عقل ترې نه وي تللی.

---

[1] بخاري په شمېره (٩٣۴)، او مسلم په شمېره (٨٥١) کې نقل کړي.

دوهم: ناروغ څنګه لمونځ وکړي؟

۱ـ ناروغ باید په ولاړه لمونځ وکړي که د تکلیف او ضرر پرته ولاړېدلی شي، او رکوع او سجده دې وکړي.

۲ـ که په رکوع او سجده کولو سره هغه ته ضرر رسیږي په داسې حال کې چې ولاړېدلی شي؛ په ولاړه دې د رکوع لپاره اشاره وکړي، او په ناسته دې د سجدې لپاره اشاره وکړي.

۳ـ که په ولاړه لمونځ نه شي کولای، په ناسته دې لمونځ وکړي، سنت دا دي چې د قیام په موقع کې پلتۍ ووهي، د رکوع لپاره اشاره وکړي، او که امکان ولري په ځمکه دې سجده وکړي، که نه نو د سجدې لپاره دې هم اشاره وکړي، خو د رکوع څخه لږه ټیټه.

۴ـ که په ناسته باندې لمونځ نشي کولی قبلې ته مخامخ په څنګ (اړخ) دې لمونځ وکړي، او ښي اړخ غوره دی که ورته اسانه وي، او د رکوع او سجدې لپاره دې اشاره وکړي.

۵ـ که په اړخ سره لمونځ نشي کولی؛ په ملاستی (شا) باندې دې څملي او لمونځ دې وکړي، او پښې دې قبلې ته مخامخې کړې، د رکوع او سجدې لپاره دې اشاره وکړي.

۶ـ که د رکوع او سجدې لپاره په خپل بدن سره اشاره کول ممکن نه وي؛ خپل سر باندې دې اشاره وکړي؛ او که دا هم ورته ستونزمن وي؛ له هغه څخه اشاره کول ساقطیږي، او د لمانځه عملونه دې په خپل زړه کې ترسره کړي، نو د رکوع، سجدې او د جلسې د اعمالو نیت دې وکړي که څه هم هغه په

خپل وضعیت کې وي، او د یادو عملونو اذکار دې ووایي.

۷- ناروغ دې د لمانځه له شرایطو څخه هغه څه ترسره کړي چې توان یې لري، لکه: قبلې ته مخامخ کېدل، په اوبو سره اودس کول، یا تیمم د ناتوانۍ په حالت کې، او له نجاست څخه پاکوالی، او که د دې توان نه لري، له هغه څخه ساقطیږي، او د خپل حالت سره سم دې لمونځ اداء کړي، او لمونځ دې له خپل وخت څخه نه ځنډوي.

۸- د ناروغ لپاره سنت دا دي چې د قیام او رکوع پر مهال دې پلتۍ ووهي، او له هغو څخه پرته دې پښې وغځوي.

دوهم: د مسافر لمونځ:

۱- د عذر لرونکو له جملې څخه: مسافر دی، نو د هغه لپاره د څلور رکعتي لمونځ دوه رکعته کول روا دي. الله تعالی فرمايي:

﴿وَإِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَقۡصُرُواْ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ...﴾

(او کله مو چې په ځمکه کې سفر کولو نو څه ګناه درباندې نشته چې د لمانځه نه څه رالنډ کړئ...) [النساء: ۱۰۱].

او له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې فرمايي:

«خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ مِنَ الْمَدِينَةِ إِلَى مَكَّةَ، فَكَانَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ، حَتَّى رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ».

«موږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره له مدینې څخه مکې ته لاړو او دوه دوه رکعته لمونځ مو وکړ، تر دې چې بېرته مدینې ته راغلو».[1]

د مسافر د قصر لمونځ د هغه له هیواد (ښار) څخه په وتلو سره پیلیږي، ځکه چې الله د هغه چا لپاره چې سفر کوي روا ګرځولي چې قصر وکړي، او مخکې لدې چې له خپل هېواد (ښار) څخه ووځي، نه په ځمکې کې سفر کوونکی او نه مسافر نه بلل کیږي، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د سفر په صورت کې لمونځ قصر کاوه.

۲- هغه مسافه چې مسافر یې پرې کول غواړي د لمانځه لنډول (قصر) یې روا دي، تقریباً اتیا کیلومتره ده،

۳- مسافر په راستنېدو کې هم قصر کولای شي تر هغه وخته پورې چې هغه هېواد (ښار) ته ننوځي چې له هغه ځایه وتلی و.

۴- کله چې مسافر کوم هېواد ته ورسیږي او هلته استوګنه وغواړي؛ هغه لره درې حالتونه دي:

الف- چې د څلورو ورځو څخه د ډیرو ورځو پاتې کېدو نیت وکړي؛ هغه باید له لومړۍ ورځې څخه چې اقامت کوي لمونځ بشپړ ادا کړي، او د سفر له رخصت څخه دې ګټه نه اخلي.

ب- چې د څلور ورځو یا له هغې څخه د لږ وخت لپاره د پاتې کیدو نیت وکړي؛ د هغه لپاره د سفر له قصر او نورو

[1] بخاري په شمېره (۱۰۸۱)، او مسلم په شمېره (۶۹۳) کې نقل کړي.

رخصتيو څخه ګټه اخیستل روا دي.

ج- چې د ټاکلې مودې لپاره د پاتې کېدو نیت ونلري، بلکې د ځای د مناسب والي له مخې ممکن یوه ورځ یا لسو ورځو لپاره پاتې شي، او یا دا چې د درملنې یا مراجعې موخه ولري، نو کله چې هدف یې بشپړ شي،خپل هیواد ته ستنیږي، د ده لپاره روا دی چې لمونځونه قصر (لنډ) کړي او د سفر له مرخصیو څخه تر بیرته راستنیدو پورې ګټه واخلي، که څه هم د هغه د پاتې کېدو موده له څلورو ورځو څخه زیاته وي.

۵- که مسافر د مقیم امام تر شا لمونځ وکړي؛ هغه باید لمونځ پوره ادا کړي، که څه هم د اخري تشهد پرته یې نه وي نیولی.

۶- که مقیم د مسافر تر شا لمونځ وکړي چې قصر لمونځ کوي؛ مقیم ته لازم ده چې خپل لمونځ د امام تر سلام وروسته بشپړ کړي.

## شپاړسمه : د اخترونو لمونځ:

د مسلمانانو اخترونه الهي اخترونه دي، چې الله تعالی د دوی لپاره وضع کړي دي، دوی له ځانه ندي وضع کړي، او هغوی لره یوازې دوه اخترونه دي، چې هغه: کوچنی اختر او لوی اختر دي. د کفارو او یا د بدعتیانو د اخترونو پر خلاف چې الله تعالی هغې باندې نه حکم او نه امر کړی، بلکې دوی له خپل ځانه قانون جوړ کړی دی.

د دوو اخترونو د لمانځه حکم:

هغه کفایي فرض دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او خلفاء راشدینو رضي الله عنهم أجمعین پرې همېشوالی

کړی، دا د دین له نښانو او شعائرو څخه دي.

د دوو اخترونو د لمانځه وخت: د اختر د لمانځه وخت هغه وخت پیلیږي چې لمر د نېزې په لوړوالي راختلی وي، یعنې: د لمر له راختلو څخه پنځلس دقیقې وروسته، او وخت یې د لمر له زوال سره سم ختمیږي.

د دوو اخترونو د لمونځونو طریقه:

۱- په لومړي رکعت کې د تکبیر تحریمې تکبیر ویل کیږي، بیا د استفتاح دعا ویل کیږي، بیا شپږ تکبیرونه ویل کیږي، په هر تکبیر سره لاسونه پورته کیږي، د الله حمد او ثنا ویل او پر رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ویل کیږي، بیا بسم الله او اعوذ بالله وایي، او بیا په قراءت پیل کوي.

۲- په دویم رکعت کې د تکبیر له ویلو وروسته پنځه تکبیرونه وایي، بیا اعوذ بالله او بسم الله وایي، او په قراءت پیل کوي، په لومړي رکعت کې له فاتحې وروسته د سورت الاعلی لوستل او په دوهم رکعت کې سورت الغاشیه لوستل مستحب دي.

۳- کله چې امام سلام وګرځوي؛ منبر ته پورته کیږي، دوه خطبې وایي، او د هغو په منځ کې یوه خفیفه ناسته کوي، لکه څنګه چې د جمعې په خطبه کې یې کوي.

د اختر سنتونه:

الف- غسل.

ب- نظافت او خوشبویي استعمالول.

ج- د کوچني اختر په ورځ له کور څخه د وتلو نه مخکې خوراک کول، او لوی اختر کې د لمانځه څخه وروسته له

خپلې قرباني څخه خوراک کول، که قرباني يې کړې وي.

د- لمانځه ته په پښو تلل.

هـ - له يوې لارې تلل او له بلې لارې بيرته راتلل.

و- د لمانځه ځای ته د مقتدي وختي تګ پرته له امام څخه.

تکبير:

د دوو اخترونو په شپو کې، د ذوالحجې په لومړيو لسو ورځو کې، او د تشريق په ورځو کې تکبير ويل سنت دي، او په دوه ډوله دي:

لومړی ډول: مطلق تکبير: کوم چې په معين وخت کې مقيد نه وي.

۱- کوچني اختر کې: د اختر په شپه د لمر له لوېدو څخه د اختر د لمانځه تر شروع کېدو پورې.

۲- لوی اختر کې: د ذی الحجې د لومړۍ ورځې له لمر لوېدو څخه د تشريق د وروستۍ ورځې تر لمر لوېدو پورې.

دويم ډول: مقيد تکبير: کوم چې د فرض لمونځونو نه وروسته محدود مقيد دی.

۱- د محرم کس څخه پرته: د عرفې د ورځې له سهار څخه د تشريق د ورځو د مازديګر پورې.

۲- محرم کس لپاره: د اختر په ورځ د ماسپښين له لمانځه څخه د تشريق د اخري ورځو تر مازديګر پورې.

**اوولسم: د کسوف لمونځ:**

د خسوف او کسوف معنا:

خسوف: په شپه کې د سپوږمۍ د ټولې رڼا او يا د يوې

برخې ورکېدل دي.

او کسوف : په ورځ کې د ټول لمر وړانګې ورکېدل یا د یوې برخې ورکېدل دي.

د کسوف د لمانځه حکم:

موکد سنت دی، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له عمل څخه ثابت دی، نو هغه ﷺ د کسوف لمونځ ادا کړ کله چې د هغه په زمانه کې لمر ونیول شو، او همدارنګه دې لمونځ باندې هغه ﷺ امر کړی، او علماوو په اجماع سره د هغې پر مشروعیت اتفاق کړی دی.

وخت یې:

د خسوف او یا کسوف له پیل څخه تر څرګندیدو پورې، چې هغه د خسوف او کسوف له منځه تلل دي.

طریقه یې:

د رکعتونو شمېر یې دوه رکعته دی، چې په لوړ آواز سره تلاوت کوي، او طریقه یې په لاندې ډول ده:

الف- تکبیر تحریمه وایي، استفتاح، اعوذ بالله او بسم الله وایي، سورة فاتحه تلاوت کوي، بیا اوږد قرائت کوي.

ب- بیا اوږده رکوع کوي.

ج- بیا له رکوع څخه پاڅیږي او وایي: (سمع الله لمن حمده)، بیا سورة فاتحه تلاوت کوي، بیا اوږد قرائت کوي لیکن له لومړي رکعت څخه باید لنډ وي.

د- بیا اوږده رکوع کوي چې د لومړی رکوع څخه لنډه وي.

ه- بیا له رکوع څخه پاڅیږي او وایي: (سمع الله لمن حمده).

و- بیا دوه اوږدې سجدې کوي.

ز- بیا د دویم رکعت لپاره پاڅیږي، چې د لومړي رکعت په څیر دی، خو تر هغه لنډ.

سنتونه یې:

الف- د هغې لپاره غږ کول: الصلاة جامعة (لمونځ تیار دی).

ب- په جماعت سره لمونځ کول.

ج- په رکوع، سجده او قیام کې اوږدلوالی.

د- دویم رکعت باید له لومړي رکعت څخه لنډ وي.

ه - له هغې وروسته وعظ کول، او طاعتونو ته مخه کول او له منکراتو څخه ډډه کولو باندې ټینګار.

و - ډېره دعا، عاجزي، استغفار، او صدقه ورکول.

**اتلسم: د استسقا لمونځ:**

۱) استسقاء: د وچکالۍ په وخت کې له الله تعالی څخه د باران د ورېدلو په هدف د باران غوښتنه ده.

د استسقا لمونځ دمشروعیت وخت:

د استسقا لمونځ هغه مهال روا کیږي چې وچکالي وي، ځمکه وچه شي، باران ودریږي، او د هغې د بندېدو له امله ضرر پیښ شي، نو د دوی لپاره بله چاره نه شته پرته له دې چې خپل رب ته تضرع وکړي او د باران غوښتنه وکړي او د هغه څخه په ډول ډول زاریو مرسته وغواړي:

الف- کله په جماعت او کله هم په انفرادي توګه لمونځ کول.

ب- او کله د جمعې په خطبه کې دعا کول، خطیب به دعا

کوي او نور مسلمانان د هغه د دعا لپاره "آمين" وايي.

ج- او کله پرته له لمونځ او خطبې څخه په هر وخت کې دعا کول.

د استسقا د لمانځه حکم:

د سبب په موجوديت کې موکد سنت دی، ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم کړی دی، لکه څنګه چې د عبدالله بن زيد رضي الله عنه په حديث کې راغلي دي:

«خَرَجَ النَّبِيُّ ﷺ إِلَى الْمُصَلَّى، فَاسْتَسْقَى، وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، وَقَلَبَ رِدَاءَهُ، وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ».

«رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمانځه ځای ته ولاړ، او د باران غوښتنه يې وکړه، قبلې ته يې مخ کړ، څادر يې په بل مخ کړ، او دوه رکعته لمونځ يې وکړ».[1]

د استسقا د لمانځه طريقه:

د استسقا د لمانځه طريقه په خپل وضعيت کې لکه د اختر د لمانځه په څېر ده، د اختر د لمانځه په څير په عيدګاه کې يې ادا کول دي، او احکام يې د اختر د لمانځه د احکامو په څېر دي؛ د رکعتونو په شمېر کې، په لوړ غږ تلاوت کول، او دا چې د خطبې څخه مخکې ادا کيږي، او په اضافي تکبيرونو کې په لومړي او دويم رکعت کې د تلاوت څخه مخکې، لکه څنګه چې مخکې د دوو اخترونو په لمانځه کې تشريح شوه. او يوه خطبه ويل کيږي.

[1] بخاري په شمېره (۱۰۱۲)، او مسلم په شمېره (۸۹۴) کې نقل کړي.

## نولسم: د جنازو احکام:

لومړی: مسنونه طريقه د کوم کس لپاره چې د چا د ځنکدن په وخت له هغه سره وي:

۱ـ هغه کس چې د چا د ځنکدن په وخت له هغه سره وي: سنت دا ده چې هغه لره (لا اله الا الله) تلقين کړي،

۲ـ مخ يې قبلې خوا ته اړول سنت دي.

۳ـ سترګې يې پټې کړای شي.

۴ـ له مړينې وروسته مړی په جامو کې پټول.

۵ـ د مړي ژر تر ژره چمتو کول.

۶ـ په بيړې سره يې د پورونو ادا کول واجب دي.

۷ـ مړي ته بايد غسل او کفن ورکړل شی، او دا فرض کفايي دي.

دوهم: مړي باندې د لمانځه احکام:

حکم يې: فرض کفايي ده.

شرطونه يې:

۱ـ قبلې ته مخامخ کېدل.

۲ـ د عورت پټول.

۳ـ له نجاست څخه ځان ساتل.

۴ـ د لمونځ کوونکي پاکوالی او د هغه کس چې لمونځ پرې کيږي.

۵ـ د لمونځ کوونکي اسلام او د هغه کس اسلام چې هغه باندې لمونځ کيږي.

۶ـ په جنازه کې ګډون که په هېواد کې وي.

۷- باید مکلف وي.

رکنونه يې:

۱- قيام یا ولاړېدل.

۲- څلور تکبیرونه.

۳- د فاتحې سورت لوستل.

۴- پر رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ویل.

۵- مړي ته دعا کول.

۶- ترتیب.

۷- سلام ګرځول.

سنتونه يې:

۱- له هر تکبیر سره د لاسونو پورته کول.

۲- اعوذ بالله ویل.

۳- د ځان او مسلمانانو لپاره دعا کول.

۴- په خفیه سره قرائت کول.

۵- د څلورم تکبیر نه وروسته او له سلام نه مخکې لږ تم کېدل.

۶- ښی لاس په چپ لاس پر سینه اېښودل.

۷- د سلام په وخت کې ښي لوري ته مخ اړول.

طریقه يې:

امام او منفرد د نارینه مړي ته د هغه د سینې په برابرۍ درېږي او ښځینه مړي ته په وسط کې ودرېږي، او تکبیر تحریمه وايي، اعوذ بالله وايي، د استفتاح دعا نه لولي، بسم الله

وايي او بیا وروسته د فاتحی سورت لولي.
بیا تکبیر وايي، او له هغه وروسته پر رسول الله صلی الله علیه وسلم درود وايي، بیا تکبیر وايي، او د مړي لپاره په هغه څه باندې دعا غواړي چې نقل شوي دي، لکه د هغهﷺ دغه قول:

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا، وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا، وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا، وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا، اللَّهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الإِيمَانِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الإِسْلَامِ، اللَّهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ، وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهُ».

"اې الله زمونږ ژوندي او زمونږ مړي، زمونږ ماشومان او بوډاګان، زمونږ نارینه او ښځینه، زمونږ حاضران او غاییانو ته بخښنه وکړه، اې الله زموږ څخه دې چې څوک ژوندي ساتلي دي د ایمان په رڼا کې یې ژوندي وساته، او زموږ څخه چې څوک وفاتوې د اسلام په رڼا کې یې وفات کړه، اې الله موږ په دې مړې (باندې د صبر کولو) له اجر څخه مه محرومو‌ه او وروسته له هغه څخه مو مه ګمراه کوه".[1]
او یا دغه دعا ویل:

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ، وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ، وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ، وَوَسِّعْ

---

[1] ابو داود په شمېره (۳۲۰۱)، او ترمذي په شمبره (۱۰۲۴) کې نقل کړي، او ویلي یې دي چې: حدیث حسن صحیح دی.

مَدْخَلَهُ، وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثلْجِ وَالْبَرَدِ، وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ، وَأَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ، وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ، وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ، وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ».

"اې الله دا مړی وبخښه او رحم پرې وکړه، له سختيو يې وساته، او معافي ورته وکړه، د ده ښه ميلمستيا وکړه، د ورتلو ځای يې پراخه کړه، او په اوبو او واوره او ګلۍ باندې يې ووينځه، او د ګناهونو څخه يې داسې پاک کړه څنګه چې تا سپينه جامه له خيرې څخه پاکه کړې ده، او دده د کور نه ده ته غوره کور ورکړه، او اهل؛ غوره د ده له اهل څخه، او غوره ملګرى دده له ملګري نه، او جنت ته يې داخل کړه، او د قبر او جهنم د عذاب څخه يې وساته".[1] بيا به تکبير ووايي، او د لږ وخت لپاره دې تم شي، بيا به ښي لوري ته يو ځل سلام ووايي.

### دريم مبحث: زکات:

#### ۱- د زکات تعريف او مقام يې:

زکات په لغت کې: ودې او ډيروالي ته وايي.

زکات په اصطلاح کې: يو شرعي واجب حق دى په خاص مال کې د خاصې ډلې لپاره.

او دا د اسلام له رکنونو څخه دريم رکن دى. دا په قرآن

---

[1] مسلم په شمېره (۹۶۲) کې نقل کړى.

كريم كې په دوه اتيا ځايونو كې د لمانځه سره يو ځاى ذكر شوى دى چې د هغې په عظمت او ارزښت دلالت كوي.

الله تعالى فرمايي:

﴿وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ...﴾

(او لمونځ قائم كړئ او زكات وركړئ). [البقرة: ٤٣].

او هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«بُنِيَ الإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَحَجِّ الْبَيْتِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ».

"اسلام په پنځو شيانو ولاړ دى: ګواهي وركول چې له الله پرته بل حق معبود نشته او دا چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله رسول دى، لمونځ قايمول، زكات وركول، حج كول، او د رمضان د مياشتې روژه نيول".[1]

مسلمانانو د هغې په فرضيت باندې اجماع كړې، او د هغه چا په كفر باندې چې د هغې له فرضيت څخه انكار كوي، او د هغه چا سره جنګ كول چې زكات نه وركوي.

**٢- د زكات د وجوب شرطونه:**

الف- آزادي: په غلام باندې واجب ندى؛ ځكه چې هغه مال نه لري، او څه يې چې په لاس كې دي هغه د مالک دي، نو د

[1] بخاري په شمېره (٨)، او مسلم په شمېره (١١١) كې نقل كړي.

هغه زكات په مالک باندې دی.

ب- اسلام: په كافر باندې واجب ندی؛ ځكه دا تقرب او اطاعت دی، او كافر د تقرب او اطاعت لپاره اهل ندی.

ج- د نصاب مالكيت: له نصاب څخه چې كم وي هغې باندې زكات واجب ندی، او هغه د مال معلوم مقدار دی.

د- بشپړ مالكيت: دا چې مال په بشپړه توګه د شخص ملكيت وي، په هغه مال باندې زكات نشته چې مالكيت يې نه وي ثابت شوی، لكه د كتابت پور.

هـ- مال باندې يو كال تېرېدل: د عائشې رضی الله عنها د حديث پر بنياد:

«لَا زَكَاةَ فِي مَالٍ حَتَّى يَحُولَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ».

««تر څو چې يو كال تېر نه شي مال باندې زكات نشته»».[1]

**٣- هغه مال چې زكات پرې واجبيږي:**

لومړی: څاروي:

او هغه: اوښان، غواګانې او پسونه دي، او زكات يې په دوو شرطونو واجبيږي:

١- چې د لوشلو او بچي راوړلو لپاره وي، نه د كار لپاره.

٢- سائمه وي (هغه چې څرول كيږي). په هغو څارويو باندې زكات نشته چې د هغو لپاره واښه په بيه اخيستل كيږي، او يا يې له بوټو يا نورو شيانو څخه راټول كړي وي، او په هغه څارويو كې زكات نشته چې په كال كې څه موده وڅريږي

[1] ابن ماجه په شمېره (١٧٩٢)، او ترمذي په (٦٣) او (٦٣١) شمېرو كې نقل كړي.

نه ټول او یا د کال ډیری برخه.

د څارویو د زکات نصاب:

۱ـ د اوښ زکات:

که شرطونه پوره وي؛ هر پنځم اوښ کې یو پسه دی، هرو لسو کې دوه پسونه، هرو پنځلسو کې درې پسونه، او په هرو شلو کې څلور پسونه. لکه څنګه چې سنت او اجماع پر دې باندې دلالت کوي، کله چې پنځه ویشتو ته ورسیږي نو په هغې کې بنت مخاض دی او هغه دا چې: یو کال یې پوره کړی وي او دوهم کال ته داخله شوې وي، او د نه شتون په صورت کې ابن لبون (د اوښ نر بچی چې دویم کال یې بشپړ کړی وي) د هغې ځای ناستی کیدلی شي.

او کله چې اوښان شپږ دېرشو ته ورسیږي؛ هغې باندې بنت لبون واجبیږي، کومه اوښه چې دوه کاله یې بشپړ کړې وي.

کله چې اوښان شپږ څلوېښتو ته ورسیږي؛ هغې باندې حقة واجبیږي، چې درې کاله یې بشپړ کړي وي.

او کله چې اوښان یو شپېتو ته ورسیږي؛ هغې باندي جذعة واجبیږي، هغه چې څلور کاله یې بشپړ شوي وي.

او کله چې اوښان شپږ اویا ته ورسیږي؛ هغې باندي دوه بنت لبون واجبیږي.

کله چې اوښان یو نوي ته ورسیږي؛ هغې باندې دوه حقې واجبیږي.

او کله چې د اوښانو شمېر له یو سل او شل څخه زیات شي،

نو هغې باندې درې بنت لبون واجبيږي، او بيا په هرو ځلوېښتو اوښانو کې يوه بنت لبون واجبيږي، او بيا په هرو پنځوسو اوښانو کې يوه حقه واجبيږي.

۱- د غواګانو زکات:

کله چې شرطونه پوره شي، او دېرشو ته ورسيږي تبيع او يا تبيعه پکې واجبيږي: هغه خوسکي يا خوسکۍ ته ويل کيږي چې هر يو يې يو کال پوره کړی وي او دويم کال يې پيل کړی وي.

او له دېرشو څخه کم باندې زکات نشته.

او کله چې څلويښتو ته ورسيږي، يوه مسنه غوا ورباندې واجبيږي، کومه چې: دوه کاله يې پوره شوي وي.

کله چې د غواګانو مجموعه له څلويښتو څخه زياته شي نو په هرو دېرشو باندې يو تبيع او يا تبيعه، او په هرو څلويښتو کې يوه مسنه واجبيږي.

۳- د پسونو زکات:

که د پسونو شمېر څلوېښتو ته ورسيږي، که هغه پسه وي يا وزه، نو هغې باندې يو پسه واجبيږي، چې هغه د پسه بچی دی او يا د وزې ښځينه بچی دی.

که د پسونو شمېر له څلوېښتو څخه کم وي، هغې باندې زکات نشته. که د پسونو ټولټال شمير يو سل او يوويشت ته ورسيږي، هغې باندې دوه پسونه واجبيږي. که دوه سوه او يو ته ورسيږي، هغې باندې درې پسونه واجبيږي.

بيا له دې مقدار وروسته فرض استقرار پيدا کوي، او په

هر سلو پسونو باندې یوه پسه واجبیږي، او په څلورو سوو پسونو باندې څلور پسونه واجبیږي، او داسې نور په همدې ترتیب سره.

دویم: د ځمکې د حاصلاتو زکات:

د ځمکې حاصلات په دوه ډوله دي:

۱) غلې دانې او میوې.

۲) معدنونه (منرالونه).

لومړی ډول: غلې دانې او میوې:

په غله جاتو کې لکه: غنم، وربشې او وریجې زکات واجبیږي. او په مېوو کې لکه: کجورې او ممیز او په نورو نباتاتو لکه، حبوبات او سبزیجاتو کې زکات نه واجبیږي.

د غلو او میوو د زکات د واجبېدو شرطونه:

۱) چې ذخیره وي: په هغه شي باندې زکات نشته چې نه وي ذخیره شوي لکه مېوې او سبزیجات.

۲) چې د اندازه کولو وړ وي: نو په هغه څه باندې زکات نشته چې په شمېرلو یا تول باندې خرڅېږي لکه هندوانه، پیاز، انار او داسې نور.

۳) چې نصاب ته ورسیږي: چې دا پنځه وسقه (شپېته پیمانې، یا ۶۵۳ کیلو ګرام) وي او له دې څخه په کم څه باندې زکات نشته.

۴) چې نصاب د زکات د فرض کېدو پر مهال کې په ملکیت کې وي.

چا چې د زکات له وخت نه وروسته خپل کړ، په هغه باندې

زکات فرض ندی، لکه د حاصل له راټولو وروسته چا اخیستی وي او یا چا تحفه ورکړی وي.

د زکات د واجبېدو وخت:

په حبوباتو او میوو کې زکات هغه وخت واجبیږي کله چې پاخه شي. د پخیدو نښه په لاندې ډول ده:

الف- په حبوباتو کې: کله چې کلک او سخت شي.

ب- د کجوري په میوو کې: کله چې سور یا زیړ شي.

ج- په انګورو کې: تر څو نرم او خواږه شي.

نصاب یې:

د حبوباتو او میوو نصاب: پنځه وسقه (شپېته پیمانې، یا ۶۵۳ کیلو ګرامه). او وسق شپېته صاعه (پیمانې) دي، نو نصاب درې سوه نبوي صاعه دي، او نصاب په کیلوګرامو کې تقریبا ۹۰۰ کیلوګرامه دی.

هغې کې د زکات واجب اندازه:

په هغه څه باندې چې پرته له وسایلو او لګښت څخه خړوبیږي عُشر واجبیږي، لکه د باران او د چینو په اوبو سره چې خړوبې شوي وي.

په هغه څه باندې چې په لګښت او سختۍ خړوبیږي په هغې کې د عُشر نیمایي واجبیږي، لکه هغه څه چې د څاګانو او سیندونو څخه د څارویو یا عصري ماشینونو په واسطه خړوبیږي.

دوهم ډول: معدنونه (منرالونه):

هغه څه چې له ځمکې څخه راویستل کیږي: معدنونه

(منرالونه)، دا هغه څه دي چې له ځمکې څخه رایستل کیږي پرته لدې چې د هغې له جنس څخه وي؛ لکه سره زر، سپین زر، اوسپنه او جواهر.

د زکات د واجبېدلو وخت يې:

کله چې هغه ترلاسه کړي او مالکیت یې ولري؛ پرته له ځنډ څخه یې باید زکات وباسي، ځکه چې د یو کال تېرېدل په کې لازم ندی. نصاب یې د سرو او سپینو زرو نصاب دی، او د هغې د قیمت د عُشر څلورمه برخه باید ترې زکات ورکړل شي.

دریم: د اثمانو (قیمتي شیانو) زکات:

او اثمان: سره زر، سپین زر او بانکي نوټونه دي، چې زکات ورکول یې واجب دي او دلیل یې د الله تعالی قول دی:

﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾﴾

(او هغه کسان چې سره زر اوسپین زر خزانه کوي او هغه د الله په لاره کې نه لګوي، نو دوی ته د ډېر دردوونکي عذاب زېری ورکړه). [التوبة: ٣٤].

او په حدیث کې راغلي:

«مَا مِنْ صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلَا فِضَّةٍ لَا يُؤَدِّي فِيهَا حَقَّهَا؛ إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صُفِّحَتْ لَهُ صَفَائِحُ مِنْ نَارٍ».

«د سرو زرو او سپینو زرو هیڅ مالک نشته چې حق یې

نه ادا کوي؛ مګر دا چې د قیامت په ورځ به د ده لپاره د اور تختې کېښودل شي».[1]

علماوو په دې خبره اتفاق کړی چې زکات په سرو زرو او سپینو زرو کې واجب دی، او بانکنوټونه هم د سرو او سپینو زرو په شان حکم لري؛ ځکه چې دا د نغدو معاملو په بدل کې د هغو ځای ناستي دي.

په اثمانو کې د زکات نصاب او د زکات اندازه:

د اثمانو (قیمتی شیانو) زکات د سرو زرو او سپینو زرو نصاب دی، ځکه چې اثمان د دې دواړو په ځای د قیمت په حیث کارول کیږي، نو کله چې نصاب یې د دوی له یو نصاب ته ورسیږي، په هغه کې زکات لازمیږي، او په نن ورځ د پیسو د نصاب ټاکل معمولاً د سپینو زرو په اساس دی؛ ځکه چې سپین زر له سرو زرو ارزانه دي، نو د سپینو زرو نصاب پرې ژر پوره کیږي، که یو مسلمان د (۵۹۵) ګرامه سپینو زرو په اندازه مال ولري، او یو کال پرې تېر شي نو زکات پرې واجبیږي. او د سپینو زرو قیمت وخت په وخت تغیر کوي، نو څوک چې لږ مال ولري او پدې نه پوهیږي چې نصاب ته رسېدلی که نه، نو د سپینو زرو له تاجرانو څخه دې د یو ګرام سپینو زرو د ارزښت پوښتنه وکړي، بیا دې په (۵۹۵) ضرب کړي، او حاصل یې د زکات نصاب دی.

فایده: که غواړې د خپل مال زکات وباسې؛ نصاب باید په څلویښتو تقسیم کړي، او کومه نتیجه چې لاس ته راځي هغه واجب مقدار دی.

---

[1] بخاري په شمېره (۱۴۰۲)، او مسلم په شمېره (۲۲۸۷) کې نقل کړي.

څلورم: د سوداګریزو مالونو زکات:

دا هغه څه دي چې د پلورلو، اخیستلو، او ګټې لپاره چمتو شوي وي، سوداګریزو مالونو کې د غیر نغدي پیسو ټول ډولونه شامل دي؛ لکه موټر، جامې، ټوکر، اوسپنه، لرګي او داسې نور چې د تجارت لپاره چمتو شوي وي.

په سوداګریزو مالونو کې د زکات د فرضیت شرطونه:

۱- دا چې په کار سره د هغو مالک وي: لکه خرڅول، کرایه ورکول او داسې نور د ګټې اخیستلو لارې.

۲- د تجارت په نیت د هغو مالک وي: نیت یې د کسب او مال لاسته راوړل وي، ځکه چې عملونه په نیت ولاړ دي، او تجارت عمل دی، نو د نورو اعمالو په شان نیت هم ورسره تړلی وي.

۳- دا چې قیمت یې د دوو نقدو څخه یو ته په نصاب کې ورسیږي .

۴- د یو حول تیرېدل، چې هغه د کال تیرېدل دي.

د مالونو د زکات ورکولو طریقه:

د مالونو قیمت د کال په پای کې د دوو نقدو (سرو زرو یا سپینو زرو) له مخې ټاکل کیږي او زکات یې وېستل کیږي، کله چې د دوو نقدو سره یې قیمت معلوم شي او له هغو څخه یو باندې نصاب ته ورسیږي؛ د هغې د قیمت د لسمې څلورمه برخه ایستل کیږي.

پنځم: د فطر صدقه (سرسایه):

دا هغه صدقه ده: چې د روژې د میاشتې په پای کې واجبیږي. او د هجرت په دویم کال کې فرض شوی ده.

حکم يې:
د فطر صدقه په هر مسلمان واجب ده چې د اختر په ورځ او شپه کې د ځان او کورنۍ لپاره د کفايت څخه زيات خوراک ولري. په هر مسلمان، نارينه او ښځينه، ماشوم او بوډا، آزاد او غلام باندې فرض ده. ددې حديث پر اساس:

«فَرَضَ رَسُولُ اللهِ ﷺ زَكَاةَ الْفِطْرِ عَلَى الْعَبْدِ وَالْحُرِّ، وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى، وَالصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ، مِنَ الْمُسْلِمِينَ».

"رسول الله صلى الله عليه وسلم په هر مسلمان غلام او آزاد، نر او ښځې، ماشوم او بوډا باندې صدقه فطر فرض کړې ده".[1] او فرض: د واجب او الزاميت په معنا دی.

د مشروعيت حکمت يې:
ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي:

«فَرَضَ رَسُولُ اللهِ ﷺ زَكَاةَ الْفِطْرِ؛ طُهْرَةً لِلصَّائِمِ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ، وَطُعْمَةً لِلْمَسَاكِينِ».

"رسول الله صلى الله عليه وسلم د فطر صدقه د روژه نيونکي لپاره د فضول او فحش خبرو څخه د پاکوالي او د مسکينانو لپاره د يوې مړې ډوډۍ لپاره فرض کړې ده».[2]

د وجوب او ادا کولو وخت يې:
د فطر صدقه زکات ورکول د اختر د شپې د لمر له لوېدو

---

[1] بخاري په شمېره (۱۴۳۲)، او مسلم په شمېره (۹۸۴) کې نقل کړي.
[2] ابو داود په شمېره (۱۶۰۹)، او ابن ماجه په شمېره (۱۸۲۷) کې نقل کړي، او للباني په صحيح ابو داود شمېره (۱۶۰۹) کې صحيح بللی.

څخه پیلیږي، او مستحب ده چې د اختر په ورځ د اختر لمانځه ته له تللو مخکې ادا شي، د اختر له لمانځه نه وروسته کول یې جواز نلري. که د اختر د لمانځه څخه وروسته یې وځنډوي؛ نو قضایي ادا کول یې پرې واجب دي، او دغه کس د تاکل شوي وخت څخه وروسته په ځنډولو سره د ګناه مرتکب شوی دی.

دا ممکن ده چې د اختر څخه یوه یا دوه ورځې وړاندې ادا شي.

۵- اندازه یې او هغه څه چې سرسایه ورباندې ادا کیږي:

د هیواد د خلکو لپاره د معمول خوړو یو صاع (پیمانه)؛ لکه وریجې، خرما، غنم او داسې نور. او د یو صاع (پیمانې) اندازه: تقریبا درې کیلوګرامه ده. په بدل کې یې د قیمت ویستل د پیسو په ورکولو سره جواز نلري؛ ځکه چې دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکم خلاف دي.

د زکات ادا کول او د مصرف ځای یې:

د ادا کولو وخت یې:

زکات باید سمدلاسه ادا شي کله چې یې تاکل شوی وخت راشي. پرته له ضرورته د هغې ځنډول جواز نلري، لکه دا چې مال په کوم لرې هېواد کې وي او د وکالت لپاره څوک نه وي.

د ادا کولو ځای یې:

زکات په هغه ملک کې ورکول غوره دي چې مال په کې وي. په لاندې حالتونو کې له هغه هیواد څخه چې مال په کې دي بل هیواد ته لیږدول جواز لري:

الف- کله چې په دې ملک کې د زکات اړمن خلک نه وي.

ب- که په بل هېواد کې اړمن خپلوان ومونډل شي.

ج- که کوم مشروع مصلحت وي چې د مال د انتقال غوښتنه کوي، لکه: د قحط او سیلاب ځپلو مسلمانانو سیمو ته د هغې لیږدول.

د ماشوم او لیوني په مال کې زکات فرض دی، د عامو دلایلو پر اساس، او د زکات ورکولو مسئوولیت د هغوی په مال کې د سرپرست له خوا باید ادا شي. له نیت پرته د زکات ورکول جواز نلري، د هغه ﷺ په قول:

«إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ».

"عملونه د نیت پورې تړلي دي".[1]

د زکات مستحقین:

هغه طبقه خلک چې هغوی ته زکات ورکول کیږي اته دي:

لومړۍ طبقه: فقیران:

دوی هغه څوک دي چې د کور، خوړو او جامو په برخه کې بنسټیز د کفایت شیان ونلري. د زکات اندازه دوی ته ورکول کیږي، چې د هغوی د یو کال بشپړ کفایت لپاره بسنه وکړي.

دویمه طبقه: مسکینان:

دا هغه کسان دي چې له خپل کفایت څخه زیات څه ولري، مګر په بشپړ ډول یې و نه مومي، لکه: څوک چې معاش لري

---

[1] بخاري په شمېره (۱)، او مسلم په شمېره (۱۹۰۷) کې نقل کړي.

لیکن د یو کال لپاره بسنه نه کوي.

د زکات اندازه چې دوی ته ورکول کیږي: چې د یو کال لپاره د دوی او هغه چا لپاره بسنه وکړي چې دوی یې سرپرستي کوي.

دریمه طبقه: هغه کسان چې په دې برخه کې کار کوي:

دا هغه کسان دي چې د زکات د راټولولو لپاره د سرپرست لخوا ټاکل شوي، یا د هغې د ساتلو یا اړمنو کسانو ته د سپارلو مسولیت لري.

د زکات اندازه چې دوی ته ورکول کیږي: هغوی ته د کار د مزد په اندازه ورکول کیږي، که چیرته دوی ته دولت معاش یا اجرت نه ورکوي.

څلورمه طبقه: هغه کسان چې زړونه یې پخلا شي:

او دا هغه کسان دي چې په زکات ورکولو سره د هغوی د اسلام منلو هیله شتون ولري، د هغوی د ایمان د پیاوړتیا لپاره، یا د مسلمانانو په وړاندې د هغوی د شر د مخنیوي لپاره.

د زکات دومره اندازه دوی ته ورکول کیږي: په څومره چې د دوی زړونه ترلاسه کېدلای شي.

پنځمه طبقه: رقاب:

د رقاب څخه مقصد د غلامانو او مکاتبینو آزادېدل دي.

او مکاتَب: هغه مملوک ته ویل کیږي خپل ځان یې د خپل مالک څخه اخیستی وي، پدې کې: په جنګونو کې د مسلمانو بندیانو خلاصول هم شامل دي.

شپږمه طبقه: قرضداران او دوی په دوه ډوله دي:

لومړی: هغه څوک چې د خپلو ضرورتونو لپاره پوروړی وي، او د خپل پور د ادا کولو لپاره څه و نلري. هغه ته هغومره ورکول کیږي چې خپل پور ادا کړي.

دوهم: هغه څوک چې د پخلاینې له امله قرضداره شوی وي. هغه ته باید ورکړل شي ترڅو خپل پور ادا کړي، که څه هم شتمن وي.

اوومه طبقه: في سبیل الله:

هغه کسان چې د الله په لاره کې جهاد کوي.

د زکات اندازه چې دوی ورکول کیږي: څومره چې د الله په لاره کې د جهاد لپاره کافي وي؛ له سپارلۍ، وسلې، خوراک او داسې نورو څیزونو څخه.

اتمه طبقه: ابن السبیل:

هغه مسافر دی چې توښه او نفقه یې ختمه شوې وي یا ترې غلا شوې وي، او هیڅ مال ورسره نه وې چې وکولی شي خپل هیواد ته ولاړ شي.

د زکات اندازه چې دوی ته ورکول کیږي: د هغه څه په اندازه چې خپل هیواد ته یې ورسوي، که څه هم هغه په خپل هیواد کې شتمن وي.

## څلورم مبحث: روژه:

روژه عبارت دی له:

سهار راختلو څخه تر لمر لوېدو پورې الله تعالی ته د بنده

ګې په نیت د ټولو روژه ماتوونکو شیانو څخه ځان ساتل.

دا د اسلام له رکنونو څخه یو رکن دی. او د الله له فرایضو څخه یو ستر فرض دی، او ددین د پیژندل شوي ضروریاتو څخه شمېرل کیږي، قرآن، سنت او د مسلمانانو اجماع ددې په واجب والي باندې دلالت کوي.

الله تعالی فرمایي:

﴿شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُ...﴾

(روژه هغه میاشت ده چې قرآن په کې نازل کړی شوی دی، چې د خلکو لپاره هدایت او ښکاره دلیلونه دي (له جنسه د هغو شیانو) چې هغه لار ښایي او بېلوونکی د حق او باطل دی. نو هر څوک له تاسي (مکلفینو) څخه چې دا میاشت ومومي، نو هرومرو دې د دې (رمضان) روژه ونیسي). [البقرة: ١٨٥].

**د رمضان روژې د واجبېدلو شرطونه:**

١ـ اسلام، له کفارو څخه نه صحیح کیږي.

٢ـ بلوغ، نابالغ باندې واجب ندي. د تمیز کوونکي ماشوم روژه صحیح ده، او د هغه لپاره نفل حسابیږي.

٣ـ عقل، په لیوني باندې روژه فرض نده، او له هغه څخه نه صحیح کیږي، د نیت د نشتوالي له امله.

٤ـ چې د روژې نیولو وړتیا ولري. هغه ناروغ باندې نده واجب چې روژه نشي نیولی، او نه په مسافر باندې، او کله

چې عذر (ناروغي او سفر) له منځه لاړ شي قضا به يې ادا کوي. او دا چې له ښځې څخه قبوله شي، ښځه بايد: د حيض او نفاس د وينو څخه پاکه وي.

د روژې د مياشتې پيل په يو له دوو شيانو باندې ثابتيږي:

الف- د رمضان د مياشتې ليدل، دليل يې د هغه ﷺ قول دی:

«صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ، وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ».

"د مياشتې په ليدلو روژه ونيسئ، او د مياشتې په ليدلو سره يې ماته کړئ".[1]

ب- د شعبان مياشت د دېرشو ورځو پوره کول، که د رمضان مياشت ونه ليدل شي چې وريځې يا دوړې او داسې نور څه وي او د مياشتو د ليدلو مانع وګرځي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې وينا پر بنياد:

«فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ؛ فَأَكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِينَ يَوْمًا».

"که چيرې ستاسو لپاره د سپوږمۍ ليدل ستونزمن وي، نو د شعبان د مياشتې شمېر دېرش ورځې پوره کړئ".[2]

په روژه کې نيت:

روژه د نورو عبادتونو په څېر ده چې نه صحيح کيږي مګر په نيت سره، په فرضي روژه کې د نيت وخت له نورو سره توپير لري او هغه په لاندې ډول سره بيانيږي:

لومړی: فرضي روژه؛ لکه د رمضان روژه، قضايي

---

[1] بخاري په شمېره (۱۸۱۰)، او مسلم په شمېره (۱۰۸۶) کې نقل کړي.
[2] بخاري په شمېره (۱۹۰۹) کې نقل کړی.

روژه، او یا د نذر روژه، نیت یې د شپې له سهاره مخکې کیږي، د هغه ﷺ په دې قول سره:

«مَن لَمْ يُبَيِّتْ الصِّيَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَلَا صِيَامَ لَهُ».

"څوک چې د شپې لخوا د روژې نیت ونکړي، د هغه لپاره روژه نشته".[1]

دویم: نفلي روژه: او ددغې روژې لپاره د ورځې لمخې هم د روژې نیت کول صحیح دي. په دې شرط چې د صبح صادق څخه وروسته یې څه نه وي خوړلي.

د روژې ماتوونکي:

اول: جماع کول، نو کله چې جماع وشي روژه فاسدیږي، او د هغې ورځې چې جماع په کې ترسره شوې قضاء راوړل کیږي، او هغه باید د قضاء سربیره کفاره ورکړي، کوم چې د غلام آزادول دي. که هغه ونه موندل شي نو دوه میاشتې پرله پسې روژه دې ونیسي. که د شرعي عذر له امله توان ددې توان هم نه لري، نو باید شپیتو مسکینانو ته خواړه ورکړي، د هر مسکین لپاره د هیواد د خوراک څخه نیمه پیمانه (صاع) خواړه ورکړي.

دویم: د مني خارجېدل: د ښکلولو، لمس کولو، استمنا (موټي وهلو)، یا د مکرر کتلو له امله، نو قضا باید راوړي پرته له کفارې څخه؛ ځکه چې کفاره یوازې د جماع لپاره ځانګړې ده. لیکن څوک چې په خوب محتلم شي (شیطان یې

[1] احمد په شمېره (۲۶۴۵۷)، او ابو داود په شمېره (۲۴۵۴)، او نسائي په شمېره (۲۳۳۱) کې نقل کړي، او دا د هغه لفظ دی.

وغولوي)، او بيا له هغه څخه انزال وشي؛ په دې باندې هيڅ نشته؛ ځکه چې دا د هغه د ارادې پرته دی، نو د جنابت غسل دې وکړي.

دريم: په قصدي ډول خوړل او څښل، د الله تعالی په دې قول سره:

﴿وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ ٱلۡخَيۡطُ ٱلۡأَبۡيَضُ مِنَ ٱلۡخَيۡطِ ٱلۡأَسۡوَدِ مِنَ ٱلۡفَجۡرِۖ ثُمَّ أَتِمُّواْ ٱلصِّيَامَ إِلَى ٱلَّيۡلِ...﴾

(او خورئ، څښئ تر هغه وخته چې د شپې د تروږمی له تورې ليکې نه مو (د سهار) سپينه کرښه (خط) تر سترګو شي. بيا تر شپې پورې خپله روژه بشپړه (پوره) کړئ...). [البقرة: ۱۸۷].

او څوک چې په هيره باندې خوراک او يا څښاک وکړي؛ په هغه باندې هيڅ نشته؛ ددې حديث پر اساس:

«مَن نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ، فَأَكَلَ أَوْ شَرِبَ، فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ، فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللهُ وَسَقَاهُ».

«څوک چې د روژې په حالت کې په هېره باندې خوراک او يا څښاک وکړي، نو خپله روژه دې پوره کړي، ځکه الله تعالی ورته خوراک او څښاک ورکړي دي».[1]

څلورم: په قصدي توګه استفراق کول، ليکن چا باندې چې کانګې غلبه وکړي پرته د هغه له اختيار څخه؛ د هغه په روژه

[1] بخاري په شمېره (۶۶۶۹)، او مسلم په شمېره (۲۷۰۹) کې نقل کړي.

باندې اغیزه نه کوي. د هغه صلی الله علیه وسلم په قول:

«مَنْ ذَرَعَهُ الْقَيءُ فَلَيْسَ عَلَيْهِ قَضَاءٌ، وَمَن اسْتَقَاءَ عَمْدًا فَلْيَقْضِ».

"هغه څوک چې پرته له اختیاره کانګې وکړي هغه باندې قضا نشته، او څوک چې په قصدي ډول کانګې وکړي باید قضا راوړي".[1]

پنځم: له بدن څخه د وینې ایستل؛ د حجامې، وینه تویولو، او یا د ناروغ سره د مرستې لپاره وینه ورکولو له امله، په دې ټولو باندې روژه ماتیږي. لیکن د معاینې لپاره چې په لږه پیمانه وینه ایستل کیږي؛ دا په روژه باندې اغیزه نه کوي. همدارنګه پرته له اختیاره د وینو وتل، لکه د پوزې، زخمونو، یا د غاښ ایستلو؛ دا هم په روژه اغیزه نه کوي.

هغه کسان چې په رمضان کې روژه ماتولی شي:

لومړی قسم: هغه کسان چې روژه ماتوي او قضاء هغوی باندی واجب ده، دا دي:

اول: هغه ناروغ چې د هغه څخه د رغېدو هیله شتون ولري، او روژه هغه ته ضرر او یا تکلیف رسوي.

دوهم: مسافر؛ که هغه په سفر کې تکلیف مومي یا یې نه مومي،

او هغو لپاره دلیل: د الله تعالی دا قول دی:

---

[1] ابو داود په شمیره (۲۳۸۰)، او ترمذي په شمیره (۷۱۹)، او ابن ماجه په شمیره (۶۷۶) کې نقل کړي.

﴿...وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ...﴾

(... او څوک چې مريض وي، يا پر سفر وي، نو (پر هغه د نورو ورځو شمېرل دي...). [البقرة: ١٨٥].

دريم: حامله يا شيدې ورکوونکې ښځه، که روژه نيول هغوی لره سخت وي، او يا هغوی يا د هغوی ماشومانو ته ضرر رسوي، هغوی د ناروغ حکم لري، نو د هغوی لپاره روژه ماتول جواز لري. ليکن دوی بايد خپلې قضا شوي روژې په بل وخت کې ادا کړي.

څلورم: حايضه او يا نفاسه ښځې،او د روژې ماتول هغوی باندې واجب دی. د هغوی روژه صحيح نه ده او په نورو ورځو کې يې بايد قضاء ادا کړي.

دويم قسم: هغه کسان چې روژه ماتول ورته روا دي، او هغوی باندې له قضا راوړلو پرته کفاره واجب ده:

لومړی: هغه ناروغ چې د رغېدو هيله يې نه وي.

دوهم: هغه بوډا چې روژه نشي نيولی.

دوی روژه ماتوي، او د روژې د مياشتې د هرې ورځې په مقابل کې يو مسکين ته ډوډۍ ورکوي. لېکن هغه بوډا چې د خرف (ډېر زړښت) درجې ته ورسيږي له هغه څخه مکلفيت لرې کيږي؛ هغه کولای شي چې روژه ماته کړي او هغه باندې څه نشته.

د قضا نيټه او د ځنډولو حکم يې:

د رمضان د روژې قضا د يو رمضان څخه تر راتلونکي رمضان پورې ده، غوره دا ده چې قضا کې بيړه وشي، د

روژې قضاء د بلې روژې وروسته ځنډول جواز نلري، د عائشې رضى الله عنها څخه روايت دى، هغې وويل:

«كَانَ يَكُونُ عَلَيَّ الصَّوْمُ مِنْ رَمَضَانَ، فَمَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَقْضِيَ إِلَّا فِي شَعْبَانَ لِمَكَانِ رَسُولِ اللهِ ﷺ».

"په ما به د رمضان روژې پاتې وې، نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم له امله مې دغه قضايي به ما نه شوه راوړې مګر د شعبان په مياشت کې".[1]

ځوک چې د روژې قضا تر راتلونکي رمضان پورې وځنډوي، دوه حالتونه لري:

۱- چې د شرعي عذر په خاطر يې وځنډوي، لکه: که ناروغي يې تر بلې روژې پورې دوام وکړي، د دې لپاره يوازې قضاء ده.

۲- که له شرعي عذر پرته يې وځنډوي، دلته په ځنډ کولو سره ګناهګاريږي، نو بايد توبه وباسي او قضاء يې ادا کړي، او د هرې ورځې په بدل کې يو مسکين ته خوراک ورکړي.

نفلي روژه د هغه چا لپاره چې هغه باندې قضاء وي:

چا باندې چې د رمضان مياشت قضايي روژه وي؛ غوره دا ده چې دا د نفلي روژې څخه مخکې قضا باندې پيل وکړي. خو که هغه نفلي روژه وي چې وخت يې تيريږي - لکه د عرفې او عاشورا روژه-؛ نو دغه روژې دې مخکې د قضا راوړلو څخه ونيسي؛ ځکه چې د قضا وخت پراخه دى، او د

[1] بخاري په شمېره (۱۸۴۹)، او مسلم به شمېره (۱۸۴۶) کې نقل کړي.

عاشورا او عرفې وخت له لاسه ځي، خو د شوال شپږ روژې نه نیول کیږي مګر وروسته له قضاء څخه.

هغه روژې چې نیول يې حرام دي:

۱- د کوچني اختر او لوی اختر په ورځو کې روژه نیول؛ ځکه چې له هغو څخه منع شوېده.

۲- د ذوالحجې په میاشت کې د تشریق د ورځو روژه نیول. پرته له هغه چا چې د تمتع او قران حج کې وي او د قرباني لپاره څه و نه مومي. د تشریق ورځې: د ذوالحجې د میاشتې یوولسمه، دولسمه او دیارلسمه دي.

۳- د شک ورځ د شک لپاره، او هغه د شعبان د میاشتې دیرشمه ده. کله چې د هغې شپه د وریځې یا دوړې شپه وه چې د سپوږمۍ د لیدلو مخه يې نیوله.

هغه ورځې چې روژه نیول يې مکروه دي:

الف- د رجب میاشت د روژې لپاره ځانګړي کول. ب- د جمعې ورځ د روژې لپاره ځانګړي کول، ځکه چې له هغې څخه منع شوې ده. که یوه ورځ مخکې او یا وروسته روژه ونیسي نو کراهت يې بیا له منځه ځي.

مسنونه روژې:

الف- د شوال د میاشتې شپږ ورځې. ب- د ذی الحجې نهه ورځې روژه نیول، او په هغو کې تر ټولو تاکید شوې د عرفې ورځ ده، پرته له حاجي څخه؛ د هغه لپاره ددې ورځې روژه نیول جواز نلري، او ددې ورځې روژه نیول د دوو کلونو د ګناهونو کفاره ده. ج- د هرې میاشتې درې ورځې روژه نیول، او غوره داده چې ایام البیض ونیول شي او هغه ورځې:

دیارلسمه، څوارلسمه او پنځلسمه دي. د- د هرې اونۍ د دوشنبې او پنجشنبې روژه نیول، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به يې روژه نیوله؛ ځکه چې د بندګانو اعمال پدې ورځو کې - الله تعالی ته - وړاندې کیږي.

نفلي روژه:

الف- د داود علیه السلام روژه ده، هغه یوه ورځ روژه نیوله او بله ورځ به يې نه نیوله.

ب- د الله د میاشتې، محرم، روژه نیول، چې تر ټولو غوره میاشت ده چې روژه پکې نیول مستحب دي، او تر ټولو مهمه يې دا ده: د عاشورا د ورځې روژه نیول، چې د محرم لسمه ده، او د هغې سره نهمه ورځ روژه نیول؛ ځکه چې هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«لَئِنْ بَقِيتُ إِلَى قَابِلٍ لَأَصُومَنَّ التَّاسِعَ».

"که زه تر راتلونکي - کال - پورې ژوندی وم، نو زه به د نهمې ورځې روژه هم ونیسم".[1] او د یو کال مخکنیو ګناهونو کفاره ده.

## پنځم مبحث: حج او عمره

حج په لغت کې: نیت کولو ته وايي. او په اصطلاح کې: د بیت الله الحرام او مشاعرو نیت کول په یو خاص وخت کې د ځانګړو مراسمو د ترسره کولو لپاره.

عمره په لغت کې: زیارت کولو ته وايي.

[1] مسلم په شمېره (۱۱۳۴) کې نقل کړی.

په اصطلاح کې: د بيت الله الحرام زيات په هر وخت کې د ځانګړو عبادتونو د ترسره کولو لپاره.

حج د اسلام له رکنونو او سترو بنسټونو څخه دی. حج د هجرت په نهم کال کې فرض کړی شو، او رسول الله صلی الله عليه وسلم يو حج کړی و چې هغه (حجة الوداع) دی.

حج په ټول عمر کې يو ځل پر توان لرونکي باندې فرض دی. او که له هغه څخه زياتيږي هغه نفل دی. د ډيری علماوو په نظر د عمرې ادا کول يو ځل واجب دي. د رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې قول پر اساس کله چې وپوښتل شو: آيا د ښځو لپاره جهاد شته؟ هغه وفرمايل:

«نَعَمْ، عَلَيْهِنَّ جِهَادٌ لَا قِتَالَ فِيهِ: الْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ».

"هو، د هغوی لپاره جهاد شته چې جنګ پکې نشته: حج او عمره".[1]

**د حج او عمرې د واجبوالي شرطونه:**

١ـ اسلام

٢ـ عقل

٣ـ بلوغ

٤ـ آزادي

٥ـ توان

او ښځې لپاره شپږم شرط اضافه کيږي، چې هغه د محرم

---

[1] احمد په شمېره (٢٥١٩٨)، او نسائي په شمېره (٢٦٢٧)، او ابن ماجه په شمېره (٢٩٠١) کې روايت کړي.

شتون دی تر څو له هغې سره د ادا کولو لپاره سفر وکړي، ځکه چې له محرم پرته د حج او یا بل کوم مقصد لپاره سفر کول روا نه دي. د هغهﷺ په قول:

«لَا تُسَافِرُ الْمَرْأَةُ إِلَّا مَعَ ذِي مَحْرَمٍ، وَلَا يَدْخُلُ عَلَيْهَا رَجُلٌ إِلَّا وَمَعَهَا مَحْرَمٌ».

«ښځه دې له محرم پرته سفر نه کوي، او سړی دې هغې ته نه داخلیږي مګر دا چې هغې سره محرم وي».[1]

او د ښځې محرم: د هغې خاوند، او یا هغه څوک دی چې له هغې سره یې په ابدي توګه نکاح کول حرام وي؛ د نسب له مخې: لکه د هغې ورور، پلار، تره، وراره او ماما. یا د مباح سبب له مخې: رضاعي ورور، یا د سخرګنۍ له لارې، لکه د مور خاوند او د خاوند زوی.

او توان: دادی چې: مادي او فزیکي توان ولري، تر څو وکولی شي رکوب (سواري) وکړي او د سفر تحمل ولري، او دومره مال ولري چې د هغه د تګ او راتګ لپاره کافي وي، او همدارنګه وکولی شي د خپلو ماشومانو او هغو کسانو لپاره هم کفایت وکړي چې هغه باندې د هغوی د نفقې مسئولیت وي ترڅو چې هغه بیرته دوی ته را وګرځي.

او د حج لاره د ځان او مال لپاره خوندي وي.

او هغه څوک چې له ځانې وړتیا پرته د مال توان ولري، که هغه بوډا وي، یا په اوږدمهاله ناروغۍ اخته وي، او د هغه

[1] بخاري په شمېره (١٨٦٢)، او مسلم په شمېره (١٣٤١) کې نقل کړي.

د رغیدو هیله نه وي؛ په هغه باندې واجب ده چې د هغه له لوري بل څوک په وکالت سره حج او عمره وکړي.

څوک چې د هغه نیابت یا وکالت په حج او عمره کې صحیح کیږي دوه شرطونه دي:

۱- هغه څوک وي چې مسلمان بالغ او عاقل وي.

۲- دا چې پخپله د ځان لپاره یې د اسلام حج کړی وي.

**د احرام مواقیت (ځایونه):**

مواقیت: د میقات جمع ده، چې په لغت کې: حد ته وایي. او په اصطلاح کې: د عبادت ځای یا وخت ته ویل کیږي.

حج زماني او مکاني مېقاتونه لري:

الف- زمانی مېقاتونه: الله تعالی په خپلې دې وینا کې ذکر کړي دي:

﴿ٱلۡحَجُّ أَشۡهُرٞ مَّعۡلُومَٰتٞۚ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلۡحَجَّ...﴾

(د حج (وخت) معلومې میاشتې دي، نو چا چې په دې میاشتو کې پر خپل ځان حج فرض کړ...). [البقرة: ۱۹۷].

او دا میاشتې: شوال، ذوالقعده او د ذوالحجې لومړی لس ورځې.

ب- مکانې مواقیت: دا هغه حدود دي چې حاجي ته له احرام پرته مکې ته د تېرېدو جواز نه ورکوي. او هغه په لاندې ډول دي:

۱- ذو الحُلَيفة: د مدینې د خلکو لپاره میقات.

۲- الجُحْفة: د شام، مصر او مغرب د اوسېدونکو میقات

دی.

۳- قَرْن المنازل: چې اوس مهال په سیل باندې پېژندل کیږي؛ د نجد د اوسېدونکو میقات دی.

۴- ذات عِرْق: د عراق د خلکو لپاره میقات.

۵- یَلَمْلَم: د یمن د خلکو لپاره میقات.

او د چا کور چې د دې میقاتونو څخه - حرم ته نږدې - وي؛ له خپل کور څخه دې د حج او عمرې لپاره احرام وکړي. او څوک چې د مکې له اوسېدونکو څخه وي؛ نو دوی له مکې څخه احرام تړي، او د احرام تړلو لپاره میقات ته د تللو اړتیا نه لري. مګر د عمرې لپاره: دوی تر ټولو نږدې تحلل ځای ته ځي او احرام تړي. او که څوک غواړي حج او عمره وکړي نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ټاکلو ځایونو څخه دې احرام وکړي، او دا هغه ټاکلي ځایونه دي چې مخکې تشریح شوي دي. د هغو کسانو لپاره چې غواړي حج او عمره وکړي له احرام پرته دې لدې ځایونو څخه نه تېرېږي.

- څوک چې د پورتنیو مواقیتو څخه تېرېږي پرته له اوسیدونکو څخه یې، نو هغوی باید احرام کړی شوي تیر شي.

- څوک چې لاره یې د مکې خوا ته وي او یاد شوو میقاتونو څخه یو باندې هم نه تېرېږي که هغه د ځمکې، سمندر او هوا له لارې وي، نو لازم ده چې کله یو میقات ته نږدې شو نو احرام دې وتړي، د عمر بن الخطاب رضي الله عنه په قول سره: «تاسو د خپلې لارې نږدې میقات وګورئ».[1]

---

[1] بخاري په شمېره (۱۵۳۱) کې نقل کړی.

- ځوک چې په الوتکه کې د حج او عمرې د مناسکو د ادا کولو لپاره سفر وکړي، نو واجب ده چې کله الوتکه میقات ته نږدې شوه احرام دې وتړي، د هغه لپاره جواز نلري چې د احرام په تړلو کې ځنډ وکړي تر هغه پورې چې الوتکه په هوایي ډګر کې ښکته شي.

**احرام:**

احرام د مناسکو (عبادتونو) دداخلېدو لپاره نیت کول دي؛ او په حج کې هغه: په حج کې دداخلېدو نیت دی، او په عمره کې، په عمره کې دداخلېدو نیت دی. او هغه محرم نه بلل کیږي ترڅو چې د نسکو او عبادتونو نیت وکړي. لیکن یوازې د احرام اغوستل پرته له نیت څخه هغه احرام نه بلل کیږي.

د احرام مستحبات:

۱- د احرام له داخلېدو مخکې بشپړ غسل کول.

۲- په بدن کې د نارینه وو لپاره د خوش بویي استعمالول، نه د احرام په جامو کې.

۳- د هغه احرام په سپین لنګ او چادر او چپلکو کې .

۴- که احرام تړي او سپارلۍ باندې وي باید قبلې ته مخامخ وي.

د نسکو ډولونه:

احرام کوونکی اختیار لري چې له درېیو نسکو څخه هر یو یې خوښ وي انتخاب کړي:

۱- تمتع: د حج په میاشتو کې د عمرې احرام تړل، او هغه ترسره کول، بیا هماغه کال کې د حج لپاره احرام تړل دي.

٢- افراد: يوازې له ميقات څخه د حج لپاره احرام تړل دي، او د حج د مناسکو تر اداء کولو پورې په خپل احرام کې پاتې کېدل دي.

٣- القِران؛ چې حج او عمرې لپاره يو ځاى احرام وتړي، او يا د عمرې لپاره احرام وتړي، بيا له هغه سره حج ته داخل شي مخکې له طواف کولو څخه، نو له ميقات څخه د عمرې او حج نيت کوي، او يا د عمرې له طواف څخه مخکې، او د دواړو لپاره طواف او سعى کوي.

متمتع او قارن باندې فديه لازمه ده، که د مسجد حرام له اوسېدونکو څخه نه وي.

او له دې درېو مناسکو څخه غوره: تمتع دى، ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو اصحابو ته پر هغه باندې امر کړى دى. ورپسې قران دى؛ ځکه چې هغه هم حج دى او هم عمره، او ورپسې بيا افراد دى.[1]

ج- که هغه له دغو مناسکو څخه د يوه لپاره احرام وتړي؛ له هغې وروسته تلبيه وايي، په داسې شکل:

«لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ».

«زه حاضر يم اې لويه څښتنه! زه حاضر يم تا لره هېڅ شريک نشته، يقينا چې ټول تعريفونه او نعمتونه تا لره دي، او

---

[1] مسلم په شمېره (١٢١١) کې نقل کړى.

پاچاهي تا لره ده، تا لره هېڅ شريک نشته».[1]

او دا سنت دي، او ډير ويل يې مستحب دي، نارينه دې په لوړ اواز وايي، او ښځې دې له ځانه سره وايي.

وخت يې: د احرام له تړلو څخه پيلیږي او د پای وخت يې په لاندې ډول دی:

لومړی: عمره کوونکی يې د طواف له پيلولو نه مخکې بندوي.

دويم: کله چې حاجی د اختر په ورځ جمرة العقبة وولي نو تلبيه بندوي.

د احرام محظورات (منع شوي) څيزونه:

لومړی محظور: د بدن له هر ځای څخه د ويښتانو کټ کول، خرئيل، او يا ويستل.

دويم محظور: له عذر پرته د لاس او پښې د نوکانو پرې کول يا کټ کول، که نوک يې مات شي او ليرې يې کړي نو هغه باندې فديه نشته.

دريم محظور: د سړي لپاره د سر پټول په هغه څه سره چې نږدې وي لکه: خولۍ او غوتره (څادر).

څلورم محظور: د سړی لپاره د ګنډل شوو جامو يا د جامې د يوې برخې اغوستل، لکه قميص، پګړۍ او پرتوګ. او مخيط: هغه څه چې د اندام د اندازې سره سم جوړ شوي وي، لکه ماسۍ، لاسپيلی (دستکشې) او جرابې، ليکن ښځه، د احرام په حالت کې چې د هغې د پټولو د ضرورت له امله هر

[1] بخاري، په شمېره (۱۵۴۹) کې نقل کړی.

څه وغواړي، اغوستلی شي، پرته له دې چې برقع نشي اغوستلی، او که نا محرم کسان د هغې له لارې تېر شي، نو خپل مخ دې په نورو ځیزونو لکه خمار او جلباب باندې وپوښي. او په لاسونو کې به دستکشې نه اغوندي.

پنځم محظور: خوش بويي؛ ځکه چې په احرام کې داخل شوي کس ته لازمه ده چې د دنيا له زيب او زينت څخه ځان وساتي او آخرت ته مخه کړي.

شپږم محظور: د وچې د ځاروي وژل او ښکار کول، نو محرم د وچې د ځاروی ښکار نه کوي، او نه په ښکار کې مرسته کوي، او نه يې حلالوي.

د احرام په حالت کې د هغه څه خوړل حرام دي چې ښکار کړي يې وي، يا د هغه لپاره ښکار شوی وي، او يا يې په ښکار کې مرسته کړې وي، ځکه چې د هغو حکم د ده لپاره د مردارې دي.

او د سمندر ښکار؛ د محرم لپاره د هغو ښکار حرام ندي، او نه هم د کورني ځاروي لکه چرګ او غوا ذبح کول حرام دي؛ ځکه چې دا ښکار نه دی.

اووم محظور: د نکاح عقد (تړل) د خپل ځان او يا د بل چا لپاره او يا دا چې د بل چا لپاره شاهد وي.

اتم محظور: جماع. نو څوک چې د لومړي تحلل څخه مخکې جماع وکړي؛ د هغه مناسک فاسد شول، او په هغه باندې واجب دي چې خپل مناسک بشپړ کړي، او په راتلونکي کال کې يې قضا ادا کړي، او هغه باندې د اوښ ذبح کول دي. او که د لومړي تحلل څخه وروسته جماع وکړي؛ مناسک يې

نه فاسدېږي، په هغه يوازې دم واجبېږي.

په دې کې ښځه د نارينه په څېر ده، که چيرې خپلې خوښې سره يې ترسره کړي.

نهم محظور: له فرج پرته مباشرت کول، نو د محرم لپاره له ښځې سره مباشرت کول روا نه دي، ځکه چې دا د حرامې جماع لپاره وسيله ده او له مباشرت څخه مراد: په شهوت سره ښځې باندې لاس وهل دي.

**عمره:**

الف- د عمرې رکنونه:

١- احرام (نيت).

٢- طواف.

٣- سعې.

ب- د عمرې واجبات:

١- د معتبر ميقات څخه احرام (نيت تړل).

٢- د سر د ويښتانو خرئيل يا کمول.

ج- د عمرې طريقه:

لومړی کار چې عمره کوونکی يې پيلوي، اووه شوطونه ( ګښت يا دوره) به پوره کوي، د حجر الاسود څخه يې پيلوي او په حجر الاسود باندې يې ختموي. د طواف په وخت کې بايد پاک وي او خپل عورت له نوم څخه تر زنګون پورې پټ وساتي. او سنت دا دي چې اضطباع وکړي، هغه دا چې خپله ښۍ اوږه ښکاره کړي، او څادر يې لاندې تېر کړي، او د څادر

دواړه سرونه يې په چپه اوږه واچوي. او کله چې يې اووم شوط بشپړ کړ؛ اضطباع به پرېږدي، او خپلې دواړه اوږې به په خپل څادر سره وپوښي.

او حجر الاسود ته به مخ کړي، که د ښکلولو امکان يې وي ښکل به يې کړي، او که امکان يې نه وي نو په ښي لاس دې ښکل کړي بيا دې خپل لاس ښکل کړي، او که دا ممکنه نه وي چې حجر الاسود لمس کړي، خپل ښي لاس پورته کوي او اشاره ورته کوي، او يو ځل وايي: "الله اکبر"، او خپل لاس نه ښکلوي او نه دي درېږي، بيا خپل طواف پيلوي؛ کعبه چپ طرف ته پرېږدي، او په لومړيو دريو شوطونو کې چابک چابک قدمونه اخلي، الرمل: نږدې نږدې چابک قدمونه اخيستل.

او کله چې د يماني رکن (کونج) څخه تېرېږي، - چې د کعبې څلورم رکن (کونج) دی- که د لمس کولو امکان يې وي په ښي لاس باندې دې لمس کړي پرته له تکبير او ښکلولو څخه، او که د لمس کولو امکان يې نه وي نو روان دې شي او ورته دې نه اشاره کوي او نه دې تکبير وايي. او دوو رکنينو (کونجونو) يماني او اسود تر مينځ به ووايي:

﴿...رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ حَسَنَةٗ وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ﴾

(ای زموږ ربه! موږ ته په دنيا کې ښېګڼه (نيکمرغي، سلامتي، رزق) او په آخرت کې هم ښېګڼه (جنت، رحمت) راکړه، او موږ د دوزخ له عذابه وژغوره). [البقرة: ٢٠١].

او کله یې چې طواف ختم کړ؛ دوه رکعته لمونځ دې د مقام ابراهیم علیه السلام تر شا ادا کړي ـ که امکان ولري ـ که نه نو د مسجد حرام په هر ځای کې یې ادا کولی شي، د فاتحې نه وروسته په لومړي رکعت کې د الکافرون سورت ویل سنت دي. او په دویم رکعت کې له فاتحې نه وروسته د اخلاص سورت ویل سنت دي. بیا دې مسعا ته لاړ شي، او د صفا او مروه تر منځ دې اووه ګردشونه پوره کړي؛ تګ یې یو شوط (ګردش) او بیرته راتګ یې بل شوط (ګردش) دی.

سعې به له صفا غونډۍ څخه پیلوي، غونډۍ ته به پورته شي، او یا د هغې تر څنګ به ودریږي، مګر صفا ته پورته کېدل غوره دي که امکان یې وي. او دلته به د الله تعالی دغه وینا تلاوت کړي چې فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلۡمَرۡوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ...﴾

(یقینًا صفا او مروه د الله له نښو څخه دي ..). [البقرة: ۱۵۸].

او مستحب ده چې مخ قبلې ته کړي، د الله حمد او ثنا دې ادا کړي، او تکبیر ووايي، او داسې ووايي:

«لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ، أَنْجَزَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ».

«له الله پرته بل حق معبود نشته، او الله تر ټولو لوی دی،

له الله پرته بل معبود نشته، چې يوازې دی او هېڅ شريک نه لري، پاچاهي د هغه ده او ستاينه هغه لره ده، هغه ژوند ورکوي او مرګ ورکوي، او هغه په هرڅه قادر دی، نشته بل معبود مګر يوازې يو الله، هغه خپله ژمنه پوره کړه، او د خپل بنده مرسته يې وکړه، او هغه يوازې احزابو ته ماته ورکړه».[1]

بيا دې لاسونه پورته کړي هر څومره چې امکان ولري دعا دې وکړي، او دغه ذکر او دعا به درې ځله تکراروي. بيا به راکوز شي، او مروه ته به لاړ شي، تر هغه چې لومړۍ نښې (څراغ) ته ورسيږي، بيا به نارينه په چټکۍ سره ځي تر هغه چې دويمې نښې (څراغ) ته ورسيږي، او د ښځې لپاره دا جواز نلری چې د دوو نښو (څراغونو) په منځ کې چټکي وکړي ځکه چې هغه عورت ده، بلکې د هغې لپاره په ټوله سعی کې په عادي شکل ګرځېدل دي، بيا به لاړ شي، او د مروا غونډۍ سر ته به پورته شي او يا به يې تر څنګ ودريږي، او که امکان ولري د مروې سر ته پورته کېدل غوره دي، او څه يې چې په صفا کې ويلي او کړي و هماغه دې په مروه هم ترسره کړي، پرته د آيت له تلاوتولو څخه چې هغه د الله تعالی دا وينا ده:

﴿إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلۡمَرۡوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ...﴾

(يقينًا صفا او مروه د الله له نښو څخه دي ..). ځکه دا يوازې صفا ته د پورته کېدلو پر مهال په لومړي شوط کې ويل کيږي. بيا به راښکته شي، نو د مزل په ځای کې به مزل کوي او د تېزۍ په ځای کې به تېز ځي تر دې چې صفا ته ورسيږي.

---

[1] مسلم په شمېره (۱۲۱۸) کې نقل کړی.

او دا کار به اوه ځلې کوي، تګ یې یو شوط او بېرته راتګ یې بل شوط حسابیږي، او مستحب دي چې د امکان تر حده په سعې کې ډېر ذکر او دعا ووایې، او د لویې او وړې بې اودسۍ څخه پاک وي، او که سعې یې پرته له طهارت څخه ادا کړه نو سعي ورته حسابیږي. همدارنګه که وروسته له طواف څخه ښځه حایضه یا نفاسه شي؛ هغه دې سعې وکړي، او سعې د هغې لپاره حسابیږي، ځکه چې په سعی کې پاکوالی شرط ندی، بلکې مستحب دی.

او کله چې سعې بشپړه کړي؛ د سر وېښتان به وخرئي او یا دې واړه کړي، او د نارینه و لپاره خریل غوره دي.

په دې سره عمره پای ته ورسېده.

**الحج:**

الف- د حج ارکان:

۱- احرام (نیت).

۲- په عرفات کې ودریدل.

۳- طواف افاضة.

۳- سعې.

ب- د حج واجبات:

۱- له میقات څخه احرام تړل.

۲- د ذي الحجې په نهمې ورځ په عرفه کې د ورځې تر لمر لوېدو پورې ولاړېدل د هغه چا لپاره چې عرفه کې د ورځې لخوا ولاړ وي.

۳- په مزدلفه کې د ذي الحجې د لسمې شپې تر نیمې شپې

پورې شپه تیرول.

۴- په منا کې د ایام تشریق شپې تېرول.

۵- د جمراتو ویشتل.

۶- خرئیل او یا واړه کول.

۷- د وداع (خدای په امانۍ) طواف.

ج- د حج طریقه:

کله چې یو مسلمان د حج په حالت کې میقات ته ورسیږي او وخت تنګ وي، نو د افراد حج نیت دې وکړي، کله چې مکې ته ورسیږي، نو طواف او سعي دې ترسره کړي او خپل احرام کې دې پاتې شي تر دې چې په نهمې ورځ د عرفات پر لور ولاړ شي، او هلته تر لمر پرېوتلو پورې پاتې شي،

بیا له عرفات نه مزدلفې ته ځی او تلبیه وایي، تر هغه چې د سهار لمونځ ادا کړي، بیا د الله په ذکر، تلبیه او دعا کې مشغول وي تر دې چې رڼا خپره شي،

کله چې رڼا خپره شي، نو له لمر ختلو مخکې دې منی په لور روان شي، هلته دې د عقبې جمره په اوو وړو تیږو وولي، بیا ویښتان خرویي او یا یې لنډوي، او خریل یې غوره دي،

بیا دې د افاضې طواف ترسره کړي، او لومړی سعي ورته بسنه کوي، په دې سره حج یې بشپړ شو، او په پوره ډول سره هغه ته تحلل حاصل شو.

او هغه باندې په یوولسمې او دوولسمې ورځو کې جمرات وېشتل پاتې کیږي که چېرته عجله کوونکی وي، نو په دې دواړو ورځو کې درې واړه جمرې په اوو تیږو پرله پسې

وولي، او له هرې تيږې سره دې "الله اكبر" ووايي، لومړی دې هغه کوچنۍ جمره چې خيف جوماتت ته نږدې ده، بيا منځنۍ جمره، او بيا د عقبې جمره (چې وروستۍ ده) – هر جمره دې په اوو تيږو وولي. او كه غواړي چې د دوولسمې ورځې وروسته هم پاتې شي، نو د ديارلسمې ورځې جمرات دې هم همدې ډول ترسره کړي، څنګه چې د يوولسمې او دوولسمې ورځو کې يې جمرات ويشتلي وو.

او جمراتو د رمي وخت: په درې واړو ورځو کې له زوال څخه وروسته دی.

كه د دوولسمې ورځ له لمر لوېدو مخکې د منی څخه ولاړ شي، نو څه پروا نه کوي، خو كه پاتې شي او د زوال څخه وروسته د ديارلسمې ورځې جمرات وولي، نو دا غوره ده، د الله د دې وينا پر اساس:

﴿...فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِۖ لِمَنِ ٱتَّقَىٰ...﴾

(... پس څوک چې په دوه ورځو کې ژر لاړ، نو پر هغه هېڅ ګناه نشته، او چا چې تاخير وکړ، نو پر ده (هم) هېڅ ګناه نشته، د هغه چا لپاره چې تقویٰ يې غوره کړې وي...)

[البقرة: ٢٠٣].

او كه وغواړي سفر وکړي؛ په اوو شوطونو سره دې د وداع طواف ترسره کړي پرته له سعې څخه.

كه قرباني (هدي) و نه لري: نو غوره داده چې د تمتع په

نيت دې د عمرې احرام وتړي، بيا دې په اتمه ورځ د حج تلبيه ووايي، او د حج ياد شوي عملونه دې ترسره کړي. او که حج او عمرې لپاره احرام تړي، نو هم څه حرج نشته، په دې حالت کې قِران حج بلل کيږي، په دې ډول چې د حج او عمرې لپاره يو ځای احرام وتړي او يوه سعی وکړي.

## دريم څپرکی:
## هغه څه چې له معاملاتو سره تړاو لري

علماوو - رحمهم الله - هغه علم بيان کړی چې په عيني ډول يې زده کول واجب دي. او د هغه مقدار په اړه يې خبرې هم کړي چې په هر مسلمان باندې فرض دي چې زده يې کړي. او د هغو له جملې څخه يې دا ياد کړل: د هغو کسانو لپاره چې په تجارت کې کار کوي د پلورلو او اخيستلو احکام زده کړي. تر څو هغه په حرامو او سود کې په بې خبرۍ کې راګير نه شي. د دې خبرې تائيد د ځينو صحابه و - رضی الله عنهم- له قوله راغلی دی.

عمر بن الخطاب رضي الله عنه فرمايي: (زمونږ په بازار کې دې اخېستل خرڅول نه کوي مګر هغه څوک چې په دين کې د بيعې په اړه معلومات و نلري).[1]

او علي بن ابي طالب رضي الله عنه فرمايلي: «څوک چې له پوهې څخه مخکې تجارت وکړي، په سود کې به ښکېل شي، بيا به په سود کې ښکېل شي، او بيا به په سود کې ښکېل شي.

[1] ترمذي په شمېره (۴۸۷) کې نقل کړی، او وايي چې: حديث حسن غريب دی. او الباني هم حسن بللی.

يعنې: په سود به اخته شي».[1]

ابن عابدين د العلامي په حواله وايي: (په هر مكلف سړي او مكلفې ښځې باندې فرض دي چې د دين او هدايت له زده كړې وروسته اودس، غسل، لمونځ، روژه زده كړي، او څوک چې د نصاب مالک وي بايد د زكات پوهه هم ولري، او چا باندې چې حج واجب وي د حج پوهه بايد ولري، او همدارنګه د بيعې پوهه د تاجر لپاره اړينه ده، ترڅو په ټولو معاملو كې د شک او مكروهاتو څخه ډډه وكړي، او همدارنګه د مسلک او هنر خاوندان او هر هغه څوک چې په كار كې بوخت وي بايد د هغه په هكله بايد پوهه ولري او حكم ورته معلوم وي ترڅو په هغه كې له حرامو څخه ډډه وكړى شي).[2]

نووي رحمه الله فرمايي: «او لكه خرڅلاو (بيع)، نكاح او داسې نور چې د هغه اصل واجب ندي، نو په دې اړه اقدام كول پرته له دې چې شرطونو باندې ځان پوه كړي حرام دي».[3]

دا د مالي معاملاتو په اړه ځينې قواعد دي چې د اسلامي شريعت لخوا راوړل شوي دي:

١- د هر هغه څه جواز چې په هغه كې محض او راجح مصلحت وي؛ لكه د حلالو شيانو پېرودل او خرڅول، اجاره

[1] وګورئ : مغني المحتاج (٢/ ٢٢).
[2] د ابن عابدين حاشيه (١/ ٤٢).
[3] وګورئ: المجموع (١/ ٥٠).

او شفعه.[1]

۲- د هر هغه څه مشروعیت چې د خلکو حقونه تضمینوي او ساتي يي؛ لکه ګرو او شاهدي.

۳- د هر هغه څه مشروعیت چې د متعاقدينو په ګټه وي؛ لکه اقاله، اختيار او په بيعه کې شرطونه.

۴- د هر هغه څه مخه نيول چې په خلکو باندې ظلم او د هغوی د پيسو په ناحقه مصرفول په کې شامل وي؛ لکه سود، غصب او انحصار (احتکار).

۵- د هر هغه څه مشروعیت چې د خير په کار کې همکاري پکې شامله وي؛ لکه پور، د عاريې عقد او امانت.

۶- له هر هغه کار څخه منع کول چې له کار او ګټې او ستړيا پرته د مال خوړل پکې شامل وي؛ لکه قمار او سود.

۷- د هرې هغې معاملې څخه منع کول چې هغې کې جهالت او دوکه غالبه وي؛ لکه د هغه څه خرڅول چې د هغه ملکيت نه وي او يا د نامعلوم څيز خرڅول.

۸- د هر هغه څه حرام والی چې په هغه کې چل او دوکه وي؛ لکه د عينې پلورل (بيع العينه).[2]

۹- د هغه څه منع کول چې د الله تعالی له اطاعت څخه يې

---

[1] دا د شريک حق دی چې د خپل شريک حصه هغه څخه واخلي چې هغه ته د مالي بدل په مقابل کې انتقال شوې وي.

[2] بيع العِينة: دا چې يو انسان په بل چا باندې يو شی په موجل قيمت سره خرڅ کړي، او هغه ته يې تسليم کړي، بيا مخکې له دې چې قيمت يې ترلاسه کړي په لږ قيمت سره يې په نقدو باندې له هغه څخه بېرته واخلي.

مشغولوي؛ لکه د جمعې له دویم اذان څخه وروسته خرڅول.

۱۰- د هر هغه څه منع کول چې هغه کې ضرر وي، او یا د مسلمانانو تر منځ د دښمنۍ سبب ګرځي؛ لکه د حرامو څيزونو خرڅول، او د خپل ورور په بیع کې بیع کول.

او کله چې یو مسلمان لپاره په یوه مسله کې ستونزه او اشکال پیدا شي؛ د هغې په اړه دې له علماوو څخه پوښتنه وکړي، او د شرعي حکم له پوهېدو پرته دې کار ته نه وړاندې کیږي. څرنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿...فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾

(... نو تاسو د ذکر له خاوندانو (عالمانو) نه پوښتنه وکړئ که تاسو نه پوهیږئ). [النحل: ٤٣].

د ا هغه څه وو چې مو را جمع کړل، او الله تعالی څخه غوښتنه کوو چې موږ ته ګټوره پوهه او نیک عملونه را نصیب کړي، هغه سخي او کریم ذات دی. وصلی الله وسلم علی نبینا محمد وآله وصحبه وسلم تسلیمًا کثیراً.

***

## فهرست


هغه څه چې مسلمان ترې باید ناخبره پاتې نه شي ................. ٢
مقدمه ............................................................ ٢
لومړی څپرکی ..................................................... ٣
د عقیدې په اړه ................................................... ٣
لومړی مبحث: د اسلام معنا او رکنونه یې: ......................... ٣
د توحید اهمیت: .................................................. ٣
د " شهادة أن لا إله إلا الله، ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته" معنا: ........................................................ ٥
او د (لا إله إلا الله) شرطونه دادي: ........................... ٦
ددې ګواهۍ معنا چې محمد د الله رسول دی: ........................ ٧
دویم مبحث: د ایمان معنا او رکنونه یې: ......................... ٩
١) په الله -تعالی- ایمان درلودل، او دا درې کارونو ته شاملیږي: ........................................................................ ١٠
١- د الله په ربوبیت ایمان لرل: ................................. ١٠
٢- د الله پر الوهیت ایمان لرل: ................................. ١٢
٣- په اسماو او صفاتو باندې ایمان لرل: ........................... ١٥
٢) پر ملایکو ایمان : ............................................ ٢٣
٣) پر کتابونو ایمان: ............................................ ٢٤
٤) پر پیغمبرانو علیهم السلام ایمان : ............................ ٢٥
٥) د آخرت په ورځ ایمان : ........................................ ٢٦
الف- پس له مرګه ژوندي کیدلو باندې ایمان لرل:.................. ٢٧
ب- په حساب او بدلې ایمان لرل: ................................. ٢٧
ج- په جنت او دوزخ ایمان لرل: .................................. ٢٧
٦) د تقدیر په خیر او شر باندې ایمان : ........................... ٢٨
دریم مبحث: احسان: ............................................. ٣٠

څلورم مبحث: د اهل سنت والجماعت د اصولو لنډه پیژنده: .... ۳۱
دویم څپرکی: هغه څه چې عبادتونو سره تړاو لري............. ۳۲
لومړی مبحث: طهارت -پاکوالی-: ......................... ۳۲
لومړی: د اوبو ډولونه: .............................................. ۳۲
دویم: نجاست: ......................................................... ۳۳
دریم: هغه څه چې په بې اودس کس باندې حرام دي: .......... ۳۶
څلورم: د قضای حاجت آداب:........................................ ۳۸
پنځم: د استنجا او اودس ماتي احکام: ............................ ۳۹
شپږم: د اودس احکام:.................................................. ۳۹
اووم: په ماسیو او جرابو د مسحې کولو احکام: ................. ٤۲
اتم: د تیمم احکام: ...................................................... ٤٤
نهم: د حیض او نفاس احکام:........................................ ٤٦
دویم مبحث: لمونځ:..................................................... ٤۸
لومړی: د اذان او اقامت احکام:..................................... ٤۸
دویم: د لمانځه حیثیت او فضیلت: ................................ ۵۲
دریم: د لمانځه شرطونه: ............................................. ۵٤
څلورم: د لمانځه ارکان: .............................................. ۵٦
پنځم: د لمانځه واجبات:............................................... ٦۱
شپږم: د لمانځه سنتونه:................................................ ٦۳
اووم: د لمانځه طریقه:................................................. ٦۵
اتم: د لمانځه مکروهات: ............................................. ۷۱
نهم: د لمونځ فاسدونکي:............................................... ۷۲
لسم: د سهوې سجده: .................................................. ۷۲
یوولسم: د لمونځ ممنوعه وختونه:.................................. ۷٤
دولسم: د جماعت لمونځ: ............................................ ۷۵

دیارلسم: د وېرې لمونځ: .............................................. ۷۸
د خوف د لمانځه طریقه: ............................................... ۷۸
څوارلسم: د جُمعې لمونځ:............................................... ۸۰
پنځم: د جمعې د ورځې مستحبات: ..................................... ۸۲
د جمعې لاندې کول: .................................................... ۸۳
پنځلسم: د عذر لرونکو خلکو لمونځ: .................................. ۸۳
شپاړسمه : د اخترونو لمونځ:........................................... ۸۷
اوولسم: د کسوف لمونځ: ............................................... ۸۹
اتلسم: د استسقا لمونځ: ................................................ ۹۱
نولسم: د جنازو احکام: ................................................. ۹۳
دریم مبحث: زکات: .................................................... ۹٦
۱- د زکات تعریف او مقام یې: ........................................ ۹٦
۲- د زکات د وجوب شرطونه: .......................................... ۹۷
۳- هغه مال چې زکات پرې واجبیږي:................................... ۹۸
څلورم مبحث: روژه: ................................................... ۱۱۰
د رمضان روژې د واجبېدلو شرطونه:................................. ۱۱۱
پنځم مبحث: حج او عمره ............................................... ۱۱۹
د حج او عمرې د واجبوالي شرطونه: ................................ ۱۲۰
د احرام مواقیت (ځایونه): .............................................. ۱۲۲
احرام:.................................................................... ۱۲٤
عمره: ..................................................................... ۱۲۸
الحج:..................................................................... ۱۳۲
دریم څپرکی: ............................................................ ۱۳۵
هغه څه چې له معاملاتو سره تړاو لري.............................. ۱۳۵


***

رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# رسالة الحرمين

## د حرمین پیغام

د مسجد الحرام او مسجد نبوي زيارت کونکو لپاره لارښود مواد په ژبو کې